


Downloaded from: www.ketabton.com
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب پېژندنه:

ددې کتاب دچاپ حق خوندي دئ.

دکتاب نوم: د ابراهیم ادهم په پلونو (ناول)
لیکوال : عبدالله الهام جمالزی
خپرندوی: دانش خپرندویه ټولنه _ پېښور
شمېر : زر ټوکه
چاپ کال: ۲۰۰۸ز جون/ ۱۳۸۷ل جوزا
کمپوزر: پخپله لیکوال
ډیزاین: ذبیح الله شفق
انلاین چاري: عبدالله احسان - لراوبر [لوی]
افغانستان http://www.larawbar.com

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لراو بر افغانستان
www.larawbar.com

## لــړلیک:

- ډالۍ
- د سرد خبرو په پلمه:

1. ------------------ خپرکی - د بابا ترکاني
2. ------------------ خپرکی - د روژي میاشت
3. ------------------ خپرکی - د بابا غوسه
4. ------------------ خپرکی - اختر
5. ------------------ خپرکی - د ښځي اوښکي
6. ------------------ خپرکی - اووه ټګان
7. ------------------ خپرکی - د پلار ناروغي
8. ------------------ خپرکی - د قناعت درس
9. ------------------ خپرکی - د آمني راتګ
10. ------------------ خپرکی - له میني د پلار خبرېدا
11. ------------------ خپرکی - پوهنتون ته تګ
12. ------------------ خپرکی - پوهنتون
13. ------------------ خپرکی - آمني ته لیک
14. ------------------ خپرکی - د پلار مرګ
15. ------------------ خپرکی - غم او هیله (وروستۍ برخه)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

16. پـــــــــــــــای

ډالۍ:

خپل ګران مور او پلار ته چې په هر درد مې خوږمن او پـه هـره خوښـۍ مې خوښ دي ټولو هغو اولادونو ته چې د مور او پـلار زړه يـې سـاتلى او روح يې د هغوى په دعاوو ژوند اخلي.

ليکوال

د سرد خبرو په پلمه:

د مينې او ښکلا د سپيڅلي ښتن په پاک نامه:

مالـه کوچينوالـي لـه داسـتان سـره زياتـه مينـه درلـوده د ليکوالـو داستانونه به مې لوستل خوند به مې ترې اخيست. لمړى داستان مې په ملالۍ مجله کې ولوست پلار مې راته مجلې راوړلې او مابـه چې لوستلې هغه ته به يې هم خوند ورکـاوه ، خو زه پوهيدلم هغه بـه را ته دمجلې هره برخه ښوولـه: زويـه داولولـه ... داولولـه ... خـو هيڅکلـه يې راته ونه ويل چې دادستانونه هم ولولـه ، اوخپلـه بـه يـې داسـې پـه مينه مينه لوستل چې تو به.
زه نه غواړم دداستان په اړه درته ډير نيزې خبرې وکـړم ، خودايادو نه کول اړين بولم چې دداسـتان هغـه تعريـف چـې وکـولاى شـي دداسـتان دبېلابېلو قسـمونو اسـتازيتوب وکـړي ګـران کـاردى هـان زما پـه انـد ناشونې خبره ده. خو بيا هم ځينو لويو ليکوالـو پـه ځينـو وختـو نو کـې دداسـتان دځينوقسـمونو لپـاره ځينـې تعريفونـه کـړي دي. مثـلاً جـوزوف شـپيلي (Joseph Shipley) دنـړى دادبـي اصـطلاحاتو پـه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ کې لیکلي: داستان د پېښو د لیږدولو او بیانولو لپاره عامه اصطلاح ده. عموماً په داستاني ادبیاتو کې داستان د دوه متضادو ځواکونو او یوې موخې ترمنځ د کشمکشونو او هڅو دښوولو ټولګه ده.

همدارنګه نور لیکوال هم بیل بیل باورونه لري څوک زیاتونې لري څوک بیا هغه د چاخبره داتعریف هم زیات بولي خو په هرحال دداستان اوریدلو شوق ډیرعجیب دی بیا زموږ په ټولنه کې چې لیک لوست ډیر مروج ندی او هغه د چاخبره لیکلي مو په درد نه لګیږي د شپې به ګرد چاپېره سره کېناستلو دیوچا له خولې به مو داستان ته چرت ونیو: په کور کې یې څه نه درلودل سبا ته له شپانه سره صحراته ووت په لاره کې په چرتونو کې ډوب روان وو چې یوڅه یې سترګې وبرېښولې... هره شېبه بس یو ه تلوسه راسره وه هغه دا چې وروسته څه وشول بیا څه وشول... دداستان ترپایه به ټول آرام ووچا به څه نه ویل په پای کې به مو یاویل چې کاشکي زه دهغه په ځای وای څومره زړور وو یابه موویل چې زه نه غواړم دهغه په شان واوسم...

اوس مهال پښتانه کیسه لیکوال ښې کیسې لیکي ښه تصویرونه باسي او ښه هیجان او ښه منځ پانګه او دکیسې کښښ ښه ساتي مګر زیاتره لیکوال بیاد کیسې پیغام ته څومره پام نه کوي یواځې لکه خپله کومه خاطره چې ننداړې ته ږدي خلک یې لولي ، وخت پرې تیروي مګر په پای کې له ځانه سره وایي:

- ښه نو څه ګټه ؟

دادلیکوال دکیسې په کمزورۍ دلالت کوي. که هرڅومره هغه دچاخبره څو حقیقت ته ورته ، منطقي ، کښښي او ښه انځورګري په کیسه کې وکړي مګر چې په پای کې لوستونکی ووایي چې(نو څه ګټه ؟ ) زما په خیال کیسه په لوستلو نه ارزي او دلوستونکي دو خت ضایع کول دي.

کیسه که هرڅومره هیجان لري ، حقیقت ته ورته وي باید هغو مره له ځانه سره ښه پیغام هم ولیږدوي داسې نه چې بیا یو بل لیکوال قلم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسې راواخلي او لوستونکو ته تشريح وليکي چې پدې کيسه کې دغه پيغام پروت وو.
يوامريکايي کيسه ليکوال ښاغلی رينګ لاردنر ښه کيسه ليکوال دی. خوکومه انځور ګري چې هغه په کيسه کې لري شايد بل ليکوال يې له هغه ښه ولري، کوم هيجان چې هغه په کيسه کې اچوي بل يې له هغه ښه اچوي. خو کله چې پيغام ته رسيږي هر څوک وايي چې دهغه کيسې نوڅکه ښې دي.
داستان، داستان عجيبه کلمه ده، کله کله له ځانه سره تعجب شم، زه چېرته او داستان ليکنه چېرته، خو دنورو داستانونه چې لولم زړه مې غواړي چې زه هم دومره داستانونه وليکم، دومره داستانونه وليکم چې نور مې په زړه آرمان پاتې نشي، خو دا مې هم تل په ياد وي چې ښه داستان له پيغامه ډک داستان له پښتنې مينې ډک داستان.
زه په داستان کې د پيغام پلوی يم، زړه مې غواړي هر داستان مې يو پيغام ولري بې پيغامه داستان راته د وخت تيرول ښکاري او په خلکو يې ظلم او تپل ګڼم، خو تر اوسه په داستان کې لومړني ګامونه پورته کوم، پس تاسې هم را نه د پاخه داستان ليکوال تمه مه کوئ ولې ډير مې زړه غواړي چې د پښتو ژبې لپاره داسې پاخه داستانونه وليکم چې په بله هيڅ ژبه کې کوم ليکوال نه وي ليکلي.
هرڅوک تمه لري چې بهترين شي، زه هم په همدې تمه قلم چلوم، دا څووم داستان دی چې ليکم يې هيله ده چې هسې ستاسې قيمتي وخت پرې ضايع نه کړم، تر پايه يې ولولئ هيله ده خوند او پند ترې دواړه واخلئ او ماته د برياوو دعا وکړئ.
په ډيره مينه او ادب
عبدالله الهام جمالزی
تهران، ايران

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## دبابا ترکاڼي:

زما نوم اسد دی ، خو اوس راته خلک اسد غزني چی وايي ، چې کوچنی وم له پلار سره په کور کې يواځې وم ، مور مې نه په ياد يږي. دغزني په خشک کې اوسېدلو او پلار به په ښار کې ترکاڼي کوله زه به هم ورسره اخته وم ، کله به مې په هغه توره چايجوشه کې چای دم کړ ، کله به مې ورته نسوار راوړل او نور به نو د ميز خوا ته په نرو او نازکو پوټکو کې په لوبو اخته وم ، نه به راسره د سبناري غم وو نه به مې هم د غرمې ډوډۍ ته فکر کاوه او نه به مې هم د ماسخوتن خوراک په ياد وو او نه به هم لکه پلار هسې د پورونو او نورو سرخوږيو کوم فکر راسره وو.

سهار به لمرخاته په دکان کې وو پلار به لنډ کميس او غټ پرتوګ واغوستل او قلم به يې د غوږ شاته کېښود ترښځ او پلونه به يې تيره کړل او کرار کرار به يې کار شروع کړ ما به ستره توره چايجوشه راسره واخيسته او د جومات له کوهي څخه به مې راډکه کړه ، وړاندې به د نغري خواته ورته کېناستم او اور به مې ورته بل کړ ، څو به مې ګيلاسونه پريمينځل د چايجوشې د ځغا وخت به رارسېدلی وو ، رابه غلم خواته به يې کېناستم او يو لرګی به مې راواخيست يوسر به مې يې په غوږ کيښود بل په چايجوش او کرار به مې د اوبو د جوش سندرې ته غوږ ونيو ، کله به تيز شو او کله به کرار کله به هم په پړ کار بدل شو.

سپين خيرن دسترخوان به مې هوار کړ او ډوډۍ به مې پرې کيښوده بوره به مې راوړه لومړی به مې په خپل ګيلاس کې واچوله بيا به مې د بابا په ګيلاس کې هم واچوله بابا ته به مې غږ کړل او دواړو به چای وڅښلو ، چای به چې تمام شو لاړم به چای جوش به مې بيا له اوبو ډکه کړه د نغري خواته به مې کيښوده ، د کتابونو بکس به مې د لرګو له

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځه راوويسته شاته به مې واچاوه پلار به راته ټيټ شو او په تندي به يې ښکل کړم نور به نو آزاد وم مخ په ښوونځي به تللم.
له دکانه به چې ووتلم اډونه به مې سپک شول ، نور به د بابا غږ نه ويرولم.
- اسده زويه منډه نسوار راوړه... لاس مه وهه... پورته اوبه راوړه... متر چيرته دی بيا دپه کومه کړ ؟... هه دا ونيسه.
نور به داغږونه نه وو ، په بيروبار کوڅو کې به ووتلم ، د هزاره ملګرو په اوږو به مې لاس واچاوه او ښوونځي ته به لاړم ، ټوله لاره به مو خندل او چې خدای پا ماني به مو کوله يو بل به مو په مخ په څپيړه وواهه او په خندا به له يوبله ګوښې شوو.
د يوبل نظرونه مو نه وو پکار ، نه مو د يوبل په کارونو کې کاروو ، محمدعلی زموږ د څنګ مارکيټ د يو رخت فروش زوی وو ، چې پلار به د غرمې په خوب ويده شو دواړه به د جومات انګړ ته ننوتلو او توپ بازي به مو شروع کړه خو هغه توپ سم نه شو و هلای هره ورځ به مو جګړه وکړه بيا به رخصت شوو خو سبا به بيا په ښوونځي کې راترغاړې وت او يوبل به موښکل کړ ، هره ورځ به مو له يوبل سره قول کاوه چې بيا به جنګ نه کوو خو چې هغه به توپ له ديواله واړاوه زه به مرور شوم او که به مې پخلا کولو ته راغی ما به ورسره جنجال وکړ.
غرمه به له ښوونځي راغلم ، پلار به غيږه راته خلاصه کړه او په تندي به يې ښکل کړم بکس به مې يې له شاخلاص کړ او په مخامخ ديوال به يې ځوړند کړ بيا به يې په کار شروع وکړه زما به چې د مه جوړه شوه پلار به ديګ ته وکتل بيا به يې ماته سترګې کش کړې موسک به شو.
- بچيه څه درته پاخه کړم ؟
زه خو پوهيدم چې يواځې ددې لپاره وايي چې لاړشم ديګ پريمينځم اوبه راوړم او ګيلاسونه پاک کړم او هغه پيسې راکړي لاړشم سبزي مارکيټ ته بندۍ واخلم يا الوګان. مابه ټنډه ګونځې کړه.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نن يې نه خورو .
پلار به وخندل کار به يې پرېښود او رابه غی مخامخ به راتـه کېناست او لاسونه به مې يې په لاس کې ونيول راته موسک به شو .
- ولې ؟ تـه يې نه خورې کـه دا سې وي نو زه ځانتـه بيسکټ راوړم او پخپله يې خورم.
- نه نه زه يې هم خورم
پلار به وخندل په مخ به يې وټپولم ، بيا به ديګونو تـه ور روان شو او په ديګ کې به يې ګيلاسونه ورټول کړل او له دکانه به ووت د دروازې خواته به چې رسيده زه به ور ووتلم او ديـګ او ګيلاسونه بـه مـې ترې واخيستل ، هغه به راته وکتل او په سر به يې ښکل کړم.
په جومات کې به مې ديګ پرېنمينځه ګيلاسونه به مې پريمينځل خو ګيلاسونه به مې يو يو د ګلونو شاته پټ کړل ځکه هرڅوک به راتللو او په ګيلاس کې به مې يې او به څښلې مابه هغـه بيا پريمينځـه او بيا بـه پکې بـل اوبـه څښـلې. ديګونـه بـه مـې راوړل د نغـري خواتـه بـه مـې کېښودل پلار به د تور او پيوند واسکټ لور ته ور روان شو له جيبه به يې پيسې را وويستلې بيا به يې ماتـه وکتـل زه پوهيـدم چې اوس بيا وايي چې د آيس کريم پيسې مې ګوښې کړې دي مابه هم پـه پټـه خو له ترې پيسې واخيستې او بيا به مې په جيب کې کېښـودې. پـلار بـه پـه ډډو لاسونه ونيول او سترګې به يې راته کش کړې.
- زويه چې څه شی وخورو ښه دي ؟
- هندوانه.
پـلار بـه بيـا وخنـدل او سر بـه يـې وخوځاوه پوهيـدم چې اوس وايـي هندوانه به سبا وخورو او حتماً به يې ويل هم. بيابـه يـې نو يا ښـنډۍ غوښتلې او يا به يې الوګان زه به هم لاړم اول به مې پيـاز ، بانجـان او غوړ وکتل او بيا به مخ په سبزي مارکيټ روانېدلم. په مارکيټ کې به مې د سخي لالا ددکان مخې ته پيره ونيوه او يو زرد آلـو يـا منـه بـه يـې راته ونيوه بيا به يې الوګان وتلل او په کڅوړه کې به يـې راتـه واچـول کله به يې له خلکو پاتې چاغې هندوانې هم راکړې او چاقو به يې راکړ

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل تخت ترشابه يې کېنولم مابه هم په مزه مزه وخوړله بيا به چې راپورته شولم پيسې به مې ورته ونيوې هغه به وګڼلې او د آيس کريم پيسې به يې ګوښې په لاس کې راکړې ، له هغه ځايه به روان شوم د صرافو په مخ کې به د شادي آيس کريم ته ودريدم دهغه به هم چې سترګې راباندې ولګېدې تيار به يې راته برابر کړ چې ور وبه رسيدم په لاس کې به يې راته نيولی وو مابه هم موټی ور وړاندې کړ او پيسې به يې ترې ور واخيستې.

ډوډۍ به مو چې وخوړه پلار به چوکاټ رانږدې کړ او چادر به يې ټول کړ او ترسر به يې لاندې کړ کرار به يې لمر ته سترګه پټه کړه ، زه به لږ شيبه د دکان په مخ کې وګرځېدم نور به لاړم له محمدعلی سره به مې توپ واهه چې آذان به وشو کوزه به مې راسره واخيسته راسره به مې ډکه دکان ته يووړه د دکان په مخ کې به مې کېښوده پلار به راپورته شو کوزې ته به يې وکتل پوهيدم چې اوس پوښتنه کوي چې لاس خو به دې پکې نه وي لګېدلی ؟ ماهم ځواب ته ځان جوړ کړ نه نه.

پلار به لمانځه ته لاړ مابه کارد ستي جوړوله هره ورځ به مې يوه کاردستي جوړوله خو هره ورځ مې ښوونځي ته نه وړه د پنجشنبې په ورځ مو د کارستۍ ساعت وو په ټولو کې به مابښې نمرې وګټلې او چې دکان ته به راورسېدم بابا ته مې ورغږ کړل

- نن يوه هم نه وه کمه

پلار به موسک شو او کار به يې پرېښود

- معلومه به شي.

ټول اوړی به دغه ډول تير شو ژمی به چې ښوونځی رخصت شو نور به نو ټوله ورځ په دکان کې وم سهار به مو لږ شېبه د يخ له لاسه اور بل کړ او ځانونه به مو پرې تاوده کړل کوم پوټکي به چې ايره شوي وو ، هغه به مې نسواري کاکا ته يووړل بيا به مو په نورو لرګيو اور بل کړ چې هغه به مې بيا نسواري کاکا ته نه وړل.

ژمی به مې ستره کورتۍ اغوستې وه ، چې ګرمي به مې وشوه ځنځير به مې يې ښکته کړ پلار به بيا راونيولم ځنځير به يې راته کش کړ په

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ به یې وتپولم.
- یخ دی بچیه زکام به شې.
پلار به تل زکام وو ، سپینه ټوټه به یې لمده په جیب کې پرته وه ، چې غرمه به لمر تود شو نو زه به یې ورسره له څنګه پرې ایستلم.
- زویه کرار څمله دا لمر ګټه لري.
- څه ګټه لري ؟
- کلسیم د زیاتیږي هډوکي د پخیږي.
پلار لوستی نه وو ، خو په هر ډاکټر به یې نیوکه کوله ، ښه مې په یاد دي د کوڅې په سر کې یو ډاکټر وو ډیر آرام سړی وو او هر وخت به یې په بابا پیسې باندې وې ، د دکان په سر یې ډاکتر اکرم درملتون لیکلي وو خو بابا به تبجه باله. یوه ورځ مې مخامخ ورته وویل چې ډیر غوسه شو راغلم پلار ته مې وویل چې ډاکتر تبجه راته په غوسه شو هغه وخندل ویل یې چې تبجه مه ورته وایه تبجه بد نوم دی د هندو زوی ته تبجه وایي.
شپې مې هم په کرار نه وې ، لوښي به هم ما پریمنځل او الوګان هم ما پوچول پلار به یو اځې دیګ وکړ نور به راغی اوږد به وغځېده راډیو به یې چالانه کړه او سترګې به یې ورته پټې کړې. زه به یې هم له څنګه کېناستم ، یو اځې تر دې به معطل وم چې راډیو ډنګ ډنګ وکړي او بیا یو ساز راشي او ووایي: دالندن دی ، دا د بي بي سي د پښتو خپرونه ده چې په لنډو څپو ... کیږي خپریږي.
یوه ورځ پلار راته ویلي وو چې په لندن کې یو غټ ساعت دی چې اویا ټنه وزن لري لوی ثانیه ګر او دقیقه ګر لري له ټول ښاره مالومیږي ماته به د بالاحصار غونډۍ یاده شوه چې په سر یې ستر ساعت وي او بیګ بین ورته وایي او هره شپه چې ا ته بجې شي ډ نګ ډنګ وکړي بیا یو ستر غږ ووایي چې دالندن دی.
چې دا ساز به خپور شو پلار به را ته موسک شو بیا به یې سترګې پټې کړې او چې خبرونه به پای ته ورسیدل نو ماته به یې وکتل.
- حالات ګډ وډ دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پوهیدم چې دا به یې په ما ملنډه وهله ، هغه به راته ویل چې په ماپورې خبرونه څه اړه لري چې غوږ ورته نیسم بیا به یې وخندل او د راډیو ستنه به یې وګرځوله.

عجیبه وخت وو ؟ نه مې د افغانستان خبرونو ته سودا وه او نه هم راسره د فلسطین ، سوډان او فلاني فلاني غم وو ، نه مې د ونډو له ټیټوالي او زیاتوالي سره سودا وه او نه مې هم د فوټبال او والیبال وروستیو خبرونو ته. که پلار به خبرونو ته سترګې پټې کړې او ورته غوږ به شو له ماسره به دا فکر وو چې نن به راته کوم نکل اچوي ؟.

کله به چې واوره اوربدلې وه ، سهار به مو چې چای وڅښلو دواړو به دڅمي جامې واغوستې او بامونو ته به پورته شولو ، بامونه به مو تور کړل ښې ډیرې کیسې به مو وکړې د بامونو په منځ کې به یو ځل رانښکته شوو تاوده به شوو بیا به ور پورته شولو زما پارو کوچنی وو د پلار پاور غټ وو او تور سوی هم وو چې کله به مې پارو واوره ونیوه نو پلار به ویل چې هغه پارو مې غوږ کړی ندی چې غوږ شي بیا واوره پرې نه سرېښیږي.

د سرای واورې ته به چې راورسېدو نو پلار به په توپونو ویشتلم مابه هم ورسره شیلک پیل کړ یوه ورځ د دروازې خواته روان وو توپ مې پسې وویشته چې پسې غږ مې کړل راویې کتل په تندي ولګېده ، راته غوسه شو ، خو چې بېرته رانغوت هیر شوي یې وو راته ویل یې چې نن به دواړه د لنډیو مسابقه کوو چې د چا ډیرې لنډۍ په یاد دي.

په هغه کې یې پسې واخیستم خو په نورو شعرونو کې ماپسې اخیستی وو زما ډیر شعرونه په یاد وو ، حتی د ابراهیم ادهم کیسې مې هم له پلاره ډیرې یاد وې ځکه ما په کتابونو کې هم لوستې خو د پلار یواځې چې هغه یاد وې بس هغه وې نورې نه ورتلې.

بېګامو د شعرونو مسابقه وکړه خو په هغه کې یې پسې واخیستم ما فکرکاوه چې زما ډیر یاد دي خو د پلار لا ډیر یادوو ، بیا یې راته د ابراهیم ادهم نوې کیسه وکړه. چې بیامې په خوب هم لېده عجیبه کټه مټه.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم ادهم په تخت اوږد غځېدلی وو او دخدای ج ثنا یې ویله ، په ښکلي تخت په شاهي تخت ، هلته چې مرغی هم د هغه له اجازې پرته پر نشي وهلی د هغه چا په تخت به پروت وو چې عالم به یې فرمان ته سترګې نیولې وې او څلویښت زرینې تورې او څلویښت زرین ګرزونه به یې ترې شا اومخ ته وړل د هغه د کوټې بام در بیږي. ابراهیم سترګې پرانیزي ، حیرانیږي او له ځانه سره وایي چې دا به نو څه وي ؟ بیا د کوټې چت دربیږي هغه امر کوي چې وګوري څوک دهغه په کوټه له پاسه دربیږي خو ساتونکي یې هیڅ هم نه مومي او راځي وایي چې هیڅ مو نه کړل پېدا ، خو چت بیا دربیږي او ابراهیم پوښتنه کوي.

- هې ! ته څوک یې ؟
- زه یو اوښپه یم ، اوښ مې ورک شوی دی او دلته یې لټوم.

ابراهیم ورته غږ کوي

- اې ناپوهه ! ته په ماڼۍ کې اوښ لټوې ؟

هغه ورته په ځواب کې وایي

- اې بې خبره او ته بیا په زرین تخت خدای مومې ؟

ابراهیم له حیرانۍ په ځای آرام پاتې کیږي. سهار هم چې راویښ شوم له ځان سره وچ حیران وم ډیر ښکلی نکل وو.

دوهم څپرکی

د روژې میاشت:

کور مو په یوه تنګه کوڅه کې د جومات شاته وو ، شاوخوا مو ډیر کورونه وو ، پلار به که هرڅومره ویل چې لاړ شه له ماشومانو سره سات تیره کړه خو زما زړه نه کېده. د پلار غوندې عادت مې اخیستی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ، چوپ او له ډیر بیروباره مې ښه نه راتلل ، یوه ورځ په دکان کې ناست وو ، پلار د یوې کړکۍ چوکاټ جوړاوه ، مابهر اور بل کړی وو ، کرار ورته ناست وم ، لمر هم تود وو خو د اور تودخې راته مزه راکوله ، ډیره شیبه مې چرت نیولی وو ، د پلار د مشترنګ ځنې و ځونې مې اورېده په چوپتیا کې ترې عجبه سندره جوړه شوې وه ، پلار به هم قلم دغوږ شاته ټومبلی وو چې د مشترنګ ځنې و ځونې به بس شو مابه ور وکتل هغه به د غوږ له شا قلم راواخیست او په چوکاټ به یې کش کړ ، یوه ورځ مې ورته وویل

- بابا ! دالرګی ولې داسې کوې ؟

- دا خو ددې لپاره چې دا مخ یې نور استادي شو .

پلار بهر راووت اور ته کېناست ، په پزه یې د یخ له لاسه وړوکی ځاځکی ښکارېده ، لاسونه یې مروړل او په سترګو کې یې اوښکې ښکارېدې په اور یې لرګي ورواچول.

- مبلې دې وکړې.

- یخ د وشو ؟

- هو ولا ډیر یخ دی.

- خو کار مه کوه بیا به یې بله ورځ وکړې.

- نه زویه روژه رانږدې ده بیا په روژه کې ډیر کار نه شم کولی.

- ولې ؟

- خو په روژه کې سړی وږی وي تږی وي ژر ستړی کیږي.

- زه خو نه ستړی کیږم.

- هو ته خو ځوان یې تکړه سړی یې

- بابا !

هغه په اور لاسونه ګرځول او پوکی یې ورته کاوه ، په سترګو کې یې دود ورغلی وو لاړې یې تیرې کړې ویې ویل

- هه زویه

- سږ کال زه هم روژه نیسم.

- نه زویه په تا نه کیږي ته تر اوسه ووړ یې.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نه نه يم ووړ اوس خو غټ ميړه يم.
پلار وخندل ، ډير په زوره يې وخندل.
- ښه ته غټ ميړه يې ؟
- خو ته هره ورځ را ته وايې چې هله هغه کار وکړه سلامت ميړه يې اوس خو.
پلار همانغه راز خندل ، د ګربت اکا دکان ته يې ورغږ کړل.
- ګربت استاده ! هو ! ګربته خبر يې ؟
مايې په خوله لاس ونيوه ، ځکه چې د ګربت اکا يوه لور وه چې هغه ته به يې ډوډۍ راوړه نو چې کله به هغه دکان ته راورسيده نو پلار به راته ويل چې بي بي خو تيره شوه ګربت اکا به هم ويل چې دا هاجره به له خيره اسد ته ودوو.
پلار بيا غږ کړل ، مايې بيا په خوله لاس ونيو ، پلار خندا واخيست.
ګربت اکا له دکانه راووت زموږ د دکان لورته را روان شو د چايو پياله يې په لاس کې وه او له خندا شين وو.
- اسد جان بيا څه د ګلو باغې شنې کړې ؟
ما منډې ته ځان سم کړ ، خو پلار له لاسه ټينګ ونيولم. او په خندا خندا کې يې ګربت اکا ته وويل
- زما زوی وايي چې زه نور نو ميړه شوی يم.
- ښه ښه شيطانه زه اوس پوه شوم ځکه دا څو ورځې داسې چوپ ګرځې ، غواړې واده وکړې هه هه اوس واده غواړې وشرميږه زه چې ځوان وم هيڅ مې په خوله نه راتلل.
پلار له لاسه کلک نيولی وم ، او خندل يې ما پلار ته وکتل ومې ژړل.
پلار وارخطا شو ژر يې غيږې ته نږدې کړم.
- ګوره ګوره ليوني ته په ټوکو هم ژاړې. مه ژاړه ليونيه ټوکې درسره کوو ته په دې هم ژاړې.
بيا خندا واخيست.
- ته خونو ميړه نه يې.
ګربت اکا خو پوهيده چې ما به ژړل بيا له پلار سره خبره نه کېده ،

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګربت اکا هم څه نه ویل کرار د پلار خوا ته ولاړ وو پلار ته یې دوه سترګې نیولې وې لکه چې له پلاره ویرېده. خندا یې هیره شوې وه، له چای یې غړپ وکړ ما ته یې وکتل.

- نه بچی مې ژاړې نه موږ خو تو کې کولې، ورشه بابا ته د چای راوړه زموږ په دکان کې چای تیار وو هله بچی.

ما د پلار له غیږې ځان خوشی کړ، او مخ په دکان مې ورمنډه کړه، پلار ته مې چای راووړ، راغلم ورته مخامخ کېناستم، بیرته روژه را په یاد شوه، پلار ته مې وویل

- ښه ګوره روژه نیسم.

- ښه سمه ده اوس خو ...

ما تیار لاس ورته پورته کړی وو، پلار خوله ونیوله په غیږ کې ونیولم چې ښه یې زړه ته نږدې کړم ګربت اکا ته یې سترګه ووهله.

- ... میره شوی یې.

بیا مې پرې د سوکونو باران جوړ کړ، خو اوس مې ډیر په زوره نه واهه ځکه هر ببګا به یې راته ویل چې دا ځای مې ګوره د تا د سوک له لاسه خوږ یږي دا ځای مې ستا د چیچ له لاسه، نور مې پرې زړه نه کېده. ګربت اکا پوښتنه وکړه.

- ریښتیا روژه کله ده له خیره ؟

- سبا نه بل سبا.

- ریښتیا وایې ولا خدای د خیر کوي زما خو ټول کارونه داسې شاړ پاړ پراته دي.

بس دوه ورځې ورسته پلار سهار له نه کور چای وڅښلو نه یې په دکان کې نه یې ماته وویل چې چای ورته پوخ کړم، په هغې ورځ مې ډیرې زارۍ ورته وکړې چې ماهم پیشنمي ته پورته کړي، خو سهار چې راپاڅېدم نو رڼا وه پلار پیشنمی پټ کړی وو، لږ شیبه مې ورته وژړل، پلار د لمانځه په ځای ناست وو قران کریم یې تلاوت کاوه قران یې قات کړ او راغی له ځایه یې ور وا خیستم او خواته یې ورسره کېنولم نور یې نو خپل قران ویلو زه یې د څنګه په ټول وجود ورته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوړوم ، او سر مې د پلار په زنګانه کېښود او بېرته ویده شوی وم.
بیا مې سترګې پورته کړې پلار لا قران تلاوت کاوه ، له ماسره به دا غم وو چې کله به دکان ته خوځیږو ، خو دا غم به راسره نه وو چې پرون مو کم کار کړی نن به ډیر کار وکړو . نن به فلانی کار کوو خو فلانی به نه کوو .
دکان ته لاړو پلار چې راباندې هرڅو وکړل ما څه نه خوړل ، پلار کرار کرار په کار اخته وو هم روژه هم یخ د پلار غوړونه تک سره شوي وو ، وروسته له غرمې خو یې غږ هم کرار شوی وو ، او تندی یې ګونځې نیولی وو ، ما یې له جیبه پیسې واخیستې لاړم یو بیسکټ مې راوووړ او په میز مې کېښود . پلار یو ځل بیسکټ ته وکتل بیا یې ماته وکتل.
- وخوره اپرین سبا ته د پورته کوم.
- نه دا مې روژه ماتي ته اخیستی دی.
- وړی کېږې زویک مې یې وخت ډیر دی دا وخوره ورشه ځان ته چای هم باندې کړه.
- نه ولې د نه پورته کولم ؟
- ښه په دواړو سترګو سبا ته د پورته کوم نور څه وایې ؟
- نه رینښتیا وایې ؟
- خو مالومه ده چې رینښتیا وایم ته یې اوس وخوره بیا سباته دوه ونیسه ، اوس خو دهم نیمه ونیوله کنه.
ماته خندا راغله ، پلار راته وکتل او د سر په اشاره یې راته وویل
- څنګه ؟
- ته ولې دوه نه نیسې چې یوه نیسې ؟
- نه خو زه خو یوه نیسم غټه او ته وړوکی یې دوه ونیسه وړې وړې.
- نه نه مامه غلطوه زه خو څه ووړ نه یم.
- هو اوس خو کنه غټ...
- ګوره بیا خو یې نه خورم.
- ښه ښه کوچنی میړه ویې خوره.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اوس يې نو ولاکه وخورم.
پلار به راسره په کوڅه کې منډې وهلې ، وخوره وخوره ما به ورته ويل چې نه يې خورم نه يې خورم بس په همدې کې مازيګر شو ، دواړه بازار ته لاړو د خدای زور ميوې او نور شيان مو واخيستل ، پلار به هيڅکله هم دومره پيسې نه مصرفولې نن يې دومره ډيره شيان واخيستل.
کور ته راغلو ، پلار ديګ باندې کړ ، چې پوخ شو نو اودس يې وکړ او دواړه مخ په جومات روان شوو. جومات وچ ډک وو ، چا لمونځونه کول ، چا نفلونه کول او چا تلاوت کاوه او چا سرونه ډولی کړي وو او غلي ناست وو.
زه او پلار د يوې ستنې خواته په لمانځه ودريدو ، ماته لونځ ملاصاحب يوه ورځ راښودلی وو له هغې به ورسته هره ورځ چې راغلم هغه به يو اځې راته موسک شو نور به يې په سترګو را ته اشاره وکړه چې لونځ وکړه. له پلاره سره يوځای ښکته کېدم پورته کېدم ، له پلاره سره مې يوځای سلام واړاوه ، ډيره شيبه ناست وو ، جمع را نه تېره شوې وه ، خو د ماښام جمعې ته نو کېناستو ، د پلار خواته کېناستم هغه قران راوخيست ، ما په پلار ډډه ولګوله ، کرار کرار ويده شوی وم.
عجيب خوب مې ليده ، هماغه د بابا کيسه مې په خوب ليده د ابراهيم ادهم کيسه.
په دښته کې مې ادهم وليده هو ريښتيا په خپله ادهم. چې په دښته کې د خپل سره شوي چرګ د غوښې بوی ته سوچ وړی دی او فکر کوي چې ناڅاپه پرې يو زاغ راښکته شي او ښکار يې پورته کړي ، ادهم هم پسې راپاڅي او په مرغه پسې منډه کړي مرغه له غونډۍ هغه خوا واوړي ادهم هم ورپسې ځغلي او چې د غونډۍ سر ته ورسيږي يو کس ويني چې لاسونه او پښې يې تړلي دي مارغه هماغه ښکار ورته ټوټه ټوټه په خوله کې ورکوي. ادهم هک حيران شي.
ورنږدې شي ، عبدالله سوداګر وي ، د هغه د ټاټوبي مشهور سوداګر

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله سوداګر. چې لاسونه او پښې یې تړل شوي دي ، اد هم حیران دی او ترې پوښتنه کوي

- اې عبدالله ته ولې داسې شوی یې ؟

او پداسې حال کې چې د هغه د لاسونو او پښو په پرانستلو اخته دی هغه ورته وایي:

- اې عادله پاچا !له ګاونډي ملکه مې د مالونو کاروان را روان کړی وو پدې ځای کې یوه ډله غله دي ټول کاروان مې یې بوتلو غوښتل یې ماهم ووژني. ماورته ډېرې زارۍ وکړې چې ما مه وژنۍ او مالونه مې ټول یوسئ هغوی هم پرېښودم خو لاسونه او پښې مې رابا ندې وتړلې او ویې ویل چې که له مارغانواو نورو ځیروونکو پاتې شم نو لمر به مې هم ژوندی پرېنږدي خو دا مارغه د خدای په امر دا یوه اونۍ کېږي چې راته خوراک راوړي په سینه مې یې کېږدي او په خوله کې مې یوه یوه ټوټه راکوي ، له ګرمۍ مې هم داسې ساتي چې لاړشي بڼکې لمدې کاندي بیا راشي په سینه مې کېني او ځان وڅنډي چې ګرمي او تنده مې لیرې شي.

ادهم ورته لیک لیکي چې ته لاړشه زما وزیرانو ته ووایه هغه به داغله ومومي او بیا ورته ووایه چې یوعادل پاچا غوره کړي او د نړۍ ټولو برخو ته عدل وغځوي او ورته ووایه چې نور په ماپسې نه ګرځي. خپلې جامې باسي او هغه کس ته یې وراغوندي او خپله د هغه جامې اغوندي او روانیږي.

چې سترګې مې وغړولې پلار مې سر په زنګانه ایښی وو ، او ځادر یې رابانـدې هوار کړی وو ، پورتـه شوم ډیـر خجالت شوم چې پـه جومات کې ویده شوی وم. پورته شوم لـه پلار سره بهر ووتم نور نو ماښام نږدې وو ، زه لاړم اوداسه ته پلار د جومات په سپاچه کېناسته ، ډیره شېبه هلته ناست وو چې نور نو ملا راووت ، کله به یې سات ته وکتل او کله به یې د غرونو څنډې له نظره تیرې کړې ، ډیره شېبه ولاړ وو موږ هم کرار کرار ننوتلو جومات ته ، څو موږ ننوتلو چې ملا آذان وکړ ، ټولو خلکو روژه ماتوله چا خرما په لاس کې نیولې وه ، چا

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلبۍ خوړلې چا څه خوړل چا څه. زه په پلار پسې روان وم چې هغه د خرما يو کوټی را وايست، پدې کې چا راباندې له شا لاس کېښود ور ومې کتل زموږ ګاونډی وو، دا فارسي زبانان وو ډير ښه خلک وو، خرما يې راته ونيوه، ترې وامې خيسته، څو مې هغه خوړله بل راوارندې شو خرما يې راته ونيوه، صفونو ته مې وکتل پلار په مخې صف کې پاتې شوی زه شاته پاتې شوی وم بس نيت مې وتاړه او په لمانځه ودرېدم.

هغه ورځ د نورو ورځو په شان نه وه، سهار يې هم ښکلی وو، غرمه يې هم ښکلې وه او مازيګر يې هم ښکلی وو، ماښام هم، غرمه خو چوست او چالاک وم، انتظار وو، د ژوند شېبې شېبې يوه يوه را ته قدرمنه وبرېښېده، يوه ورځ مې هم فکر نه وو کړی چې ګوره دا وخت تيرېږي خو په دغه ورځ مې شېبې شېبې شميرلې، څومره خوندوره ورځ وه، په جوماعت کې چې څه خلک وو، زړونه يې له مينې سرشار شوي وو، زړه يې نرې شوی وو، او په خبرو کې ادب زيات شوی وو، دهرچا په خوله ثنا روانه وه، او هرچا په ښه سترګه يو بل ته کتل.

له جوماته راووتو، هما غه ګاونډي له لاسه ور ونيولم، ورته و مې کتل، ځوان وو، ښکلې قواره لوړ سړی، تور ويښتان او ښايسته سترګې يې وې.

- ګوره ګله روژه نيسې؟

- هو.

- پس پلار ته هم ووايه اوس به درته احمد دوی ډوډۍ دروړي تاسې څه شی مه پخوئ.

- نه موږ کچالان پاخه کړي دي، خير يو سې مننه.

ځوان موسک شو، او سر يې وښوراوه.

- پلار پاخه کړي دي؟

- هو.

- نه خير هغه به په پيشنمي وخورئ، موږ چې هرڅه پاخه کړي وو،

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به يې احمد دروړي ښه ؟
- نه خير يو سې.
نور نو روان شو ، ما پلار ته وويل ، پلار څه ونه ويل ، کور ته ننوتلو ، پلار تر شا راته وکتل ، ژر کوه چې زما اعصاب نور کار پريږدي ، چې دا ډوډۍ وخورو او يو نسوار وکړم. احمد هم شوروا راوړه پلار ترې ډيره مننه وکړه او په آخر کې يې ورته ويل:
- ګوره بل وخت دا سې زحمت ونه باسئ.
ما کرار پلار ته وويل
- پريږده پلاره هره ورځ يې راوړي زه او ته خو شوروا نشو پخولئ.
- نه زويه په روژه کې ځان ته پخول ستر غضب وي ته يې بل کور ته هم ورليږه ډيره سخته ده.
چې ډوډۍ مو وخوړه ، پلار راډيو بنده کړه سترګې يې پټې کړې ما ته يې وويل چې يو پنځه شپږ دقيقې چوپ کېنم ، زه هم کرار چوپ کېناستم ، پلار نسوار خولې ته واچول ، ډډه يې ووهله او سترګې يې پټې کړې.
ډيره شېبه مې يې سترګو ته کتل ، هغه خمار پروت وو ، چرت يې نيولی وو ، څه شېبه وروسته يې توفداني ورنږدې کړه او نسوار يې تف کړل ، ما ته نورخوب راته پلار خواته ورنږدې کړم او څه شېبه يې زړه ته نږدې نيولی وم ، راديو ورپه ياد شوه ، څو پلار ښوربده ما په پښه راډيو را نږدې کړه او پلار ته مې ورکړه. پلار يې بيا ستنه ګرځوله چې هغه هميشنی ساز يې پيدا کړ. څه شېبه وروسته يې چيغه کړه:
- دالندن دی ، داد بي بي سي د پښتو خپرونه ده چې په لنډو څپو ... کيږي خپريږي.
بيا هغه زنګ وشو چې ماته به د بالاحصار په سر د بيګ بين ساعت ښکاريده او له هغې وروسته هم خبرونه پيل شول. ما د پلار په سينه سر اېښی وو زړه مې غوښتل د پرون ببګا په خير د ابراهيم ادهم يوه بله کيسه هم راته ولولي. پلار هم په بيړه بيړه لوسته يو ځل به يې زما

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر ګو ته وکتل بیا به موسک شو بیا به یې دوام ورکړ.
ابراهیم ادهم په تخت ، خپه او سوچ وړی ناست دی ، د حکومت کارکوونکي ورته په احترام ولاړ دي او غلامانو لیکه جوړه کړې ده ، ساتونکي هم تیارسۍ ولاړ دي. ناڅاپه یو کس له دروازې را ننوزي او مخ د تخت په خوا وړاندې ورځي. د ساتونکو او غلامانو له ویرې خبره له خولې نه وځي او دغه کس ته هم څه نه وایي. هغه تخت ته ورنږدې کیږي. ادهم ترې پوښتنه کوي.
- هې ! ته څه غواړې ؟
- زه پدې راهرو کې تیریږم.
ابراهیم ورته وایي
- دا راهرو ندی زما ماڼۍ ده ته لیونی یې.
هغه کس ترې پوښتنه کوي.
- دا سرای او ماڼۍ پخوا د چا وو ؟
- زما د پلار
- له هغه وړاندې د چا وو ؟
- د هغه د پلار.
- له هغه وړاندې ؟
- د فلاني.
- له هغه وړاندې ؟
- دفلاني د پلار
سړي وویل:
- پس راهرو دغه ته وایي رباط دغه ته وایي چې یو راشي او بل لاړشي.
سړی دا ووایي او لاړشي ، ابراهیم پسې سترګې اړوي پسې منډې کړې کاشکې چې ویه ویني خو هغه له سترګو پناه شي.
چې هرڅو زارۍ به مې پلار ته وکړې چې یوه بله کیسه یې هم را ته وکړه خو هغه به ویل چې نه بله کیسه یې سبا درته کوم او همداسې به یې سینې ته نږدې کړم او زه به هم خوب یووړم.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سر مې راپورته کړ ، پلار مې سر ته ولاړ وو په مخ يې وټپولم.
- زويه که نر وې اوس يې نو وخوره پيشنمې دې پورته کيږې ؟
کرار کرار راپورته شوم ، پلار په لمانځه ودرېده او زه بهر ووتم مخ او لاسونه مې پريمينځل ، راغلم له پلاره سره په خوا کې کېناستم ، سترګې راباندې پټې پټې کېدې ، خو ځومره مزه يې کوله ، ماته بې وخته خوراک مزه نه راکوله ، خو دانو عجيب خوندور وو ، بس په مزه مزه مې پرې خوله چړپوله او بيا مې پلار ته وکتل پلار له ځانه بړستن تاو کړې وه او د پښو په سر ناست وو ، د کاسې تر آخره ورسره ملګرى وم ، په آخر کې يې کاسه ماته پريښوده.
- وخوره زويه بيا ژر وږى کيږې.
- نه نه خورم
- موړ شوې ؟
- هو
- نه زياته وخوره بيا وږى کيږې.
زه نور شاته شوم ، له پلار سره مې يوه پياله چاى هم وڅښلو او نور نو ځاى ته لاړم ، زما عادت وو لاس به مې په پلار وراچاوه ويده به شوم او سهار به هم چې راپورته شوم که به مې لاس په پلار ونه لګېده نو ژړل مې. خو پدې شپه پلار بيا ويده نه شو. زه ويده شوى وم سهار مې چې سترګې لوڅې کړې پلار پښه رانه لاندې کړې وه سترګو ته مې ځير شو.
- زويک د سهار لمونځ قضاکوې ؟ که پورته کيږي ؟
- پورته کيږم.
- هله شکر ناوخته دى.
لمونځ مې وکړ ، نور نو بيا ورغلم د پلار له څنګه کېناستم او د قران تلاوت ته مې يې غوږ ونيوه ، کرار کرار بيا ورته ويده شوى وم. چې سترګې مې راپورته کړې سر مې په بالښت اېښى وو ، پلار کورتۍ اغوستې وه او تهۍ يې تړلې.
- دکان ته به ځو که يو ځاې لاړ شم ؟

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نه زه هم ځم.
پلار مې کورتۍ راواغوستله ، دستکشونه مې یې راپه لاس کړل ، او جرابې به یې راپه پښو کړې بهر را ووتلو ، په کوڅه کې پلار ته مخ وو زه پسې وم. زما عادت وو چې هر کله به په پلار پسې روان وم نو دهغه په ګامونو به مې پلونه ایښودل خو دهغه ډیر ستر ستر پلو نه وو کله کله به رانه ګډوډ شول.
بېګا به بیا په همدې لاره را روان وو ، خو پلار به ډیر مخکې وو ، زه به کرار کرار پسې را روان وم ، د پلار به هم اعصاب خراب وو ، ډیر حوصله یې نه درلوده ، ما به هم ورته نشوی ویلای چې په شا مې کړه بس په پښو به پسې را روان وم.

د ربیم څپرکی

دبابا غوسه:

روژه به تیرېده ، هره ورځ به په هیله پیلېده ، په هیله به ختمېده ، لمونځ هم خوړ شوی وو ، او د پلار مخ به په کتلو کې سړې آسمانونو ته بېولو ، غرمه به یې د دکان مخې ته پوزی وغوړاوه او دواړه به پرې ویده شوو . مازیګر به مو هم په خوښۍ د کان وتړلو او مخ په کور به روان شوو.
زه به چې نور کله وږی شوم نو یوه شېبه به مې هم طاقت نشو کولای ، خو اوس به مې لدې لوږې خوند اخیست ، مانښام ته به مې شېبې ګڼلې ، چې مازیګر به پلار وویل چې دکان تړو نو له خوښۍ به په جامو کې نه ځاییدم ، پلار به هم په یوه ورځ کې یوه بسته قطعه جوړوله ، پلار به قطعه یا یوه وره یا یوې دروازې او یا یوې کړکۍ ته ویل.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه ښه وو ، لمر هم خوږ لګېده ، له سهاره به مې روژه په یاد وه تر ماښامه ، چې تږی به شوم د اوبو له یاده به مې خوند اخیست چې وږی به شوم نو ماښام به راته نیغ سترګو ته ودرېده ، پلار به هم چې شپېه تیرېده نو آرامېدلو به ، کرار کرار به په خپل کار اخته وو له ځانه سره به یې غنګی وهلې او مابه هم د میز نه په لاندو پوټکو کې سات تیراوه.

روژه چې له لسمې واوښته نو پلار به ډیر غوسه کېده هره ورځ به یې یو جنګ کاوه ، یوه ورځ له پیشنمي پاتې شوي وو ،سهار پلار ډیر غوسه وو ، خو ماته یې څه نه ویل ، ماته یې ویل چې روژه مه نیسه خو ما ورته ویل چې ته یې نیسې زه یې هم نیسم ، پلار په تندي ښکل کړم او ویې ویل:

- نو زه خو نه وږی کیږم ، زه د تا د پاره وایم.

- نه نه وږی کیږم خیر دی ، نیسم یې.

- ښه سمه ده.

نور نو دکان ته راغلو ، خو له سهاره چې څوک د کان ته راتلل پلار ورسره یوه شخړه حتماً کوله ، ډیر یې نور اعصاب خراب وو ، زه هم وږی شوی وم ، ورغلم د پلار لاس مې را ونیوه ساعت ته مې وکتل لا دوه نیمې وې ، راغلم د دکان په دروازه کې کېناستم او لښته مې خوځوله ، پلار وویل:

- لښته مه خوځوه څوک به پرې خوږ کړې.

ما ورته وویل چې څوک نشته چې پرې خوږ شي. ډیره شپېه په کار اخته وو ، بیا یې د بیربار کوڅې او ما لوري ته راوکتل او ویې ویل:

- وهلکه دا لښته مه خوځوه څوک به پرې خوږ کړې.

ما څه ورته نه ویل او لښته مې هماغه راز خوځوله ، ډیره شپېه پس یې بیا راته وکتل ، خو ما باک پرې رانه ووړ ، نور یې خپل کار کاوه. مخ مې پلار ته وو شا مې کوڅې ته وه لښته مې ښوروله چې شاته مې یوچا اخ وکړ شاته مې ور وکتل یو کس سترګو ته لاس نیولی وو لکه چې په سترګه کې یې لګېدلې وه ، پلار رامنډه کړه هغه سړی هم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وډونګېده او له دکانه تېر شو. پلار له مانه لښته واخيسته څو لښتې يې ووهلم ، ډېر خوږ شوم ، پلار په غوسه کې راته ويل چې ځه کور ته لاړ شه. ما ويل نه ځم څو ځله يې راته وويل زه هماغلته ورته ولاړ وم ، له ډېرې غوسې تور ايشېدلی وو راباندې رامنډه يې کړه او څو کلکې کلکې څپېړې يې په مخ ووهلم او له دکانه يې را وايستلم په غوسه کې يې وويل:

- ځه لاړ شه کور ته.

زه سلګيو واخيستم ، په قهرکې کور ته را روان شوم لا درې بجې نه وې چې پلار يې دومره پسې اخيستی وو ، کرار کرار په کوڅه کې را روان وم اوښکې مې پاکولې ، مور را ياده شوه ، کاشکې چې مور مې وای يا مې مشره خور وای چې اوس کور ته ورغلی وای په غېږ کې يې نيولی وای ، اوښکې يې راباندې پاکې کړې وای او په تندي يې ښکل کړی وای بيا مې يې په سر لاس را تير کړی وای او په غېږ کې يې اوږد غځېدلی وای ، ټوله کيسه مې ورته کړې وای او هغې هم راته ويلي وای چې خير دی پلار د روژې پسې اخيستی دی ژاړه مه.

دې خبرې مې ژړا يو په دوه کړه ، د ويالې غاړې ته روان وم هماغه لښته مې لا په لاس کې وه خوځوله مې او اوښکې مې پاکولې ، د کوڅې سر ته چې ورسېدم ، له شانه چا راپسې غږ کړل. د پلار غږ وو ، شاته مې ور وکتل چابک راپسې را روان دی ، زه د ديوال خواته ودرېدم او ژړل مې. پلار رامنډه کړه او په غېږ کې ور ونيولم ، د پښو په سر راته کېناست ، اوښکې مې يې پاکې کړې او زړه ته يې ور نږدې کړم.

- بس ليونيه ژاړه مه ، زما نو درباندې زړه کيږي چې ودې وهم خو تا نن ليونتوب کاوه ... بس ژاړه مه بچک مې يې ژاړه مه.

ما پلار ته وکتل په سترګو کې يې را ته اوښکې راګرځېدې ، ماته نوره ژړا هم راغله لاس مې ترې تاو کړل او بيا مې ورته وژړل ، هغه نور هم زړه ته ورنږدې کړم.

- زما ليونيه ، چې راغلې ، نو له ماسره به څوک په بازار کې ګرځېدل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چا به راته ویل چې بابا کېک واخله بابا جلبۍ واخله. چې ته نه وې ځوک به له لاسه نیسم او په بازار کې به یې ګرځوم.
بیا مې یې مخ ته وکتل کلک کلک یې په تندي مچي کړم روژه یې هم وه خو شایې را واړوله او اشاره یې راته وکړه چې ور په شاشم. بېرته د بازار په لوري روان شو، زه حیران شوم ولې د بازار په لوري؟ اوس خو نور ناوخته دی. څه لاره ورپه شا وم، بیا یې له شا ښکته شوم او لاس مې یې په لاس کې ټینګ ونیوه.
لو مړی سبزي مارکیټ ته لاړو، له لاسه یې ټینګ نیولی وم، په بیروبار کې یې په ځان پسې کش کاږلم، او همدا خبرې یې راته کولې.
- راځه، راځه، زویک جارسم، څه اخلو؟ اوس به نو خرید وکړو، آخر زه نو یوائې کله راتللای شوای، زه خو د ځان لپاره دا څیزونه نه اخلم، دا خو یوائې ستا لپاره دي زما لیونکه.
بیا به یې کڅوړه په لاس را کړه ما به هم چې هرڅه خوښ شوم راټول به مې کړل، دوه مڼې، دوه کیلې، دوه نارنجان هرڅه دوه دوه، بیا به مې کڅوړه پلار ته ونیوله او خپله به مې لاسونه په جیبونو کې واچول، که به مې دستکش نه وو په لاس نو پلار به راته کېناست لا سونه به مې یې په لاسونو کې ونیول او راته کوښ به یې کړل چې ښه به تاوده شول بیا به روان شولو بل د کان ته او همداسې به له سبزي مارکیټه ووتلو او د کور په لور به په بیرو بار کوڅه ورسم شولو، پلار ته به مې بیا زارۍ شروع کړې.
- خیر دی د ابراهیم ادهم یوه کیسه.
- خو هغه د بېګا برخه ده.
- نه هغه د اوس برخه.
- ښه سمه ده.
زه به د پلار په خوا کې روان وم خو فکر به مې په کیسه کې وو یوه یوه صحنه به مې یې له سترګو تېرېده او خوند به مې ترې اخیست.
- ښه سمه ده نو غوږ شه یوه ورځ ابراهیم ادهم د خپلې ماڼۍ په یوه

Downloaded from: www.ketabton.com

ګوښه کې ولاړ وو ، لاندې يې د يو فقير سيل کاوه ، هغه لږه ډوډۍ له جيبه راوايستله او ويې خوړله بيا يې پسې اوبه وڅښلې او کرار يوې خواته وغځېده او ويده شو .
ابراهيم ادهم له ځانه سره وويل : ياخدايه ! چې په دومره لږه ډوډۍ ګذاره کيږي او په دومره لږ او بو تنده ماتيږي او پداسې آسانه ټوله ستړيا ليرې کيږي او آرام خوب راځي پس دا دومره جاه جلال د څه لپاره دی ؟ چې د مرګ په وخت کې له سختۍ او تکليف پرته بله هيڅ ګټه نلري .
پلار به اسويلی وکړ لاس به مې يې په لاس کې تخته کړ او و به يې ويل :
- يا خدايه دا آدميان د ولې دومره وږي پيدا کړي دي ؟ څوک له سهاره تر ماښامه د ګېډې د مړولو لپاره غلاوې کوي ، څوک خلک وژني ، څوک دروغ وايي څوک په يو نا مه په بل نا مه په خلکو ظلم کوي .
بيا موسک شو سر يې وخوځاوه بيا يې وويل .
- ددغه ګټې لپاره څوک دا هرڅه کوي ، څوک په کوچنۍ سويه ظلم کوي د خلکو مالونه خوري څوک په لوړه سويه له يو ملکه ځي د خپلې ګېډې لپاره د نورو حقوق تر پښو لاندې کوي څوک د خپلې ګېډې د مړولو لپاره يو کس په لاره کې دروي پيسې تر اخلي او خوشی کوي يې څوک سلامت ملکونه کوچوي .
بيا به يې ماته وکتل ورځې به يې راته کش کړې او دواړو به وخندل .
ډير عجيب وخت وو ، مينه مو هومره نه وه کمزورې چې په آسانه وشليږي ، کينه مو هم هسې پخه نه وه چې ديوال مو تر منځ پور ته کړي . پلار مور واله هم کوله او پلار تابه يې هم کاوه . د ښکلو خبرو به راباندې ځای نه کېده . خو د بدو خبرو ټپونه هم ژر رغېدل .
نه به مو د بل چا په کار کې لاس وا هه او نه به د بل چا دنيا ، کور او مال ومنال ته غله وو او نه به مو هم په بل چا داسې ګمان کاوه . نه مو د چا بد غوښتل او نه مو په بل چا کې داسې څه ليدل .

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه به هر سهار په ښکلي ګاډي کې بازار ته راتللو نه به مو په ښکلي دفتر کې د بنډل بنډل پیسو سیل کاوه ، نه مو د شاهانه خوراکو تمه درلوده او نه مو هم له دې په زیات څه فکر کاوه خو تر ټولو به مو ږ خوشحاله مالومېدو .

نه به مو د ښکلي قصر د لرلو هیله درلوده او نه به خپل کور له چا را ته کم برېښېده . نه مو بې ځایه هیلې درلودې او نه مو د چاخوا ته لاس په خواست اوږد کړی وو . پلار خو که به هر فکر کاوه خو ما به نه د راتلونکي په اړه سر خوږاوه او نه به هم د بازار د نوو نخچو په فکر کې وم .

عجیبه وخت وو ؟ هغه وخت به مو په یوه ګوله مړی هم قناعت کاوه ، د کور په سپین لوغړن دسترخوان کې ډوډۍ به څومره مزه کوله ؟ د چایو مزه به د ټول غزني په رسټورانونو کې نه پیدا کېده . هغه رقم هم ژوند کېده ، له هغې هم آسانه کېده او لاساده .

له پلار سره به کله مرور کله پخلا وم ، پلار به هم کله غوسه کله خوشحال وو ، کله به یې خندل او کله به یې بیا تندی ګونځی وو . کله به چې په ښه فکر کې وو نو موسکا به یې په خوله خپره وه او که به یې فکر لږ ګډوډ وو نو بیا یې راته په نامه غږ نه کاوه یوازې له څنګه به یې وویل .

- و هلکه څه شوې ...

چا به راته بد بد نه کتل ، د پلار په پورنو مې سر نه خوږاوه او نه پلار تر پور لاندې وو . قناعت مو له ژوندہ لاس چا پیر کړی وو او کله کله به یې د مینې په تندي ښکل کړو .

## څلورم څپرکی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختر:

لس ورځې لا اختر ته پاتې وې ، سهار پلار ویل چې نن به ځو تا ته کالي وګنډو ، دکان مو وتړلو ، ما پلار له لاسه ونیو او د محمد علي دوی دکان ته مې بوتلو ، محمد علي هم د پلار په څنګ کې ناست وو ، د پلار یې هم دهغه په شان پیته پوزه وه ، محمد علي یې له پلار او پلار یې له محمد علي ښه سړی وو ، زما ډیر ملګری وو ، خو کله کله به یې هزارګي خبرې کولې چې نه به پرې پوهیدم خو چې پښتو خبرې به یې کولې له ماهم شرین په پښتو ګړېده. پلار په دکان کې وګرځېده ، ما ته یې غږ کړل.

- اسده زویه کوم رنګ دې خوښ دی ؟

- کوم چې دتا خوښ وي.

محمد علي مې له لاسه خوشی کړ او د پلار خواته ورغلم ، ډیره شېبه په رختونو کې وګرځېدو ، پلار به راته ویل خوښ کړه ما به هغه ته ویل چې خوښ یې کړه آخر پلار وویل:

- لیونیه زه خو یې ځانته نه اخلم خو تاته یې اخلم.

- اول یې ته ځان ته واخله بیا یې زه هم اخلم.

پلار سر وخوځاوه بیا یې پټ راته وویل:

- لیونیه زما خو شته دي تاته یې کړم.

- خو زما هم شته دي ، کابلۍ خاله دوه جوړه راته استولي دي.

- نه هغه او دا فرق کوي زه یې درته کوم ، اختر ته سړی نوي کالي کوي.

- خو ته یې هم وکړه.

پلار سر وخوځاوه ، ډیره شېبه اخته وو بیا یې له لاسه ورکش کړم.

- راشه دادي ما مې ځانته رنګ خوښ کړ اوس یې ته خوښ کړه.

پلار سپین رنګ خوښ کړی وو ، د محمد علي پلار ته یې ویل چې له هماغه یې ورته ګز کړي. نور یې نو زه په دکان کې پرېښودم او خپله د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد علي له پلار سره په خبرو اخته شو ، زه هم راغلم خواته یې ودریدم.
- زه هم همدا رنګ غواړم.
- دا د سپین ږیرو دی لیونیه ته بل رنګ خوښ کړه.
- نه زه غواړم چې د اختر په ورځ مې جامې ستارقم وي.
پلار د محمد علي پلار ته وکتل او ویې خندل ، هغه هم سر وخوځاوه په سر مې یې لاس راتیر کړ او پلار ته یې وکتل.
- خدای دیې درته لوی کړي ، بس سپین رنګ ورته واخله ، نور به نو بیخي پرښته ښکاري.
پلار موسک شو او د سر په اشارې یې وویل چې سمه ده ، زه هم خوشحاله وم ، له دکانه راووتلو ، نور نو په خیاط پسې ګرځېدو ، پلار په چرت کې روان وو ، له لاسه یې نیولی وم ، په لارې کې یې راته وکتل او سر یې وخوځاوه اسویلی یې وکړ او ویې ویل:
- مور د ډیرې ښکلې جامې ګنډلې ، کاشکي چې یوځل هغې درته ګنډلي وای.
- هغه نو خیاطه هم وه ؟
- هو. خیاطي یې ذده وه.
- نه جامې یې د هم راته نه ګنډلی چې ژوندۍ وای.
پلار نور څه ونه ویل ، په بیرو بار کې تیز روان وو زه یې هم له لاسه نیولی وم او په شاوخوا دکانونو کې یې په خیاطۍ پسې سترګې ګرځولې. زما په یوه لوحه سترګې ولګېدې چې پرې لیکلي وو آدم خان خیاطي او ګلدوزي ، پلار مې له لاسه کش کړ ، او په ګوته مې دکان ورته وښود ، د کان ته ورغلو ، څه شېبه د خیاط په انتظار کېناستو ، خیاط راغی له روغبړ ورسته یې لومړی د پلار ناف واخیست بیا یې ماته غږ کړل. پلار یو مخ همدا ټینګار کاوه ، ښکلي یې ورته وګنډه غاړه ورته جوړه کړه. ښه یې ورته ښکلي کړه.
نورنو هره ورځ اختر ته انتظار روو ، پلار ډیر راته وو یل چې ا ختر ته لاړشم کابل ته د کابلۍ خاله کره خو ما ویل نه یابه دواړه ځو یا نه ځم ،

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې شپې همداسې تیرېدې ، ملاهم ختم وکړ ، ټول قران کریم مو ختم کړ. بېګا به کله پلار ویده پریښودم یواځې به تراویح ته لاړ خو چې راویښ به شوم پسې وربه غللم او له ډیرې غوسې به مې یواځې لمونځ کړ. خو چې په تراویح به ودرېدلم عجیب احساس به مې کاوه ، ښکلی احساس ، عجیب آرموونکی ، نورکله به سخت خوب راتللو خو اوس مې هیڅ د خوب او ستړیا احساس نه کاوه ، دجومات فضا ، دملا غږ ، د جومات حال او هوا به بلې دنیا ته یوورم ، هیڅ مې زړه نه غوښتل چې تراویح د تمامې شي ، دګاونډیو کورونو ماشومانو به له تراویح وروسته ساتیری کاوه خو زما له هیڅ سره نه لګېده یواځې دا مې خوښېدل چې په پلار پسې وروسته روان وم او لاړ شو کورته ، کور هم پلار اوږد وغځېږي زه یې په سینه سر کیږدم.

وروستۍ روژه وه زه په دکان کې ناست وم ، پلار کالي واغوستل او خیاطۍ ته لاړ ، زه ډیره شېبه په چرت کې ناست وم ، کاشکې کابل ته تللی وای ، خاله مې لیدلې وای ، آمنه ، زرلښت ، نورزیه او کامران مې لیدلي وای. کابلۍ خاله مې ښه ښځه وه ، یوځای مشره وه ، مشره لورېې زرلښت نومېده ، بیا یې زوی وو کامران بله لورېې آمنه نومېده او کشرۍ لور یې نورزیه نومېده. آمنه زما همزولې هم وه او ټولګي واله مې هم وه.

پلار خوشحاله را روان وو ، کالي یې په لاس کې وو ، راغی خوا ته مې کېناست.

- به به دا به سبا راته واغوندي بډنګ به شي بډنګ.

دکان مو وختي بند کړ ، بازار ته لاړو کلچې ، کیک ، میوې او ډیر څیزونه مو واخیستل خو دنورو خلکو په څیر نه موږ یواځې یوه یوه کیلو واخیستل ځکه یواځې وو که مو ډیر اخیستلای بیا خرابېدل ، کور ته راغلو ، زه ډیر ستړی وم ، کرار په کوټه کې وغځېدم ، د سبا فکر راسره وو ، چې چېرته چېرته لاړشم ؟ څوک څوک ووینم ؟ خو هیڅوک داسې په نظر نه راتلل چې ورشم نه مو په ټول ښار کې خپل درلود. یواځې اکرم او اسلان دوی وو ، خو له هغوی زما او د پلار

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو بدراتلل ډیر کبرجن خلک وو. که به یې کورته ورغلم نو داسې فکر یې کاوه چې خیرات ته ورغلی یم، زامن او لورګانې به یې لیرې رانه ګرځېدل. مشرې لور خو به یې وحشي بللم، ویل یې چې په نجارۍ کې لوی شوی یې ته خدای زده څه بلا یې ؟

زه ویده شوی وم، چې سترګې مې وغړولې پلار کوټه راپاکوله، بهر یې ټول ځایونه پاک کړي وو په مایې ځادر غوړلی وو او لګیا وو کار یې کاوه. زه هم ورسره اخته شوم، ټوله ورځ مو په کله په شوخۍ کله په کار کله په منډو کله په ټوکو تیره کړه. پلار په کوټه کې ولاړ وو چاقو یې راوړ په تیر کې یې یو لوی سوری په چاقو غوڅ کړ ما ته یې ویل.

- بس دا به یادګار وي د وروستۍ روژې وروستۍ شپې.

عجیبه احساس مې کاوه، روژه داسې ژر ژر تیره شوه، کاشکې نوره هم وای څومره راحت وو، د ورځې به لاړو تر بېګا به بنکلي اخته وو نه مو په خوراک کې چرت وو نه مو په اوبو کې یوائینی غم د ماخوستن وو چې درې څلور ډوله خوراکونه به مو جوړ کړل خو بیا به رانه پاتې شول.

ټوله شپه خوب نه راتللو، کله به په ځای کې کېناستم او زړه به غوښتل چې ژر سهار شي او جامې په تن کړم او بهر لاړ شم په ټولو کورونو وګرځم، له همدې سره راسره دا فکر پیدا شو چې لومړی به چېرته ځم ؟ هرڅومره چرت مې وواهه چې له پلاره پرته که چیرته ځم د محمد علي دوی کورته ځم هغه یو څه لیرې وو خو حتماً به ورځم.

پلار ته مې ځان ورنږدې کړ.

- بابا !

- قربان.

- خوب نه راځي.

- نکل غواړې که لږ کیسه.

- نه نکل.

- نه ورکړه د ابراهیم ادهم لنډه کیسه به درته ولولم نور ویده شه.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښه سمه ده.
پلار به کیسه لوسته خو ما په سترګو کتله، تابه ویل چې خپله زه هم له ادهم سره یوځای روان یم، ډیر لذت مې ترې اخیسته.
- غوړ یې؟
- هو.
- ښه نو یوه ورځ ابراهیم ادهم په ښکار پسې روانیږي، کله چې دښتې ته وتلی دی نو یوه هوسۍویني او په هغې پسې دورمي، په لاره کې هوسۍ ورته مخ راګرځولی دی او په خبرو راغلې ده.
- ته به هیڅکله هم ما ښکار نکړای شې، زه راغلې یم چې یوائې تابوځم.
ابراهیم بیا سرخوځوي او ترې راګرځي. بل خوا مخ کوي هم داسې یو حالت ویني یو بل ځه هم د ښکار لپاره تاکي خو هغه هم همدا ټکي ورته وایي. نور نو ابراهیم ادهم وآیي چې زه نور نو بس د پاچایۍ نه یم بس زه دادي له تاسې سره ځم.
پلار به چوپ شو ما به سکوت مات کړ.
- ښه بیا؟
- خو بیا نو ابراهیم ادهم د بلخ تخت خوشی کړاو دخپلو ګناهونو د معاف لپاره یې شپه او ورځ په غرونو کې خدای ته زارۍ کولې او بیا پسې روان شو او مکې ته لاړ.
نور نو کرار کرار ویده شوی وم خو د شپې مې یوځل بیا په خوب ولیده. خو سهار چې راپورته شوم، ځه مې زړه نه غوښتل، پلار راته نوي کالي را واخیستل او دواړو سپین نوي کالي واغوستل، پلار به ماته وکتل او موسک به شو. بس ټوله خوښي مې هلته د هغه په نظر کې پیدا کولای شوه، پلار به چې کله راته لیرې شو او کله مې یې له نږدې د کالیو سیل کاوه بس داسې احساس مې کاوه چې ټولې دنیا مې کالي لیدلي دي، نور به مې تنده ما ته شوه او زړه مې نور ځه نه غوښتل.
خو دواړو په ګډه چای وڅښلو کلچې او کیک مو سره وخوړل. پلار

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم پورته شو ماته يې کالي رانښکاره کړل بيا پورته شو له کوټې نه د يې دواړې کورتۍ رانښکته کړې ، ماته يې هم خپله کورتۍ را واغوستله او خپله يې هم کورتۍ واغوستل . يو دستمال يې ماته را کړ او يو يې په خپل جيب کې واچاوه بيا يې راته وکتل .
- څنګه زويه چېرته د زړه کېږي چې لاړ شو ؟
- چې چېرته ته ځې ؟
- راځه يو ځل به دې د ترور کورته ورشو بيا چې ته هرځای تللې ځو به .
ماورته په خوله څه نه ويل خو له هغې او دهغې له زامنو مې ښه نه راتلل . له کوره ووتلو ، ټوله دنيا نوي بوی ښکلي او عطرين بوی په سر اخيستې وه ، تا به ويل چې هيڅ ځای هم د ښکلو نجونو ا تڼ نشته او د شرابو د کړنګ سندره هم معنويت په ځان کې حل کړې ده .
بهر ډير خلک نه ښکارېدل ، يو يو څوک به مالومېده نوې جامې به يې اغوستې وې او ښکلي بوټونه او ځانونه به يې ډير جوړ کړي وو ، ما د پلار لاس نيولی وو او د پلار خبرو ته غوږ وم .
هغه به تل راته د ابراهيم ادهم کيسې کولې ، چې څرنګه يې ستر تاج او تخت پريښود او څرنګه تر مکې پورې لاړ . پلار به يې هره کيسه په خوند خوند سره کوله .
د ترور دوی کور ته ورورسيدلو ، څلور پنځه موټرو نه يې د دروازې په مخ کې ولاړ وو ، لا سم لمر نه وو تود شوی خو خلک يې بيا اختر مبارکۍ ته رارسېدلي وو ، موږ هم کوټې ته ننوتلو ، ډير خلک ناست وو ، د اسلان پلار هم د کوټې په بل سر کې ناست وو په زوره زوره يې خندل .
زه او پلار کو ټې ته ننوتلو خو هيڅوک هم له ځايه پورته نه شول ، ټولو راسره په لاسو او ناستو روغبړ وکړ . د اسلان پلار هم يو اځې لاس رااوږد کړ او دومره يې وويل
- سلام ستړي مشئ اختر مبارک
نور يې نو بيا ډډه ولګوله ، ما پلار ته وکتل خو پلار آرام د وره خوا ته په يوه توشکه کېناست ، يو کس راغی او چای يې راته واچاوه کلچې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې راته په مخکې کېښودې ، هيڅ له موږ سره خبره نه کوله ، ټول خلک په زوره زوره غږېدل او له يوې او بلې خوا يې سره ويشتې خو د پلار د ترکانۍ په اړه هيڅ هم ونه ويل چې ډير ښه کار دی او ښه ګټه لري ، يا ډير پاک کسب دی او ډير ثواب لري خو د تجارت او قوماندانانو په ستاينه يې خولې ستړې کړې ، ځينو به داسې د زړه له تله وخندل چې تا به ويل ستونی به يې پاره شي خو بيا به يې په سترګو کې له ډيرې خوښۍ اوښکې وځلېدې او ډډه به يې ولګوله.
پلار ډيره شيبه پکې سترګې واړولې راواړولې ، خبرو ته يې غوږ ونيوه خو نور يې نو طاقت ونه شو کرار له ځايه پاڅېده ، ټولو خلکو ورته وکتل خو هيڅوک هم ورته پورته نشول پلار خدای پاماني وکړه خو د اسلان دوی پلار يواځې دومره وويل چې خدای مو مل ، نور يې نو بيا پکول په ځمکه کېښود او ستره خوله يې په خندا خلاصه شوه.
بهر راووتلو ، ماشومانو ماته وکتل نور يې نو خپلې لوبې پيل کړې ، زه ورته هيڅ غوندې ښکارېدم خو په زړه کې مې ويل چې ډير له تاسې زيات ارزښت لرم خو تاسې به نه پو هيږئ که نور هيڅ نه وي په خپل پلار خو ګران يم ، په لارې روان وو ، ما غوښتل له پلاره پوښتنه وکړم چې د ترور په اړه څه فکر کوي ما فکر کاوه چې اوس به يې نو ترې حتماً بد راځي خو هغه ويل چې نه بس هر څوک ځانګړې باور نه لري ښايي هغه به زموږ په اړه بل فکر کوي.
بېرته مخ په کور روان شولو پلار هرڅو راته وويل چې زه د خپلو ټولګيوالو کورته لاړ شم خو ما ويل چې نه نه ځم زړه مې نه غوښتل چې لاړ شم.
کور ته راغلو ، ډيره شيبه له ځانه سره په فکر کې وم ، خو پلار چای ايشولی وو ، خندان کوټې ته راننوت.
- بهبه داسې چای چې نشه لري نشه.
دواړو چای وڅښل ، عجيبه وه په دومره وختونو کې ګاونډيان راغلل هغوی اختر مبارکۍ ته راغلي وو ، ډيره شيبه سره کېناستو خبرې مو وکړې ، ټولو د پلار صفت کاوه ، چا ويل چې ډير بې غرضه سړی دی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا ويل ډير مسلمان سړی دی چا څه ويل چا څه ؟
ما سپښين ډېره شېبه بهر کېناستم ، د دروازې تر مخ مې د ماشومانو د لوبو سيل کاوه ، عجيبه شور او مستي په هغه لوبو کې پرته وي ؟ ډيره خوندوره وي ، ډيره په زړه پورې هم وي.
ورځ همدا سې بېګا کېدله ، زه د دروازې په خوله کې ناست وم او د ژوند ګرمې سندرې ته مې غوږ نيولی وو ، چې په يوه پلمه بله پلمه يې ځانته د خوشحالۍ فرصت ورکاوه ، د اختر په نامه ، هو د اختر په نامه يې کارونه پريښودل او جشنونه يې جوړول څو د ژوند په ستړوونکو بوختياوو کې د لاس او پښو وهلو قدرت ونه بايلي.
په همدې فکر کې وم چې اخترنو د څه لپاره ؟ څوک څوک به ورته ډير خوشالېږي او په چا به له سره اختر نه وي ، که څوک مور ولري هره ورځ به ورته اختر وي ، که څوک ښه دوستان ولري ، ښه کارونه کوي... بس نور ستړی شوم ور پورته شوم له ماشومانو سره مې فوټبال پيل کړ چې يو وخت پلار له دروازې راغږ کړل.
- بس دی زويه ورشه اودس وکړه ځه د لمانځه وخت دی جومات ته به ځو.
لمر ته مې وکتل ريښتيا هم ډير ناوخته وو بس نورنو ننوتم ، چې اودس مې کاوه پوه شوم چې نورنو اختر تير دی او هرڅه بير ته عادي شوي دي نوره نو خندا راغله سر مې وخوځاوه په پلار پسې را ووتم.

## پنځم څپرکی

د ښځې اوښکې:

اختر تير شو ، ډير ژر هير شو ، دريمه څلورمه ورځ مو دکان پرانست

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

، بیرته د ژوند تل تکرارېدونکي سندره پیل شوه ، خو ښي بیرته په ژوند تیت شوه ، خو یوائینی فرق مو چې کړی وو هغه دا وو چې نوې جامې مو نو پیدا کړې وې او چې وابه مې غوستې نو لکه پلار هسې به ښکارېدم چې دغې مسئلې به مې فکر برابراوه.

ژمی به اوږد شو ، هره ورځ به مې پارو په لاس کې وو او شوې واوره به مې توروله ، له ساړه به مې وجود ځیږ وو ، پلار به چې بازار ته لاړ رنګارنګ دستکشونه او کورتۍ به یې راته راوړې خو ماته یې خو ند نه راکاوه ، له واورې به مې زړه تنګ وو ، کور به یوائې وم ، که به دکان ته هم لاړو د یخ له لاسه به طاقت نه راتللو.

سهار به چې دکان ته ورسېدو ، پلار به د اور تېمګی د دکان مخ ته را وایستلو او اور به یې پکې بل کړ ، پلار به یې یوې خواته او زه بلې خواته کېناستلو ، د اور لمبې به کرار کرار جګې شوې پلار به لاسونه وموښل او پورته به شو کار به یې شروع کړ ، مابه هم کله په اور ساتیری کاوه او کله به مې په واورو کې د پټ بازار او د کانونو سیل کاوه.

یوه ورځ د دکان مخې ته له پلار سره ناست وم ، یوې ښځې ماشوم له لاسه نیولی وو او دکان ته راغلل ، پلار ته یې ویل چې یو پایروک راته جوړ کړه ، ما یې زوی ته وکتل غټ سړی وو نو هغه پایروک څه کاوه ؟ پوښتنه مې ترې وکړه.

- پایروک ته غواړې ؟ ته خو نږدې زما همزولی یې ؟

مور یې وخندل او دستکشونه یې لاسه وایستل او بیا یې زوی په تندې ښکل کړ او ماته یې وکتل.

- نه زویه دا ندی بل له ده کوچنی دی هغه ته یې جوړوم.

- ماویل که ده ته یې جوړوې دا خو نږدې زما همزولی دی.

ماشوم ماته وکتل ویې خندل.

- خو زه هم پرې سات تیروم نو څه پروا لري ؟

ماته خندا راغله خو بیا پایروک راته یاد شو ریښتیا هم ډیر ښه څیز وې کاشکي ماته هم پلار جوړ کړی وای او په کور کې مې پرې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتيرى كولاى.
ماشوم ډير ښكلي واړه دستكشونه په لاس كړي وو خو زما پلاستيكي وو زما خوښ نه وو دهغه ډير ښكلي وو ډير زړه مې ورته وشو ماشوم ته مې وويل
- دا دستكشونه دې چېرته اخيستي دي ؟
- مور مې راته جوړ كړي دي.
ماېې مورته وكتل څه مهربانه ښځه وه چې دغه ماشوم ته يې داسې ښكلي دستكشونه جوړ كړي وو هغې ماته وكتل.
- خوښ د شول زويه ؟
- هو .
پلار ته مې وكتل.
- پلاره نن مازيګر به راته حتما دغه دستكشونه اخلې.
- په دواړو سترګو صبر زه يې وګورم.
پلار د ماشوم دستكشونه وكتل او بيا يې ما ته سر وښوراوه. ښځې زما په سر لاس كېښود او ويې ويل.
- زه به يې درته جوړ كړم زويه. ستامور يې نشي جوړولاى ؟
زه حيران شوم ، ومې خندل.
- زما مور كله شته.
ښځې ځان ته ورنږدې كړم ، په سر مې يې لاس راتير كړ او ويې ويل
- ښه سمه ده زه يې درته حتماً جوړوم خو په دې شرط چې بابا دې راته ښكلى پايروك جوړ كړي.
پلار وخندل او زموږ خوا ته يې راوكتل.
- په دواړو سترګو ، خو تاسې زحمت مه باسئ زه يې ورته په بازار كې اخلم.
ښځه او ماشوم روان شول ، نور مازيګر هم وو ، پلار سبزي ماركيټ ته لاړ او زه په دكان كې كېناستلم ، څه شېبه وروسته پلار راورسېده خو دستكشونه يې نه وو راوړي. دكان مو بند كړ او مخ د كور په خوا لاړو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماسخوتن چې خبرونه ختم شول ، پلار راته ویل چې د چا نکل درته واچوم ما ورته وویل چې نکل نه غواړم ، ډیره شېبه یې خواته ناست وم بیا مې ترې پوښتنه وکړه.
- پلاره مور مې څه نومېده ؟
- هوسۍ. خدای د پرې رحم وکړي.
- ښکلې وه ؟
پلار وخندل او خواته یې ورنږدې کړم.
- ښکلې وه ؟ خو یوه ښځه وه ډیره ښه ښځه وه ته پرې ډیر ګران وې ، سهار به چې له خوبه راپاڅېده په غېږ کې به یې ونیولې او شپه به هم چې ویده کېده زړه ته به یې نږدې ونیولې او سترګې به یې پټې شوې.
- ځرنګه وه ؟ کاشکې مالیدلې وای.
- کټه مټه لکه ته هسې وه ، او ستا په شان یې ژر ژړل هم. خدای د پرې رحم وکړي.
د پلار په سترګو کې اوښکې راوګرځېدې ، زه یې خواته ورنږدې کړم او په سر یې ښکل کړم ، ډیره شېبه چوپ وو ، څه یې نه ویل ، زه پورته شوم کتابونه مې راواخیستل او د دیوال خواته په درس ویلو بوخت شوم ، پلار به کله ماته وکتل او کله به په چرت کې لاړ.
هغه شپه مې ترسهاره مور په خوب لیده ، خو سهار چې پاڅېدم مخ مې یې په یاد نه وو چې ځرنګه مخ یې وو ؟ سهار بیا دکان ته لاړو او ورځ هماغه شان تېره شوه ، کله اور ته ناست کله هم د بازار په چیکړ کوڅو کې هغې خواته او د بخواته وځغلېدم.
همداسې به شپه هم تېره شوه بیا به سهار په دکان کې وو ، پلار به کله پیسې اخیستې او کله به یې له سره کار ونه کړ او ټوله ورځ به همداسې تېره شوه.
یوه ورځ بیا هماغه ښځه او ماشوم راغلل ، پلار یې هم پایروک جوړ کړی وو او وړاندې یې په لرګو کې ایښی وو ، چې ښځه مې ولیده ورغلم او پایروک مې راواخیسته ، د ښځې چې په ماسترګې ولګېدې ، نو راغله ځان ته یې ورنږدې کړم او په سر مې یې لاس

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتير کړ او بيا مې سترګو ته ځير شوه.
- واخله زويه د ستکش مې درته واوبدل.
ډير ښکلي وو له خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېدم، په لاس مې کړل له خوښۍ الوتلم، پلار راته وکتل هغه هم خوشحاله شو، او راغی لاسونه مې يې ور ونيول او په خپل مخ پورې يې ومو ښل بيا يې په مخ وټپولم.
- دادي دايې د ستکشان نور څه غواړې؟ واه واه
ښځه هم خوشحاله وه، ماهغه ماشوم ته وکتل هغه حيران را ته کتل. ښځې پلار ته پيسې ور وړاندې کړې خو پلار نه اخيستې هغوی په خپلو کې سره منڼې شروع کړې. ماشوم ماته وکتل او را ته ويې ويل:
- ته رېښتيا مور نه لرې؟
- هو.
ماشوم ډيره شېبه راته وکتل او بيا لاړ د خپلې مور لمن يې ونيوله، زه هم د خپل پلار خواته راغلم او په پوټکو کې مې ورته پرلاتۍ ووهلې، د پلار په پيوند پيوند بوټ مې ساتيری کاوه، هغې ښځې ډيره شېبه راته وکتل بيا يې پلار ته وکتل.
- هغه مو زوی دی؟
- هو
- خدای د يې درته وساتي. رېښتيا مور يې وفات شوې ده؟
- هو خدای د پرې رحم وکړي.
- اوس که وړاندې.
- نه د هغه نه په ياديږي.
- بل څوک لري؟
- نه يو اځې زه او دی تنها اوسيږو.
ښځې بيا ماته وکتل ماد پلار بوټ د هغه له پښې را وايست او بيرته مې ور په پښو کې پورته مې پلار ته وکتل هغه لاس غوټه کړي وو او په سينه يې نيولي وو، په سترګو کې يې اوښکې راوګرځېدې،

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې لومړی پلار ته وکتل بیا یې ماته وکتل راوړاندې شوه په تندي یې ښکل کړم لږ شېبه راته ولاړه وه دهغې هم په سترګو کې اوښکې راوګرځېدې ، پایروک یې په لاس کې واخیست ، ماشوم یې له لاسه ونیو او له دکانه ووتل.

اوس راته د پلار کیسه یاده شي ، هغه راته یوه شپه کیسه کوله ، لومړی به مې دهغه له عارفانه کیسو ښه نه راتلل خو وروسته وروسته مې په زړه کېناستې چې په هغې کې د ابراهیم ادهم کیسې وې ډېرې ښکلې وې.

یوه شپه یې څنګ ته ناست وم ورته ومې ویل چې داسې کیسه راته وکړې چې پلار او زوی دواړه وې پکې هغه موسک شو ویل یې ښه ده نو غوږ شه.

ابراهیم ادهم د بلخ باچا وو ، هغه چې کله تخت پرېښود ، په غرونو او رغونو لاړ ، بس نور یې ځان د خلکو له سترګو پنا کړ. په سختۍ سره یې د شام دښتې کچ کړې او مخ په مکه یې لاره لنډوله.

وایي چې دمکې خلک او مشران چې خبر شول ، ابراهیم ادهم غواړي مکې ته ورشي نو دهغه د ښه راغلاست لپاره له مکې ووتل ، ابراهیم ادهم چې اوس هغه شان ، شوکت اودبدبه ورسره نه وو چا نه شو پېژندلای بې له خپل رعیت نه نو د مکې مشران یې هم د دښتې لور ته د ښه راغلاست په تمه ووتل او ورته انتظار شول.

ابراهیم ادهم چې له لیرې ولیدل نو پوه شو چې کیسه څنګه ده ځان سره یې وپیچه او په بیروبار کې وړاندې تیریده ، د مشرانو په مخ کې یې له یو افسر څخه پوښتنه وکړه.

- تاسې ولې دلته ټول شوي یاست ؟

- د بلخ پاچا ابراهیم ادهم مکې ته راځي.

وایي ابراهیم ادهم وخندل او افسر ته یې وویل

- ښه ښه هغه لیونی یادوې ؟

وایي افسر په مخ په څپېړه وواهه او ورته ویې ویل

- هغه د مځکې په سر له عادلو پاچاهانو څخه یو دی ته وایې چې هغه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیوني. څه ورک شه.

ابراهیم ادهم وخندل او مخ په وړا ندې روان شو او ځان یې مکې ته ورساوه.

وایی کله چې ابراهیم ادهم تاج او تخت پریښود یو زوی یې هم درلود ، چې هغه وخت ډیر کوچنی وو ، زوی یې چې کله غټ شو نو مور ته یې وویل چې پلار مې چیرته دی ؟هغې ورته وویل چې پلار د ورک شوی دی ، زوی یې هر ځای پسې ولټاوه او هرڅوک یې پسې وپوښتل. ترڅو چې یوه ورځ یو چا ورته وویل.

- ما په خپلو سترګو ولید ، زه یې پیژنم په خپله وو.

- چیرته وو ؟

- په مکې کې.

نور یې نو زوی او مور سره د یوې قافلې را روان شول مخ د مکې په لور. زوی یې ډیره تمه درلوده چې خپل پلار ووینې ، مکې ته راورسیدل او یوځای یې سکونت پیل کړ. زوی سباته لاړ حرم ته ترڅو ووینې چې پلار یې رییښتیا شته کنه ؟

ډیره شیبه یې په حرم کې سترګې واړولې ، داسې څوک په نظر ورنغی چې پلار به یې وي ، له یو کس جاروکښ څخه یې پوښتنه وکړه.

- ته ابراهیم ادهم پیژنې ؟

- هو هغه زموږ ملګری دی.

- چیرته دی ؟

- اوس تللی دی په خسو پسې. خس راوړي.

- چیرته تللی دی ؟

- پورې دښتې ته وتلی دی.

هلک پسې روانیږي ، په دښته کې یو بوډا مومي ، چې په ضعیف بدن یې ستر پیټی په شا کړی دی مخ یې لمرو نو سوځولی دی او له ستړیا یې په مخ خولې ښکاري. هلک له شا پسې روان وو سپین ږیری بوډا هم په سختۍ سره ځان تر مکې ورساوه.

زوی یې چې دا صحنه ولیده ډیر یې وژړل بیګا یې مور ته ټوله کیسه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه ، هغې هم ډیر ورسره وژړل سبا ته یې له مور سره یوځای لاړو کله چې حرم ته ور ورسېدل چې د ښځې یې په ابراهیم ادهم سترګې ولګېدې ورمنډه یې کړې او خپل زوی یې له لاسه ونیوه.
مور یې زوی ته وویل.
- زویه دا ستا پلار دی ، دا ستا پلار دی.
زوی هم وژړل او ابراهیم ادهم هم وژړل ، بیا یې له زویه مخ وګرځاوه او لاس یې په دعا خدای ته پورته کړل.
- اې د لویۍ او د کمال خاونده ! ته مې ستا مینه په زړه کې ژوندۍ وساتې د بل چا مینه مې په زړه کې غځېدو ته مه پرېږده.
نور به پلار چوپ شو ، او سترګې به یې پټې کړې ، بیا به یې ما ته وکتل ور نږدې به یې کړم په تندي به یې ښکل کړم او مخامخ به یې راته وکتل.
- ولې دداسې زوی مینه پرېښودل لکه ستا هم آسانه ندي.
زه به هم ورته موسک شوم نور به دواړه چوپ کېناستو.

شپږم څپرکی

اووه ټګان

نور نو به په ژمي کې هم څه نه وو پاتې ، خو زما چې پرې زړه نه کېده چې ختم شي یوا ځې د شپې دښکلو نکلونو په خاطر پلار به د ابراهیم ادهم دنکلونو ترڅنګ نور ښکلي نکلونه هم راته اچول چې له خندا به مې ورته زړه وخوږېده ، یاره د ټولې دنیا له فلمونو به ښکلي وو ، د اووه ټګانو نکل ترا وسه مې هم دومره خوږ فلم په دنیا کې ندی لیدلی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار به پورته شو بستره به يې وغړوله ، زه به يې ځانته ورنږدې کړم ،
سر به مې يې په ځنګل کېښود ، او مخ به مې هغه ته کړ ، هغه به مې
لومړۍ سترګو ته وکتل بيا به مې يې په سر لاس راتير کړ.
کله به چې له پلاره مرور شوم نو پلار به راته يوه کيسه کوله چې له
سره به ترپايه ورته خندېدم ، په هغه کې يوه کلمه ډيره خندوونکې وه
( هله پلاره دود مې کيږي» دا يوه کيسه وه چې يو پلار او يو زوی په
يوه بړستن کې پراته وو ، کله به چې د پلار باد مات شو نو زوی به
چېغه کړې ( هله پلاره دود مې کيږي» . زه به هم پلار ځانته ورنږدې
کړم په تندي به يې ښکل کړم.
- دود دې نه کيږي ؟
بيا به مې وخندل
- نه ، ژر کړه نکل راته اچوې کنه ؟
- د چا نکل غواړې ؟
- د اووتګانو .
پلار به موسک شو په مخ به يې وټپولم او بيا به يې نو راډيو بنده کړه
چراغ به يې بند کړ او له لږې چوپتيا وروسته به يې نکل شروع کړ .
- وونه وو د خدای کړه وو ، د بنده ورته کاته وو . يوه کونډه وه ، يو يې
زوی وو چې خلکو به پک باله او پکان خو تاته معلوم دي چې شوخ
وي.
ما به وخندل او ښه ښه به مې کول د پلار تاوده او خواږه تنفس به مې
په ټول بدن منګول خښه کړې وه او له خولې يې راوتونکې هرې کلمې
زما په زړه کې د تلوسې له اتڼ سره ځان غورځاوه ، چې پلار به لږ ځنډ
وکړ او يا به خوب ورغی نو لاس به مې يې په لاسونو کې تخته کړل ،
هغه به بيا دوام ورکړ.
- کونډه او پک داسې غريبان وو چې مه يې کوه پوښتنه ، په کور کې
يې هيڅ نه درلودل ، عيد په رارسيدو وو نه يې کالي درلودل او نه يې
هم د قربانۍ لپاره څه درلودل کونډه ډيره خپه وه ، چې يوه ورځ د
کونډې ورور ورته يو سپرلی راووست هغه يې کونډې ته ورکړ چې دا

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخله او قرباني يې کړه. کونډې له خپل وروړ څخه ډېره مننه وکړه او چې وروړ يې لاړ نو زوی ته يې وويل چې دا سېرلی بوځه او په بازار کې يې وپلوره چې هرڅومره پيسې يې شوې ټولې ماته راوړه چې تا ته کالي پرې واخلم او د ماشومانو لپاره عيدي. زوی وويل چې سمه ده.
سېرلی يې بازار ته راووست، دکتار دکانونو له مخې تيرېده او سېرلی يې له پړي نيولی وو. لومړي دکاندار ورته غږ کړ.
- اې دا سپی د چېرته له پړي نيولی دی ګوره وبه د خوري !
پک ورته وخندل ويې ويل.
- ناديده ! سپی ندی دا سېرلی دی.
دکاندار بيا وخندل او په لوړ آواز يې وويل.
- ناديده خو ته يې چې تر اوسه لا سپی او سېرلی نه پيژنې.
پک حيران شو، خو څه يې ونه ويل، بل دکاندار ته ور ورسېده، هغه هم په حيرانۍ ورته وکتل او بيا يې وخندل.
- هې ليونيه ! دا سپی د چېرته روان کړی دی ؟ ګوره وبه د خوري ته څومره ناديده يې خوشی يې کړه.
پک ورته وکتل، دا هم لومړني ته ورته وو خو له هغه مشر وو څه يې ورته ونه ويل خو په زړه کې ورسره ويره پيدا شوه چې ښايي رېښتيا هم دا سپی وي. له دغه دکانداره هم تير شو دريم ته وررسيده، هغه تر دې دوه نورو لږ مشر مالومېده هغه هم ورته راغږ کړل.
- هې په دا سپي څه کوې خوشی يې کړه !
- دا سپی نه دی دا سېرلی دی پلورم يې.
- نه دا سېرلی نه دی ته تر اوسه دغه ډول سپي نه پېژنې ؟
هغه سرې سر ورته وخوځاوه او څه يې ورته و نه ويل دکان ته ننوت پک له دې دکانه هم تير شو څلورم دکان ته ورسېده، هغه هم همداسې ورته وويل په همدې قسم له پنځم دکانه هم تير شو او له شپږمه دکانه هم تير شو اووم دکان ته چې ور ورسيده يو سپين ږيری پکې ناست وو، سپين ږيري هم په حيرانۍ سره وکتل.
- زويه دا سپی د ولې له پړي نيولی دی خوشی يې کړه هسې نه وبه دې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داړي ؟
- ريښتيا دا سپي دی ؟
- نو زه درته په سپينه ږيره دروغ وايم ؟
يک سېرلي ژر له پړي خوشې کړ او سپين ږيري يې پړی ونيوه يک ته يې وويل چې زه دا اوس شرم له دې ځايه دا ډېر خطري دی له دې لېرې ګرځه ، يک په منډه منډه کورته راغی ، په لاره کې ورسره چرت پيدا شو چې مور به هره ورځ ورته ويل چې ته د ټګانو بازار ته ځې او غولوي دې. له ځانه سره يې وويل چې ښايي دا يې راسره ټګي کړې وي ؟
کورته چې ورسېده ، مور يې په ډېرې خوښۍ ترې پوښتنه وکړه.
- په څو دخرڅ کړ بچيه ؟
- ولا قيمت يې معلوم نشو معامله ( قرض » يې رانه واخيست.
کونډه سخته غوسه شوه او ويل يې چې ژر لاړ شه پيسې ترې راوړه که نه وي نو بېرته سېرلي راوله خو يک ويل چې نه سبا ورځم پيسې راکوي. مور ډېره غوسه وه ويل يې چې يو زوی لرم هغه هم هرڅوک وغولوي.
سبا ته يک د کوچيانو کېږديو ته لاړ ، ډېره شېبه يې يوې کوچۍ ته زارۍ وکړې چې يو ځل د جامې راکړه هلته يوه جينۍ خواره لوڅه ناسته ده کالي يې نشته بېرته يې درته راوړم ، جينۍ کالي ورکړي دي خو ورته ويلي يې دي چې که دې خيمې ته رانه وړل کورته درپسې درځم. يک د مور غاړکۍ (امېل » او ټيکونه پټ کړل او د کوچۍ جامې يې واغوستې بازار ته ورغی. لومړي دکاندار پوښتنه ترې وکړه.
- څوک يې ؟
- د کوچيانو له کډو پاتې شوې يم يوا ځې يم.
هغه دکاندار ورته وويل چې راځه زه به د راسره کورته بوځم ښځه مې شه. خو يک لدې هم تير شو دوهم دکان ته ورسېده هغه ورته وويل
- زما سره واده وکړه زه به دې ښه ساتم دا د تير دکان واله زما کشر

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروردی ډیر ټګ دی او ښه سړی ندی زه به دې ډیره ښه وساتم.
لدې هم تیر شو هر یو همداسې ورته ویل چې دا د تیر د کان وا له زما کشر ورور دی. بالاخره وروستي دکان ته راورسېده ، په دکان کې هماغه سپین ږیری ناست وو هغه ورته وویل
- نه دا ټول زما زامن دي دا یو هم په واده کولو نه ارزي ټوله ورځ ناست دي ټګي کوي له ماسره واده وکړه د ټولې دارایې مالکه به مې شې ښه به دې هم ساتم.
پک ورته وویل چې سمه ده ، په دکان کې لږ ساعت ورسره ناست وو مخ ته یې پلو نیولی وو سپین ږیري یې زامن راټول کړل او ورته ویې ویل
- زامنو دا پېغله به ستاسې مور جوړیږي ښه به یې ساتئ
ټولو زامنو په یو غږ ورته وویل چې سمه ده ، هر زوی ور ته یوه یوه تحفه واخیسته ، ټول کورته راغلل سپین ږیري کور پک ته وویل چې اوس به د زامنو په مخ کې نکاح وتړو. پک ورته وویل چې ولې یواځې دزامنو په وړاندې سپین ږیري ورته وویل چې موږ نور دوستان نه لرو. شپه یې نکاح ولوستل شوه ، د شپې سپین ږیري ورته وویل چې له ماسره به په یوه بستره کې بیدیږې پک ورته وویل چې زموږ رواج دی تر درې ورځو پورې له خاوند سره نه بیدیږو. سپین ږیري ورسره ومنله ، سبا ته یې زامن ټول بازار ته لاړل ، پک ځان خپه نیولی وو ، سپین ږیري به چې هرڅو مره ترې پو ښتنه وکړه پک به ورته ځواب نه وایه. تر دوه ورځو پورې ترې مرور وو ، په دریمه ورځ چې یې زامن له کوره ووتل سپین ږیري ورته وویل چې ولې خپه یې ؟
پک ورته وویل چې خپه په دې یم چې زه څرنګه د کور میرمن یم چې نه مې کور لیدلی نه یې په کوټو او دروازو بلده یم ؟ سپین ږیري ور ته وویل چې راځه زه اوس درته ټولې کوټې ښایم او ټولې کلي ګانې درکوم. پک خوشحاله شو ورسره پورته شو ، د ټولو کوټو کلي ګانې یې ورکړې او د ټولو صندقونو کلي ګانې یې هم ورته وښودلې. خو یوه کوټه یې ورته ونه ښودله. پک په ژړا شو ویې ویل چې دا کوټه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې راته نه ښايې زه خو ددې کور ميرمن يم.
سپين ږيري دهغه کوټې دراوزه ورته خلاصه کړه ، پټ يې ورته وويل چې دا کوټه چاته مه خلاصوه ځکه دا پټه کوټه ده. پک ترې پوښتنه وکړه چې ولې پټه ده ؟ سپين ږيري ورته وويل چې په دې کوټه کې دار دی. پک ورته وويل چې دار څه شی وي ؟ هغه ورته وويل چې دا پرى دسړي په غاړه کې وراچوو او وژنو يې. پک ورته وويل چې دا خو ډير ښه دی که کورته کومه د ښو زيوراتو والا ښځه راتلله زه به يې دلته ځړوم او ټول زيورات به يې تاته درکوم. سپين ږيرى خوشاله شو او پک ته يې آپرين وويل. پک بيا ترې پوښتنه وکړه چې څرنګه سړى څوک پرې ځوړندوي ؟ سپين ږيري پړى په غاړه کې وا چاوه او ورته ويې ويل چې کله د سړي په غاړه کې داسې پړى وراچوې بيا به هغه پړي داسې راکاږې. پک د پړي سر ونيوه او راکش يې کړ سپين ږيرى پورته شو او په چيغو يې شروع وکړه. پک له سره ټيکرى وغورځاوه او ورته ويې ويل
- هه هه سپرلې ښتن درلود کنه ؟
داسې يې وډباوه چې پوښتنه يې مه کوه ، بيا لاړ او د صندقونو ټولې پيسې او طلاوې يې راټولې کړې او کورته لاړ. کورته چې ورسېده مور يې ترې پوښتنه وکړه چې پيسې يې درکړې ؟ کنه ؟ پک ورته وويل
- هو دريمه برخه يې راکړې ويل يې چې پاتې به بيا ګورو.
پيسې يې ټولې مورته ورکړې ، مور له خوشحالۍ پورته پورته کېده ويل يې چې غلط شوى به وي خو پک ويل چې نه هغه سپرلى داسې سپرلى نه وو هغه ډير قيمت لري.
ټکان چې بېګا کورته راغلل ، چې د دار په کوټه کې يې د پلار د ځګيروي غږ لګيږي ټول حيران شول ، ورغلل که ګوري چې پلار يې په دار ځوړند دی ، پوښتنه يې ترې وکړه چې ولې ؟ سپين ږيري ورته ويل چې هغه کوچۍ نه وه د سپرلې ښتن وو د سپرلې !. ټول حيران شول او يو بل ته يې وکتل ټولو ويل چې پيدا کوي به يې او داسې به

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې وهي چې څه یې کوي. خو پلار ویل چې اوس داخبرې پر یږدې ورشئ ډاکټر راته راولی چې مرم.
پلار به چوپ شو ، لږ شیبه به ما هم غوږ نیولی وو چې دوام به ورکړي خو لکه چې ویده غوندې به وو بیا به مې له خوبه ویښ وکړ.
- بیا څنګه وشول ؟
پلار به بېرته ویښ شو او سره سم به شو
- هه په کوم ځای کې وو ؟
- په ډاکټر پسې ګرځېده.
- هه ښه ، نو یک هم ولاړ یو زیارت ته د زیارت مینجور ته یې وویل چې ته د یوائې د څو شیبو لپاره دا جامې او جام راکړه داپورې رمه زما ده دهغه ځایه یکې ځم بېرته په منډه راځم ملنګ هم چې څو پیسې ترې واخیستې نو جامې یې ورکړې ، یک جامې واغوستې او جام یې ورسره راواخیست نیغ راغی د ټګانو د کور خواته چې کشری ټګ یې ولید چې له کوره ووت نو په یوه لاره ورته راوګرځېده او له لیرې یې غږ پرې وکړ
- هول ! هو ځوانه چېر ته داسې تیز روان یې ؟ ټول مشکلات خدای حلوي که یوائې د دپلار غم درسره دی مه وارخطا کیږه خدای به یې جوړ کړي زه درسره قول کوم
ټګ هک حیران شو چې دا څرنګه ښه ملنګ دی علم غیب هم لري راغی د ملنګ لاسونه یې ښکل کړل او ورته ویې ویل چې یوځل مې پلار وويني ګوندې وي چې خدای یې ښه کړي یک ورسره ومنله او ورسره روان شو ، چې کورته ورسیدل نو پلار یې په کټ کې اوږد غځېدلی وو او ځګیروي یې ختل ، یک چې ورته ودرېده نو سر یې وښوراوه او خواشیني یې څرګنده کړه. په کومو ځایونو چې یې وهلی وو په هغه ځای به یې لاس کیښود بیا به یې ورته وویل
- دا ځای د درد کوي ؟
سپین ږیري به ویل هو هو همدا ځای دی ، ټول زامن خوشحاله وو چې داسې ملنګ یې راوستی د درد ځایونه هم ورته معلوم دي. چې شپه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه زامنو ته يې وويل چې ما ته د اوداسه اوبه راوړئ نور تاسې لاړ شئ چې سهار راشئ نو پلار به مو داسې رک روغ وي چې د کان ته به هم درسره لاړ شي ، ټول ټګان په خوشحالۍ سره ووتل ، چې نيمه شپه شوه ، پک سوټي پرې راوګرځاوه ښه ورته ځير شو بيا يې پوښتنه ترې وکړه.

- نامرده ! سبرلې څښتن درلود کنه ؟

داسې يې وډباوه چې نور له اخه توخه وغورځېده او څه شتمني يې چې ورسره وه ترې راټوله يې کړه او مخ په کور لاړ. کور يې مورته ويل چې د پور بله برخه هم راوختله خو ډيره پاتې ده هغه ته ځو ورځې وروسته ورځم که خير وو.

بله ورځ په چل کې ورغی د شاوخوا کورنو له خلکو يې وپوښتل چې ټګان څه شوي دي ؟ هغوی ورته ويلي دي چې لدې ځايه يې يو ليرې ځای ته کډه کړې ده. خو دې خلکو ته يې ځای نه وو معلوم په بازار کې له يو دکانداره پوښتنه کړې ده چې ټګان چېرته تللي دي ؟ په مايې يو څه پيسې وې د خورانو کور يې نه وو. يو دکاندار ورته وويل چې هغه له يو پکه ډير وريريدلي دي فلاني غره ته تللي دي هلته اوسي. پک پسې روان شوی دی. د ټګانو خيمو ته چې ورسيدلی دی ، ښکته يو کوچی مالونه پيايي د کوچي سره د يو کمر په سر ناست دی. کوچي ته وايي

- ياره کوچيان سخت بې غيرته دي ، ډير ژر ويريږي.

- نه دا دروغ ده کوچيان له هيڅ څه نه ويريږي.

- خو دا خو ته وايې چې نه ويريږي ، هغه بله ورځ يو کوچی وو ما ورته وويل چې ورشه هغه کسانو ته يو اځې يوه چيغه ور وکړه ، ورچيغې يې نه شو کړای.

- نه دا به څوک وو کوچيان له هيڅ څه نه ويريږي ، دا تاسې ځايان ياست چې ويريږئ.

ډيره شيبه يې کوچئ باټ کړ چې هرڅو به يې ورته ويل کوچی به چارجېده آخر يې ورته وويل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خو ښه که ریښتیا وایې او ریښتیا نه ویر ېږې نو که نر وې د هغه خیمې خواته ورشه له نږدې یوه چیغه ور وکړه.
- دا خو څه سخته خبره نده ، څه ورته ووایم ؟
- فقط دومره ورته ووایه چې: سېرلې ځښتن درلود کنه ؟
پک د کمر په سر ورته کېناست ، کوچی کیږدۍ ته ښه نږدې ورغی ورچیغه یې کړه
- سېرلې ځښتن درلود کنه ؟
لدې سره شپږ واړو ټګانو پسې رامنډه کړه سوټي یې په لاسونو کې وو او په کوچي پسې یې منډې وهلې کوچي هم د ډاره تري منډې وهلې. پک راغی د سپین ږیري تخت ته ودر ېده ، سپین ږیری ورته په ژړا شو ویې ویل چې ما ګوره ټول دکانونه او شته پلورلي دي هغه پیسې مې دادي تر کټ لاندې مه یې اخله. خو پک ښه وډباوه او پیسې یې تري راټولې کړې له هغه ځایه راښکته شو د کوچي رمه یې ورسره تر مخ کړه ، څه اشرفۍ یې په لمن کې نیولې او نورې یې په خره بار کړې ، یو ځای یې په رمه لېوه ورګډ شو ، پک ورغی له لکۍ یې ټینګ ونیو ، چې لیوه به له یوې خوا ورته خوله رادیخوا کړه پک به یې لکۍ ورهغې خواته کړه که دې بلې خواته به یې کړه پک به یې هم لکۍ ورهغې خواته کړه ، همداسې اخته وو چې یو ملک راغی له خپلې لور سره په اس سپور وو آس یې ودراوه او د پک په تماشه بوخت شو ورته ویې خندل او ویې ویل
- دا څه کوې ؟
- ښنګه څه کوم ، ته څه کوې ؟
- دا څه لیونتوب دی وبه دخوري ؟
- نو ته نه وینې چې اشرفۍ تویوي که ومې هم خوري نو څه پروا لري بیا دا دخوړلو والاندی په لمن کې مې اشرفۍ نه ګورې دا لیوه اشرفۍ تویوي.
ملک ورته حیران شو ویل یې چې نیم ساعت یې ماته راکوې ؟ پک ورته وویل چې نه یواځې پنځه دقیقې یې درکولای شم ځکه چې زه هم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډير غريب يم. ملک ورغی پک ورته د ليوه لکۍ ورکړه او ورته ويې
ويل چې ډيره ټينګه يې ونيسه که د خوشې کړه نو اشرفۍ نه تو يوي.
پک راغی په اس له پيغلې سره سپور شو که ګوري چې ليوه په ملک
مخ وروګرځاوه ويې خوړلو ، پک اس ، جينۍ رمه او پيسې را بار
کړل او راغی کورته.
مور يې ترې پوښتنه وکړه
- زويه پور در وختلو ؟
- هو مورې دا پيسې او رمه او اس يې راکړل چې پوره نشوه نو دا لور
يې هم راته واده کړه نور نو خلاص په خلاص شو .
نور به نو پلار هم کيسه پرېښوده ، ماته به هم خوب راغی او کرار به
يې له څنګه اوړېد وغځېدلم او کله به له پلاره مخکې ويده شوم کله به
مې لړ شېبه د پلار سا ايستلو ته غوږ ونيوه او زه به هم ورسره ويده
شوی وم.

اووم څپرکی

د پلار ناروغي

بس نو څو اوړي او څو ژمي همداسې تيرېدل ، اوړی به له پلار سره په
دکان کې هم اخته وم او ښوونځي ته به هم تللم ، ژمی به هم عادي او
بې شوره تيريده هره شپه به نکل وو او هره شپه به يوه نوې کيسه. خو
څه شی چې راته عجيب وو داوو چې څومره لويېدم نو مسئوليتونه به
مې زياتېدل څومره به چې لويېدم نو په هغومره اندازه به مې د
مسئوليت احساس هم زياتېده ، هره ورځ به په دې فکر کې وم چې
خدايه ! کوچنی چې وم څومره مې قدر زيات وو ، څومره مې سات

Downloaded from: www.ketabton.com

تیر وو .
په دې دوه کلونو کې غیر له کابلۍ خاله نه ځوک په موږ ونه ګرځېدل یوازې کابلۍ خاله او له هر چا مې پکې زیا ته آمنه ویاده شوه ، هغه ښه نجلۍ وه له ماسره یې ډیره جوړه وه ، هغه نورو به راپورې خندل خو هغې هیڅکله هم راپورې نه خندل ، هغه به یې خپل پلار او مور نابغه بلله ، خو بیا یې هم کبر له زرلښت او نورزیې کم وو .
پلار کرار کرار کمزوری کېدو ، زما هم ښوونځی نور نږدې کېدو ، ورځ په ورځ ژوند نوې ښه خپلوله ، هرڅه به د یوې ورځ په نسبت بلې ته راته بدل ښکارېدل ، نور هغه لرګي راته د لوبو سامان نه ښکارېده ، نوربه په پټوکو کې نه رغړیدلم او نور مې د چای جوشې سندرې نه اورېدې یا به مې زړه غوښتل وایې ورم خو وخت به نه وو .
یوه ورځ له ښوونځي راغلم ، پلار په دکان کې پروت وو ، ګېډې ته یې لاس نیولی وو او زیګروی یې کاوه ، ډیر وارخطا شوم ، زړه مې غوښتل په زوره زوره ورته چیغې کړم او ورته ووایم چې تر اوسه به تاته په بازار کې بې له ماګرځېدل بې مزې وو اوس نو ته هم پورته شه له لاسه مې ونیسه او په بازار کې مې وګرځوه ، په سترګو کې مې اوښکې وګرځېدې خو پلار له لاسه ور ونیولم او موسک شو .
- لیونکه ، دا که خدای مه کړه زه درته سخت ناروغ شم چې ته به څه لیونتوب کوې ؟ خیر خیریت دی پورته مې کړه او کرار کرار دکان بند کړه نن به وختي کور ته لاړ شو .
- نه ډاکتر ته ځو .
- نه نه ماته خپله ناروغي مالومه ده د ډاکتر خبره نده ځه کورته.
ډیر مې ورسره تاو کړل خو پلار ټینګار کاوه چې ځو به کور ته ، کور ته ور سره روان شوم ، په لارې کرار کرار روان وو ، زه هیڅ نه پوهیدم چې څرنګه ورسره وکړم ، کا شکې را په شا شوی وای. لدې سره به هغه وختونه راپه یاد شول ، چې هغه ته به ورپه شا وم او له غاړې به مې یې لاس تاو کړي وو کله به یې په اوږو کېنولی وم او ما به یې په سر کلک لای نیولي وو ، کله به مې پښې پرې وښورولې او هغه به

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې هم پښوته لاس راووړ او وبه یې چیچلم.
پلار راته کتل.
- په څه چرتونو کې یې ؟ وهلکه ماویل دکان دې بند کړ کنه ؟
- هه ؟ هو... هو زما فکر نه وو.
له هماغې کوڅې تیریدو چې یوه ورځ له پلاره مرور شوی وم او کور ته پرې تللم، پلار له وروسته راپسې غږ کړ او بیا چې راورسېد نو په غیږ کې یې ونیولم او راته ویې ویل.
- زما لیونیه، چې راغلې، نو له ماسره به ځوک په بازار کې ګرځېدل او چا به راته ویل چې بابا کېک واخله بابا جلبۍ واخله. چې ته نه وې ځوک به له لاسه نیسم او په بازار کې به یې ګرځوم.
بیا مې د پلار څیرې ته وکتل اوس ډیر ضعیف شوی وو په مخ کې یې ګونځې غځېدلې وې او غږ یې هم ریږدېده، ښکلې سترګې یې پکې لوېدلې وې او غاښونه یې هم نور یویو ښکارېده، همداسې یې څېرې ته ځیر وم چې پلار راته سر وخوځاوه.
- څه دي ؟ بچک ؟
- څه نه هسې پلاره ماویل ګوره دا ناروغي به د ډاکټر وي ؟
- نه نه درځه سرپسې مه ګرځوه ستا درسونه څرنګه وو ؟
- ښه وو ډیر ښه وو.
- ښه شکر دی سږ به بیا دوهمه نمره ټینګه کړې او که له خیره او لې ته دې په نیت کې دي ؟
- نه اوله خو د هزاره وو ده ډیر کوښښ دي، ښې حافظې هم لري همدا دوهمه مې که ټینګه کړه ښه به وي.
کور ته ورسېدو، پلار په کوټه کې اوږد وغځېده، له ستړیا او درده یې اوږد اسویلی وکړ ماته به هغه وخت رایاد شو چې دواړه به راغلو زه په کوټه کې ویده شوی وم پلار به دیګ کاوه یا به یې کار کاوه زه به چې را ویښ شوم نو خپل څادر به یې راباندې هوار کړی وو، د مچې لوندوالی به مې یې لا په تندي حس کاوه سترګې به مې وموښلې او بهر به ورته راووتم، خو اوس نو ضعیف وو یواځې به یې ماته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې نيولې وې او لکه د هغه هم چې کار زړه غواړي نو هرڅه ته به يې سترګو کتل او د کار تمه به يې کوله.
ماخوستن يې ډيره شېبه له سر سره ناست وم ، زړه مې غوښتل چې دهغه په خير ډيرې کيسې ورته وکړم ، د ابراهيم ادهم ، د اووه تګا نو نورې بېلابېلې ، زړه مې غوښتل د هغه په څير يې سر په خپله سينه کېږدم او چې ښه ويده شو نرم يې له سينې ښکته کړم څادر پرې وغوړم او له څنګه يې ويده شم بيا يې سهار هم پخپله پورته کړم.
چې شېبه تېرېدله د پلار وضعيت خرابېده ، زه هم وارخطا کېدم ، پلار يو اځې دا نارې وهلې چې زه وارخطا نشم ، بس تل يې ډاډګيرنه راکوله خو ما دوه سترګې په هغه کې ګنډلې وې او زړه مې ورته سوځېده ، چې شېبه تيرېده تبه يې زياتېده او الهګويي يې کوله.
لږ شېبه مې يې په تندي سړې سړې ټوټې ايښودې بيا يې پورته راته وکتل ، زما هم نوره ورته ژړا نه درېده ښه مې ورته وژړل او په تندي مې ښکل کړ ، هغه ورو ځې سره کش کړې او لاړې يې تبرې کړې په لړزېدلي غږ يې وويل.
- زويه له څراغه مې ښه نه راځي ، ټپ ټپ کوي.
- خو تياره ده.
- پورته شمې بلې کړه.
زه هم پورته شوم شمې مې بلې کړې ، خو د شمو رڼا هم همداسې ټپ ټپ کېدله لکه د څراغ ډيره شېبه پلار شمو ته وکتل او بيا يې اوښکې پاکې کړې ، زه يې ورنږدې کړم او نور نو کرار کرار راته په خبرو لګيا شو.
- زويه دا شمې وينې ؟
- هو پلاره وينم يې.
- ګوره چې دا مواد به لومړی له کومه شوي وي ؟ بيا به چېر ته وړل شوي وي ؟ بيا به څرنګه سره تيپل شوي وي بيا به څرنګه ترې شمې جوړې شوې وي ؟ او بيا به په څومره لاسونو ګرځېدلې وي او بيا به ستا لاسونو ته در رسېدلې وي ؟ او تا هم دادي پرې اور بل کړ رڼا يې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه ، تمامه به شي بیا به بله راواخلې روښانه به یې کړي او هغه به درته رڼا کوي ، هغه چې ختمه شي بله به راواخلې او بله به یې کړي رڼا به کوي خو د هغه نورو به کوم اثر هم پاتې نه وي ، بیرته به هغه لومړني مواد هم ترې نه وي پاتې ، یوائې لږ ځای به غوړ کړي او هغه به هم ډیر ژر پاک شي او نښې به یې له منځه لاړې شي.
پلار به بیا دمه وکړه ، ماته به یې وکتل بیا به یې کتار شمې له نظره تیرې کړې ، بیا به یې غاړه تازه کړه او دوام به یې ورکړ.
- موږ هم کټ مټ لکه دغه شمې هسې یو ، یوه ورځ د آدم شمه هم بله وه ، د حوا ، د نوح ، د ابراهیم ، د موسی ، عیسی ، محمد او ستاد ابراهیم ادهم ، خو هغه اوس ټول خاورې دي رڼا یې کړې او بیرته یې شمه خاموش شوې ده ، زه هم ژوندی وم ، ډیرې هسکې ټیټې مې ولېدلې ، خوږې ترخې ، مینه ، کرکه ، ظلم ، زاری ښه بد خو یوه ورځ به مې شمه مړه شي ، بیا به ستا نوبت وي ، ستا شمه هم همداسې یوه ورځ بله شوې ده وړوکی وې لوی به شې خواږه به ووینې ، سختۍ به ووینې ظلم به ووینې او همداسې به یوه ورځ له دې دنیا سترګې پټوې ، دا شمې کمې ندي بله شمه هم بله ده ډیرې شمې بلې دي ځوک ...
د پلار خبره به کله کله ډب شوه ، زما هم له سترګو اوښکو لارې جوړې کړې وې ، پلار ته مې دوه سترګې نیولې وې او هرې خبرې ته یې د زړه په غوږونو غوږ وم. ډیره شېبه چوپتیا خپره وه ، پلار به کله ډیره شېبه سترګې پټې ونیوې او کله به یې ماته کتل ، بیا به یې سترګې وغړولې او موسک به شو.
- ښه نو لدې څه ذده کوې ؟
زما به ستونی کنګل وو ، څه مې له خولې نه وتل ډیره شېبه وروسته مې ځواب ورکړ.
- هو لدې دا ذده کوم چې موږهم لکه شمې یو ، یوه ورځ به مو رڼا خاموشه وي او ځوک به مو رڼا ته په اوربل کې ګلونه نه سموي ، ځوک به مو رڼا ته تلاوت نه کوي ځوک به مو رڼا ته سوچونه نه وهي او وروسته له ډیرو کړو وړو رڼا ګانو ، پوکیو او شمالونو به نور خپله

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختم شوي وو او رښا به مو کراره کراره يا نا څاپي مړه کيږي او نور به څه راپکې نه وي چې څوک مو بيا رښا ته کيني او يا راباندې خپل کور ښکلی کړي.

پلار مې لاس ور ونيو او په خپلو لاسونو کې يې ټينګ کړ ، پورته يې راته وکتل او بيا يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

- هو بلکل ، تا هم شمې راوړې ، ماته دې پرې رښا جوړه کړه په حقيقت کې تا دغه شمو ته اړتيا درلوده خو هغه چا چې ستا شمه يې روښانه کړې ده ستا رښا ته هيڅ اړتيا نلري هغه ډير ستر ذات دی.

بيا لږه شيبه چوپ وو او بيا يې دوام ورکړ.

- ستا رښا په حقيقت کې عبادت دی ، هغه خدای ته پيدا کړی يې چې عبادت وکړې ، دا په حقيقت کې ستا رښا ده ، ښه کارونه وکړې ، ظلم ونه کړې ، دروغ ونه وايې ، دچا مال و نه خورې او خلاصه د نړۍ په سر ټول ښه کارونه وکړې او له بدو کارو ځان وساتې دا ستا رښا ده او دا ستا په درد خوري.

زه يې سترګو ته ځير وم ، دا سې پخې پخې خبرې يې کولې چې توبه ، نور يې نو کرار کرارې سترګې وتړل شوې ، زه يې هم له څنګه وغځيدم او د شمو لمبو ته مې چرت ونيو ، دپلار يوه يوه خبره مې له ذهنه تيريده او په يوه يوه خبره مې يې غور کاوه.

اتم څپرکی

دقناعت درس:

دقانع ډوډۍ پخه ده

لاس يې ډک خوله يې خوږه ده

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حريص کاسه چپه ده
لاس يې تش خوله يې سپيره ده
مابه چې نوی بکس يا نوی څيز وغوښت پلار به همدا ويل چې د قانع ډوډۍ پخه ده ، لاس يې ډک خوله يې خوږه ده ، د حريص کاسه چپه ده ، لاس يې تش خوله يې سپيره ده ، بيا به موسک شو او خپل کار ته به يې دوام ورکړ.
يوه ورځ له ښوونځي راغلم ، پلار ډېر ستړی وو ، ناروغي يې لا پوره نه وه ښه شوې ، زما په لېدو د کار په ميز تکيه شو او راته ځير شو.
- ښه ښه راغلې ؟ څه غوړې وې ؟
- خير خيريت وو ، ستا ناروغي څنګه ده ؟
- هې بد نه يم ، زويک به اوس يو چای دم کړې کنه ؟
- ولې نه په سترګو.
له دې ناروغۍ سره پلار ډېر راباندې ګران شوی وو ، هره خبره به مې يې د زړه په غوږو اورېده ، ډېر مې زړه غوښتل چې پلار هرڅه وايي زه پرې عمل وکړم خو کله کله به راباندې همزولي برياليي شول او فوټبال ته به يې بوتلم چې رابه غلم پلار به يوڅه خواشينی وو اوس مې نو نيت وکړ چې هيڅکله به فوټبال ته هم نه ځم.
چای مې دم کړ ، راغلم دکان ته ، ډېره شببه سره ناست وو ، دا چرت راسره پيدا شو ، که خدای مه کړه دا پلار له لاسه ورکړم څه به کوم ؟ نور خو نو هيڅوک هم نه لرم. بيا به مې له ځانه سره ويل چې خدايه سل کاله نور عمر هم ورکړه ، يا پروردګاره پاکه ربه.
پلار هم چای څښلو ماته يې کتل ، بيا موسک شو او پورته شو ، واسکټ يې راواخيست له جيبه يې پيسې را وايستلې.
- ورشه بچيه يوپاو کلچې ځان ته راوړه نن مې ديګ درته نه دی پرې ايښی.
دې خبرې يې راباندې سخت بد تاثير وکړ ، چې ښوونځي ته به تللم ښه ډېر وخت به هم وو خو هيڅ به مې نه پخول پلار خوارکي به الوګان راوړي وو او خدای خبر چې هغه به ترې څومره خوړل نوره برخه به يې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته پرې ایښې وه اوس یې چې دا د درته راوړه کلمه ووې سخته خوا مې ورته بده شوه خپله یې هم ډوډۍ نه وه خوړلې خو په پیسو یې زړه نه وو شوی مګر ماته یې پیسې راوایستې ، پیسې مې ترې واخیستې او بهر ووتلم.

په لارې هم راسره همدا چرتونه وو ، تر کله به داسې غریبان وو ، تر کله به د پلار ترکانۍ وي او خدای خبر چې څه پیسې هم پیدا کوي کنه ؟ هغه هم بیا زما د بوټونو جامو ، کتابونو او قلمونو خوراک شي.

چې راغلم پلار ډیر خوشحاله وو ، کلچو ته یې وکتل پیالـه یې کیښوده ، څو مې کلچې په ځمکه ایښودې یوه یې ترې ور واخیسته ، بیا یې ماته وکتل.

- وخوره ولا سرې وړی کیږې ورځې اوږدې دي.

دریمه کلچه یې هم ور واخیسته نور نو شاته کښناسته ، ځان به یې هغې او دې خواته بوختاوه ، چې ګواکې زه خو نور موړ شوم ، زما له ستوني نه تیریده کخوړه مې تاو کړه ځنګ ته مې کیښوده پلار کڅوړې ته وکتل.

- ولې یې نه خورې ؟ وخوره.

- موړ شوم ، بس مزه نه راکوي ، موړ یم.

- وخوره ورک شه سهار دې هم چندان چای نه وو څښلی.

په زړه کې مې ویل چې زه خو یواځې ښونځي ته لاړم تا خو کار هم کړی دی. نور مې نو ځان بلې خواته بوخت کړ چې پلار بیا کڅوړه رانږدې کړه او کلچه یې ترې ورپورته کړه بیا یې ماته ونیوه خو ماترې وانه خیسته ، پلار په احتیاط احتیاط یوڅو ترې وخوړې پاتې یې تاو کړې برې یې په لرګو کې کیښودې.

اوس پلار ډیر کنجوس شوی وو ، که به چا داسې کارونه کول نو پلار به کنجوس باله خو ځان ته یې فکر نه وو ، ماته خو خیر خو خپل ځان ته یې یوه پیسه هم په څه نه ورکوله. بوټونه یې د دوه کالونو زاړه وو ، جامې به یې نوې څومره نه اغوستې په هرڅه یې زړه بېرانېده.

جامې مې بدلې کړې ، میشترنګ مې راواخیست او له پلاره سره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخته شوم ، ډیره شېبه یې د ښونځي په اړه پوښتنې وکړې وروسته مې ورته وویل.
- پلار ه کنجوس څرنګه وي.
هغه وخندل.
- داسې وي لکه زه.
- نه داسې مې نه ویلې.
- خو خیر زه لږ ورته یم.
- نه ما ویل چې ته کنجوس کنجوس هرچاته وایې نو څرنګه باید سړی وي چې کنجوس خلک ورته ونه وایي.
پلار یو چوکاټ راپورته کړ او سکنه او څټک یې راواخیستل او په چوکاټ کې په سوري کولو اخته شو.
- یو کنجوس وي ، یو قانع ، دومره هم باید سړی نه وي بې باکه چې څه مال ومنال لري د یوې چړچې شي. ځکه سړی خپل توان ویني وایي له خپلو څړو سره پښې غځوه ، نو د خپلو څړو سره چې څوک پښې غځوي هغه ته کنجوس نه وایي. او څوک چې د خدای زور پیسې ولري او بیا هم نه په غلا بندوي نه په چور نه په تالان او نه یې د خپل کور او اولاد نفقه کوي هغه ته وایي کنجوس ، او د کنجوسانو دنیا هیڅکله هم نه زیاتیږي او شکر به یې هیڅکله هم په خوله وانه وړي.
ډیره شېبه سره چوپ وو ، پلار چوکاټ بسته کړ ، بیا یې ماته وروځې کش کړې.
- ښه نورې غورې وکړه.
- د ابراهیم ادهم یوه کیسه خو راته وکړه.
- نه لرم حوصله راسره نشته ، ستړی یم بیا به یې بله ورځ درته وکړم.
- نه خو اوس یې چې راته وکړې ستړتیا به دې وتښتي.
- شیطانه.
ډیره شېبه اخته وو ، بهر ووت کوزه یې په لاس کې واخیسته بېرته راغی ، کوزه یې لمر ته کېښوده او لاسونه یې بډې وهل.
- ناوخته دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نو شروع کوې يې
- رېښتيا هو نن مې يې يوه ډېره ښه کيسه ياد ته راغلې دا هغه د کور په کتاب کې نښته ده.
- ښه تاچې تر اوسه دا کيسې راته کولې کور کتاب دی ؟
- نو څه فکر کړې چې ابراهيم ادهم زما همعصر وو ليونيه.
- ښه دا نوې کيسه يې راته وکړه.
- ښه نو غوږ شه وايي چې يوه ورځ ابراهيم ادهم په ښکار پسې تللی وو ، وايي چې ډير په ښکار پسې وګرځېده زړه يې غوښتل يوه ښه هوسۍ ښکار کړي ، ډيره شېبه په غره کې وګرځېده ، تر څو چې يوه هوسۍ يې ګير کړه ، ډير خوشاله شو خپل تير او کمان يې سره سم کړل او په هغه هوسۍ پسې روان شو.
هوسۍ چې يې خواته رانږدې شوه نو ابراهيم اد هم غو ښتل چې نور خپل تير له کمانه خوشی کړي او هغه پرې وويلي چې پدې وخت کې دخدای په قدرت سره هو سۍ په خبرو راغلې ده او د حال په ژبه يې ويلي دي:
- اې سلطان ابراهيم ادهمه ! زما تيونه وګوره چې شيدې لرم ، زه درې واړه بچيان لرم د غره په يو غار کې مې خو شي کړي دي او زه راوتلې يم تر څو يو څه وخورم او خپلو بچو ته مې خوراک يوسم.
وايي چې ابراهيم ادهم د هوسۍ په دغه خبرو ډير حيران شو او خپله څه غذا چې يې درلوده د هوسۍ په مخ کې يې کيښوده او خپله ترې بيرته لاړ.
هو خو کيسه همدومره وه کنه.
ماوخندل ، پلار بياسر وخوځاوه ، او د جامو لور ته روان شو.
- زويه هيڅکله هم ځان حقدار مه ګڼه ، په لږ څه قناعت وکړه ، په دنيا کې ډير څه او ډير څوک له تا وږي شته ډير خلک له تا زيات اړ من دي او که دهغوی مرسته وکړې دا طبيعي ده چې د پنځون ستر ښتن تاهم داسې نه پريږدي او دا د طبيعت قانون دی چې تاته به يې هم پاداش رسيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور نو لمر ژیړ شوی وو ، دواړو جامې واغوستې دکان مو بند کړ او کرار کرار مخ په کور روان شو .

نهم څپرکی

د آمنې راتګ:

نور نو دولسم ټولګي ته رسېدلی وم ، د پلار د ترکاڼۍ مزه هم په تلو وه ، کار به یې هم ډېر نشو کولای ، زه به چې غرمه راغلم بیا به تر بېګا له پلار سره په ترکاڼۍ کې اخته وم ، ماخوستن به مې هم نور د پلار نکلونه له یاده وتلي وو ، ریاضي او فیزیک داسې راته سخت وو چې مه یې کوه پوښتنه.
یوه ورځ له ښوونځي راغلم ، چې ګورم دکان بند وو ، د ګربت اکا دکان ته ورغلم ، هغه په کار اخته وو د دکان له دروازې مې ورغږ کړل.
- ګربت اکا زموږ پلار څه شو ؟
- هغه لاړو کورته لکه چې یو میلمه مو راغلی وو ، له هغه سره کور ته لاړ ، ماته یې ویل چې اسد راغی کورته یې راواستوه.
هک حیران شوم ، دا به څوک راغلي وي ؟ له ځانه سره مې ویل چې کاشکي د کابل خاله وي آمنه هم ورسره راغلې وي. په لارې چټک چټک روان وم ، ډېرپه دې لاره یوائې نه وم تللی تل به راسره پلار هم روان وو ، دواړو به تر کوره څو کیسې وکړې ، خو اوس به پلار په خپله هم ویل چې نور مې مزه نشته ریښتیاهم نور یې چندان مزه نه وه ، ژر به غوسه کېده ، خبرې یې ډېرې نشو کولی ، زما له درسونو سره یې چرت خراب وو هره ورځ به یې ویل چې که زه کابل ته پوهنتون ته لاړ شم نو هغه به څه کوي ، زما هم زړه دربېده چې څرنګه به پوهنتون

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ځم ؟ کله به مې ويل چې پلار هم را سره لاړ شي کابل ته کله به مې ويل چې پوهنتون به نه وايم خو هيڅ يو هم نه آراامولم.
په همدې فکرونو کې وم چې کور ته ورسېدم ، د کور ترمخې يو موټر ولاړ وو ، دا لومړی ځل وو چې زموږ د کور مخې ته موټر ولاړ وو ، له ځانه سره مې وويل چې حتماً د کابل خاله ده بل څوک ندي بس له ډيرې خوشحالۍ الوتلم.
د کوټې دروازه مې پرانستله وای پخپله وه ، خاله وه ، آمنه وه نورزيه کامران او پلار يې وو . ورغلم خاله په غيږ کې ونيولم او په تندي يې ښکل کړم ، له رحيمي کاکا سره مې هم ستړي مشي وکړل کامران مې هم په غيږ کې ونيو ، خو نوبت آمنې ته ورورسېد ، ډيره شېبه مې ورته وکتل او ورته مې خندل ، ډير خوشحاله وم ډيره شېبه سره کېناستلو خاله پوښتنې کولې . رحيمي کاکا او پلار هم مجلس کاوه خاله ډيره راته خوشحاله وه.
- دا د هوسۍ خوارکۍ يو ائينۍ هيله وه چې زوی يې...
نور يې نو ژړا ستونی ونيو ، خبره يې بدله کړه او له پلار سره په مجلس بوخته شوه . آمنې هم ماته کتل ، موسکه کېده او کله کله به يې آرامه پوښتنه وکړه.
- په څووم ټولګي کې يې ؟
- نو زړه دې دی چې ناکام شوی وم ؟
- ښه ماويل چې که چېرته دې کوم ټوپ وهلی ، پلار دې هومره غورې کولې ماويل نو له پوهنتون هم تير شوی يې ؟
ماورته وخندل نور مې څه ونه ويل.
کله به مې د رحيمي کاکا او کله هم د خاله پوښتنو ته ځوابونه ويل او کله به هم آمنه له نظره تيره کړه ، ډير پخوا اوس مې کم کم يادېدل چې ما او آمنې به په کوڅه کې د ټوپونو مسابقه کوله د هغې په ويښتانو کې يوه شانه وه چې ټوپ به يې کړ هغه به خلاصه شوه بيا به نيم ساعت په هغه اخته وو چې ټينګه به شوه نو بيا به يې ټوپ ووا هه که به خلاصه شانه کور ته راغله مور به يې ورته غوسه وه . هغه وخت به

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې لنډ سور کميس اغوستی وو او ويښتان به يې تر شاتړلي وو ، له هماغه اوله ډيره ښکلې وه ، ډيره نازولې وه چا به ورته دوهمه خبره کوله هغې به بيا په ژړا شروع کړې وه. خو اوس بدله شوې وه. تورې غټې غټې سترګې چې سرخي يې خوني توب يوه په دوه کړی وو ، لوړه پزه سپين مخ خو ويښتان يې په ټيکري کې وو او اوس يې هغه سور کميس نه وو په تن اوس يې نو نوی کابلی موډ کاوه ، خو هغه وخت به نه زما زړه د غوښېدو وو نه به د هغې نيت وو چې د چا زړه هسې پاره کړي مګر اوس بدله وه نظر يې لکه د موسی امسا هسې ټولول کول لکه د عيسی معجزه ژوندي کول يې کول...

ما يې همداسې سترګو ته کتل چې هغه موسکه شوه مور ته يې وکتل ، ماهم ځان سره سم کړ فکر مې شو د هغې مور ما ته کتل. ما ورته وخندل.

- وبخښې چای څښې ؟

- نه زويه زه اوس خپله پورته کېږم چای به دم کړم.

ما بيا آمنې ته وکتل په زړه کې مې وويل چې کاش آمنه پورته شي چای وکړي خو نه هسې هم نه وه آمنه دومره نازولې وه چې چای يې له سره پيژندلو نه چې څرنګه يې پخوي.

خاله بهر وايستلم ، ډيره شيبه په هغه بله خو نه کې سره ناست وو ، پوښتنې يې کولې او د خپل ځان په اړه يې ويل کله به يې د زرلښت غورې کولې چې په پوهنتون کې اول نمره شوې وه ، ماته يې يوا ځې په درس ټينګار کاوه. ډيره شيبه موهلته غورې وکړې ماورته د پلار د ناروغۍ وويل ډيره خواشينې شوه ويل يې چې ماته مو نو ولې حال نه را استاوه خو ما ورته وويل چې څرنګه مو درته حال استولی وای. په دې کې آمنه هم راغله ، مور يې ورته وکتل نور يې نو له ماسره خبرې کولې خو زما پام يوا ځې آمنې ته وو د هغې حرکاتو ته پورته کېدا ته کتلو ته يې چوپتياته بس زړه مې غو ښتل يوا ځې آمنې ته وګورم او بس.

خاله شپه وکړه بېګا تر ډيره ناست وو زه آمنه او کامران سره يوې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اته شو نورزيه ويده شوې وه پلار خاله او رحيمي کاکا هم خپلې کيسې کولې رحيمي کاکا پلار ته ويل چې دا کور خرڅ کړه په کابل کې يو ښکلي کور واخله نور به نو اسد هم درسره وي پوهنتون به هم وايي خپله به هم هلته کار کوې په کابل کې کار ډير دی خو پلار ورسره نه منله.
آمنې له ما پوښتنې کولې ، کله په درس کې کله هم د ملګرو او ښوونځي په اړه ما هم ترې پوښتنې کولې. نرمه لهجه خوږې خبرې يې زما په ذهن کې پاتې کېدې ډيره ښه سره وغږيدو ما ورته ويل چې کومه پوهنځۍ وايي هغې ويل چې غواړي ډاکټره شي خو زما له ډاکترۍ ښه نه راتلل ما غوښتل چې حقوق ولولم له سياست سره مې جوړه وه. آمنې وخندل
- ښه غواړې څارنوال صاحب شې ؟
- هو نو ته غواړې چې ډاکټره صاحبه شې ؟
دواړو وخندل ، کامران ويل چې غواړي انجنير شي خو آمنې ورته وخندل.
- ورکه انجنير مه کيږه شرم دی خلک به څه وايي چې درې خويندې ډاکترانې دي پلار ډاکټر دی او يو زوی غواړي انجنير شي.
شپه عجيبه تيره شوه ، ډيره ښه شپه زړه مې غوښتل چې ويده نه شو او ترسهاره له آمنې سره مجلس وکړم ، زه ورته د ابراهيم ادهم کيسې وکړم او هغه هم راته چوپ ناسته وي سترګو ته مې ګوري او موسکه وي.
سباته جمعه وه زړه مې ښه وو ګوندې آمنه ټوله ورځ له موږ کره وي زړه مې غوښتل چې سبا هم پاتې شي... خو چې چای مو وڅښلو نو رحيمي کاکا ويل چې نور نو ځي. زه ډير خپه وم خاله ته مې وکتل هغه هم راوړاندې شوه او په سر مې يې لاس راتير کړ.
- خاله پاتې شئ خو سبا به لاړ شئ.
- نه قربان بايد لاړ شو زرلښت يو اځې پاتې ده د تره کره يې ده نن بايد ورشو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خیر دی مازیګر لاړ شئ.
- نه بیا به ګورو یوه بله ورځ بیا راځو.
نور نو کرار کرار ووتل، په موټر کې سپاره شول. آمنې ته ډیره راته لاس خوځاوه چې موټر له سترګو پنا کېده آمنه مې زړه راننوته لا خوږه کېده او راباندې ګرانېده.
بېرته راغلم کور ته له پلار سره اوږد وغځېدم پلار اسویلی وکړ او پیاله یې ورنږدې کړه.
- خاله دې خیر یوسي، دا یو چای یې دم کړ هم توره یې وکړه.
- خاله ښه ښځه ده.
- ولا رحیمي هم بد سړی ندی یوا ځې لږ پیسه دوسته دی.
- خو ته خپله وایې چې سړی باید قانع وي او دا هڅه هم وکړي چې ټول مال ومنال د یوې چړچې نه کړي؟
- نه ډاکټر یې پدې کیسو کې ندی هغه که قانع وای له ما او تا سره به یې لږ څه مرسته کړې وای حد اقل دومره خو یې کولی شو چې ما او تا یې په یوه کور کې اړولي وای ما یو دکان نیولی وای کار مې کولی او تا همراته پوهنتون ویلی.
نور نو د پلار دا سندرې پیل شوې چې ډاکټر ولا مرسته نه کوي او څه څه خو زما په زړه آمنه راننوته او بل ډول یې تسخیر کړی وم. پلار پورته شو یو کتاب یې راواخیست او مخ ته یې ونیو.
- پلاره تاخو دا ډیر وخت کتاب له یاده ویستلی وو، ریښتیا هغه د ابراهیم ادهم د کیسو کتاب چېرته دی؟
- نشته دی اوس.
- همدا په لاس کې خو د نوی کتاب دی؟
- دا فارسي دی، هغه په پښتو دی.
- ښه خو دا راکړه.
- ته ولې خپل کتابونه نه لولې؟
- نه یو ځل دا له نظره تیروم بیرته یې درکوم.
پلار ما ته کتاب ونیو نور یې په ځان څادر راکش کړ او سترګه یې پټه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه ببرته سره وخوځېده سر يې راپورته کړ.
- وهلکه بې د ابراهيم ادهم له کيسو نورې هم ښې کيسې شته غواړې درته ويې لولم ؟
- نه دومره ندي ښې.
- نو غوږ شه يوه په زړه پورې کيسه درته ولولم ، دا تر دې ډاکټره رايادا شوه چې دومره سترې ستړې خبرې يې کولې.
وايي په يو ځای کې يوه زړه ښځه وه چې په دښته کې يې مالونه څرول ، هره ورځ به چې د باچا کاروان تيريده هغه به ورته ولاړه وه او د پاچا احترام به يې کاوه ، بله ورځ په يوه غو نډۍ ولاړه ده د پاچا کاروان چې يې وليده نو لاندې يې ورته راغږ کړل.
- هې ! دا پاچا ته خو مې يو عرض حتماً ورسوئ.
وايي هغه ساتونکي حيران شوي دي چې دغه ښځه خو به هره ورځ د پاچا د احترام لپاره وه او کله به يې ژړل او کله به يې خاورو کې پښې غځولې وې د پاچا ستاينه به يې کوله ولې داسې په غرور سره خبرې کوي ؟
- وايه ورته وبه يې رسوو
- نه نن مهمه خبره ده ، حتماً به يې ورته رسوئ.
- ښه په دواړو سترګو وايه کنه.
- ورته ووايه چې زما زوی ځوان دی دا لور به دې ورته واده نکړې ؟
وايي ساتونکي سخت حيران شول چې دا ښځه څومره بد له شوې ده داسې په کبر کبر کې خبرې کوي ؟ وايي چې دا خبره تر پاچا پورې ورسېده ، پاچا وايي موسک شو او امر يې وکړ چې ور شئ په کوم ځای چې دا ښځه ناسته وه هغه ځای ويلټئ. وايي چې کله يې هغه ځای ويلټهلو ترې لاندې خزانه وه.
- ښه.
- خونوره نو کيسه همدومره وه ، دا غټې غټې خبرې دنيا په خلکو کوي همدوره بس.
- نو دې څه فايده وکړه ، ولا بابا سخت مې د خزانې د کيسو سره لګي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورې دې نه دي په یاد ؟
- په یاد مې دي.
- خو یوه بله راته ووایه.
- سمه ده د بېګا برخه هم خلاصه شوه او په دې شرط چې ته به هم را ته یوه کیسه لولې.
- سمه ده.
- نو وايي چې یو کس وو ډېره ارزو یې درلوده چې خزانه ومومي او پیسه داره شي د ورځې به هم ورسره همدا چرت وو او د شپې به هم ورسره همدا چرت وو ، یوه شپه یې خوب ولیده چې یو کس ور ته وايي چې زه مامور شوی یم چې تا ته خزانه وښییم سړی ډیر خوشحاله شوی دی نو وايي چې هغه کس ور ته وویل چې غشی او لیندۍ درسره واخله هغه پورې غونډۍ ته لاړ شه غشی په لیندۍ کې کېږده او خوشې یې کړه چې هر ځای وغورځېږده نو هلته به خزانه وي سړی ډیر خوشحاله شوی دی سبا ته غونډۍ ته تللی دی غشی یې په لیندۍ کې ایښی دی کش کړې ده او غشی یې خوشې کړی دی غشی وړاندې یو ځای لګېدلی دی سړی ورغلی دی په ډیره لیوالتیا یې هغه ځای پلټلی دی خو هیڅ یې هم ندي میندلي ، څو څو ځله یې یوې او بلې خوا ته غشی ویشتی دی او هغه ځایونه یې پلټلي دي خو څه یې ندي میندلي ډیره غوسه ورغلې ده. بېګا یې بیا هغه سړی په خوب لیدلی دی په غوسه کې یې ور ته ویلي دي چې ولې دې غلط ادرس راکړی وو ، هغه کس ور ته ویلي وو چې ما غلط ادرس نه وو درکړی دا پروسه دې غلطه پرمخ بېولې ده. غشی په لیندۍ کې کېږده ، لیندۍ بې له دې چې کش کړې نو غشی پرېږده چې غشی هر ځای ولګېده نو خزانه هماغلته ده. سړی سبا بیا له کلنګ ، بېلچې او غشي او لیندۍ سره د غونډۍ سر ته ختلی دی. غشی یې په لیندۍ کې ایښی دی او بې لدې چې کش یې کړي نو پرې ایښی یې دی غشی یې په خپلو پښو کې غورځېدلی دی ، ژر ژر یې هغه ځای پلټلی دی که ګوري چې خزانه هماغلته ده. سړي له ځانه سره سر ښورولی دی او ویلي یې دي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې داسې تر پښو لاندې وو غشي ته ضرورت څه وو.
هې هې نو داسې غورې دي ، ته هم خويشتندار ه اوسه...
- ښه سمه ده ، ښه کيسه وه بده نه وه.
- نوبت دې دی.
- زما يوه په ياد ده که دې نه وي اورېدلې.
- ته وايه.
- وايي چې د عبدالملک بن مروان په وخت کې يو جنګي سردار وو چې ډېر شتمن هم وو يوه ورځ ورته عبدالملک بن مروان حکم وکړ چې له پوځونو سره لاړ شي او په روم کې وجنګيږي ، سردار يې هم مني بيا ورځي د يو سوداګر زوی ته چې ښه نيک خويه او صالح ځوان دی هغه ته وايي چې زه د روم جنګ ته ځم ، زه خپل مالونه تاته امانت سپارم که زه راغلم نو زما مالونه به راته وسپارې او که رانغلم نو لس برخې يې ستا او پاتې به مې خپل اولاد ته ورکړې او بې لدې چې تـرې کوم سند واخلي مخ په روم لاړ. وايي چې دغه سردار هم په جنګ کې ووژل شو ، مودې تيرېدې د دغه سردار اولاد بې پيسو شول او تصميم يې ونيو چې عبدالملک بن مروان ته د پيسو يو غوښتنليک وليکي ، کله چې دغه غوښتنليک پاچا ته ورسېده هغه وويل چې څوک چې ووژل شي دهغه نور معاش هم پرې کيږي دا سردار ډير پخوا وژل شوی دی. له بلې خوا د سوداګر پلار هم پدې قضيه خبر شو زوی ته يې وويل چې اوس خو هغه سردار وژل شوی دی دا پيسې ماته راکړه زه اوس څه پيسې په لاس کې نلرم خو زوی يې ورته ويلي دي چې سر به درکړم مګر دا امانت به درنکړم. لنډه يې دا چې بله ورځ د سوداګر زوی د سردار د کورنۍ له وضعې خبريږي نو زامن يې راغواړي او ورته ټوله کيسه کوي بيا ورته وايي چې که ترې لس برخې راکوئ هم خپله خوښه موده که يې نه راکوئ هم خپل مال مو دی زه پرې کوم کار نلرم. وايي چې زامنو يې لسمه برخه ورکړه او نورې پيسې يې يوورې. بله ورځ پاچا دد غه سردار د زامنو د حال پوښتنه کوي څوک ورته وايي چې دهغوی وضعه اوس ډيره ښه شوې ده نو

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالملک بن مروان حکم کوي چې دا هلکان راولې تر څو ترې دا پوښتنه وکړم چې په لږ وخت کې يې دا دومره پيسې له کومه کړې هغوی خو ماته غوښتنليک ليکلی وو . وايي چې د دغه سردار زامنو ورته ټوله کيسه وکړه عبدالملک بن مروان د سوداګر زوی چې اوس غريب شوی هم وو راوغوښت او د ټولې پاچاهۍ د خزانې مشر يې مقرر کړ وايي چې دومره شتمن شو چې په بغداد کې چې په ټولو نږدې ټاټوبو کې ترې شتمن او معتبر سړی نه وو دا ددې لپاره چې په امانت کې يې خيانت نه وو کړی. ته هم پلاره په امانت ټينګ اوسه.
دواړو وخندل نور نو پلار بيا په سر څادر راکش کړ او کرار ويده شو ماته هم خوب راغی ويده شوم خو له آمنې سره ناست وم او سره خندل مو.

لسم څپرکی

له مينې د پلار خبرېدا :

بس نور ورځ په ورځ سره حيرانېدم ، له يوې خوا به مې زړه غوښتل چې آمنه مې لېدلې وای له بلې خوا مې له پلاره زړه نه کېده ، له بلې خوا مې په ازموينو هم چندان باور نه درلود ، خدای خبر چې پوهنتون او ازموينې به څرنګه شي ؟ بس په همدې سوچونو کې به ښونځي ته لاړم او په همدې سوچونو کې به بيرته راغلم.
يوه ورځ په دکان کې له پلار سره په کار اخته وم ، سوچ مې په آمنه کې وو له هغې سره په خبرو لګيا وم دهغې مخ ته مې کتل او زړه مې غوښتل چې ورسره يوائې وم ، کله هغه راته وژاړي کله ورته زه وژاړم ، له ځانه سره به مې فکر شو عجيب ليونې خيالونه دي ؟ په همدې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکرونو کې وم چې پلار په شا وټپولم.
- وهلکه عاشق يې که څه بلا وایم چې ازموینې د څرنګه شوې ؟
- نورې تمامې دي ، سبا نه بله ورځ د قرآن کریم او حدیث شریف ازموینه ده نور نو تمام.
- ښه ولا ښه شو نور نو خوبو نه ریښتیا کېدو تـه نږدې دي هـه سبا بله ورځ به مې زوی ډاکټر صاحب وي به به به.
- نه ، بابایو څه شی مې په زړه کې دي درته ویې وایم ؟
- وایه کنه.
- زړه مې نه غواړي چې پوهنتون ته لاړشم ،یعني فکر کوم چې پوهنتون به ونه شم ویلی.
پلار وخندل قلم یې د غوږ له شا څخه را واخیست او په چو کاټ یې سترګه پټه کړه بیا موسک شو ماته یې وکتل.
- ګوره زویه ته نن هغه ځوک یې چې پرون یې دې فکر کاوه او سبا به هغه ځوک وې چې نن یې فکر کوې پس فکر وکړه چې ویلی یې شې نو ویلی یې هم شې.
پلار عجبه درنه خبره وکړه ، همداسې مې بس په ذهن کې په شور او تاندې پاتې شوه بیا یې په مخ وټپولم او سترګه یې راته ووهله.
- زویه هر څه ته چې غواړې ورسېږې عاشقانه هڅه وکړه ، هڅه له تا رسېدل یې په خدای دي ته هڅه کوه او دزړه له تله هڅه کوه هله به یې نتیجې ګورې بې نتیجې نه پاتې کیږې.
- خو تابه هم هڅه کړې وه اوس به مو ولې په کابل کې کور نه درلودلای.
- ګوره بچک دوه مسئلې دي یو دا چې دا د طبیعت قانون ندی چې ټول خلک شتمن وي او په کابل کې دې کورونه ولري ، دوهم دا چې شهید سردار محمدداوود خان ویلي دي: تصمیم شرط اول موفقیت است. بچک چې تصمیم ونیسې بیا عاشقانه هڅه وکړې او د میړې هوډ ولرې په هیڅ میدان کې به ماته ونه خورې ، که غواړې چې ترکاڼ شې که غواړې چې ستر سوداګر یا هم پاچا نو که هڅه وکړې نو ښایي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ورسېږې که ونه رسېږې مزه يې حتماً ګورې ورته نږدې خو به شې.
- ولا که داسې آسانه وي نو خداى مې دې يوبل هدف ته هم ورسوي.
- لکه کوم ؟
- هغه نو تاته نه وايم.
- بچک په ژوند کې له مور او پلار پرته تر ټولو ښه، د ډاډ وړ او ګټور محرم بل نشته، ما لوی کړی يې بچک د کونې په رګونو دې پوهيږم.
دواړو وخندل، بيا راته ځير شو.
- ښه نو هزاره ده، پښتنه ده تاجکه ده او که کومه جټه مټه ده ؟
ما وخندل يو ځل مې ځان پرې تيراوه، خو بيا مې فکر شو دا مې دوهم ځل وو چې پلار ته دروغ وايم يوبل ځل مې هم ورته دروغ ويلي وو له ځانه سره مې په خپله تصميم نيولی وو بيا مې له ځانه سره قسم کړی وو چې هيڅ څه به مې له پلاره پټ نه وي، خودا مسئله ډيره راته خجالتوونکې وه.
- نشم ويلی.
- ښه ښه پوه شوم.
- نو څوک ده ؟
- هه دا خو نو معلومه شوه چې څوک خو شته دې ؟ اې شيطانه.
- نه نشته دې ما بل څه يادول.
- پوه شوم پوه شوم، ګوره زويه ! ته اوس غټ سړی يې په خپله په خپل کار ښه پوهيږې، د خپل ځان لپاره به نور پخپله تصميم نيسې، په ژوند کې څو شيزونه ډير قوي وي چې يوه يې هم د سکس قوه ده، زويه دا د هر انسان اړتيا ده ولې هيڅکله هم لنډه ځمکه مه وينه، اوږد فکر کوه اوږده راتلونکې په نظر کې نيسه ته دوه ورځې ژوند نه کوې او نه هم د يوې ياڅو شيبو خندا لپاره پيدا شوی يې، پس پدې اړه به هم يوه ورځ تصميم نيسې خو داسې تصميم ونيسه چې د عمر تر پايه پرې ډاډه وې.
د پلار خبرې راته يو څه تسکين راکړ نو مې جرآت پيدا کړ.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نو درته ووايم ؟
- نه زه يې پيژنم.
- څوک ده ؟
- د خاله لور دې ؟
- هو
پلار څه شېبه په فکر کې وو ، نور يې نو ساعت ته وکتل.
- درځه دا اوږده فکرونه دي ، دداسې مسئلو په اړه هيڅکله هم په لږ وخت کې تصميم مه نيسه او ټينګار هم پرې مه کوه چې د نورو لومړيتوبونو مخه دې نيسي.
دکان مو بند کړ ، مخ په کور روان شولو ، پلار ترمخ وو زه له شانه ، فکر مې سره ګډوډ وو هرڅه مې پلار ته ويلي وو خو دا سوچونه مې هغه ته نشو ويلی چې څرنګه پوهنتون ته لاړ شم او څرنګه هغه يو اځې پريږدم ؟
په لارې مې ترې د ابراهيم ادهم کيسه وغوښته ، پلار راته وکتل او موسک شو.
- ياره تاخو بيخي زه د ابراهيم ادهم د کيسو ګنج وليدم ولا ختمې شوې نورې مې ندي په ياد .
- خير دی هره ورځ داسې وايې بيا يوه ياد ته درځي.
- نور نو ته هم د فکر کولو يې ، دلوستلو يې او دڅده کولو يې يوه به راته وايې يوه زه.
- سمه ده.
- نو پس صبر چې زه يوه را په ياد کړم... هه وايي چې ابراهيم اد هم عادل او مهربانه پاچا وو چې ډير کله به د خپل رعيت د حال معلومولو لپاره په بدلو جامو کې ښار ته تللو او دخلکو حال به يې له نږدې کتلو.
يوه ورځ په بدله قواره په يوه تنګه کوڅه کې تيريده چې په کوڅه کې يې په يو پنځه کلن ماشوم سترګې ونښتې چې يو زوړ کميس يې اغوستی وو په خاورو کې ناست وو کله به يې ژړل او کله به يې خندل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

، کله به یې خاورې په ورو موټو کې راپورته کړې او په سر به یې وشیندلې. دې صحنې ابراهیم ادهم ته خوند ورکړ او څو دقیقې ورته ودرېده.

ډېره شېبه ورته حیران ولاړو وو له ځانه سره یې وو یل: یاخدایه! دا څه اسرار دي چې زه یې له دغه واړه ماشومه وینم، کله ژاړي او کله هم له ځانه سره خاندي؟ بیا یې نیت وکړ چې ورنږدې شي او پوښتنه یې وکړي. له اس څخه ښکته شو او ماشوم ته ورغی. چې په دې شېبه کې ماشوم بیا په ژړا پیل وکړ او ابراهیم ادهم ترې پوښتنه وکړه چې ولې کله ژاړي او کله خاندي؟

هغه پنځه کلن ماشوم یې په مخ لاس راکش کړ او له اوښکو په ډکو سترګو کې ابراهیم ادهم ته وکتل او ویې ویل: اې سلطان ابراهیم ادهمه! زه خو ددې لپاره خاندم چې زما او ستا روح د اسرارو په نړۍ کې سره نږدې وو چې تا له ځانه سره وویل چې زه دغه ماشوم ته سلام ورکړم او کنه؟

سلطان ابراهیم ادهم خپل شاوخوا ته وکتل چې په کوڅه کې له هغه او ماشوم پرته بل څوک نه وو بیا یې وویل: ګله ته څه پوهېږې؟ چې زه ابراهیم ادهم یم؟

ماشوم بیا وخندل او ویې ویل: اې پاچا زه په همدې خاطر خاندم چې وایې څرنګه دې وپېژندلم؟ دا دخدای اسرار دي چې زه پوهېږم او ته نه. ابراهیم ادهم وویل: ښه نو دا ژاړې بیا ولې؟ ماشوم ځواب ورکړ: اې ابراهیم ادهمه! کله چې زما مور د پخلي لپاره اور بلوي نو لومړی واړه واړه لرګي راټولوي بیا پرې ستر لرګي ږدي او بیا اور ورته کوي کله چې واړه لرګي اور واخلي نو وروسته بیا ستر لرګي هم سوځي اوس زه وېرېږم چې خدای ناخواسته زموږ ورو له لاسه غټان ونه سوځي او په همدې خاطر هم ژاړم.

ابراهیم ادهم بیا پوښته وکړه: نو دا خاورې ولې په سر شیندې؟

ماشوم ځواب ورکړ چې اې سلطانه! زه ددې لپاره خاورې په خپل سر شیندم چې ددې ورتیا او لیاقت نه لرم چې په هغې له پاسه پښې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږدم او وګرځم نو له همدې کبله یې په سرا چوم. ویل کیږي چې دا ماشوم حضرت امام مالک رض وو.
پلار راته وکتل او موسک شو.
- څه ورک شه نور دې نو سترګې کړم اوس به نو دیګ هم ته کړې او کالي به هم پریمنځې.
- سمه ده.
- وایه کنه اوس ستا نوبت دی.
- ښه سمه ده خو که د ذده نه وي.
- ښه وایه.
- وایي چې ابراهیم ادهم چې کله پا چایي پرېښوده او مخ د مکې په لوري روان شو نو ډېر ځایونه یې مزدوري و کړې، یو ځل په یو ځای کې د انارو په یو باغ کې باغبان شو او ځان یې د باغ خاوند ته ور و نه پېژانده. یوه ورځ د باغ خاوند باغ ته ورغلی دی او ابراهیم ادهم ته یې ویلي دي چې ورشه یو ښه شرین انار راوړه، ابراهیم ادهم تللی دی یو انار یې ورته راوړی دی کله چې دباغ خاوند هغه خوړلی دی نو ادهم ته یې ویلي دي چې ورشه شرین راوړه دا شرین نه وو. ا براهیم اد هم بیا تللی دی بل انار یې ورته راوړی دی هغه چې یې خوړلی دی بیا یې ادهم ته ویلي دي چې دا هم شرین نه وو، ته څرنګه باغبان یې چې دومره وخت دې په دې باغ کې هم تیر شو تر او سه دې د باغ خواږه او تروش انار ندي پیژندلي ؟ ابراهیم ادهم ورته وویل چې زه باغ ساتم د انارو په مزه نه پوهیږم ځکه چې نه مې ده کتلې. وایي چې دباغ څښتن دا واورېدل نو ویې ویل چې پس ته نو ابراهیم ادهم یې.
- ښه
- خو ختمه شوه.
- دا کیسه له کومه شوې ده ؟
- نو زه څه خبر یم په یو کتاب کې مې لوستې ده.
- دا له ابراهیم ادهمه په خپله نقل شوې ده دا کیسه خپله هغه کړې ده.
- په دې یې نو نه پوهیدم.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پاتې هم لري.
- هغه څرنګه ؟
- لدې ځایه تللی دی بل ځای مزدور شوی دی...
- ښه نو.
- ولااوس مې په وس کې نشته څه ژر کوه دیګ وکړه ، چې کالي هم دواړه پریمینځو.
- ښه سمه ده.

يوولسم څپرکی

پوهنتون ته تګ:

بېګامې له ځانه سره سترګې پټې کړې وې ، ډیره شېبه مې فکر کاوه ، یاخدایه ! زه به سبا څم پوهنتون ته پلار ته به دیګ څوک کوي ؟ بې له ما به څرنګه خوب ورځي ؟او څرنګه به یې یادیږم ؟ یاخدا یه ! زه دې همدا سې پیدا کړی یم بې پلاره به څرنګه خوب راځي ؟څرنګه به بې له پلاره ډوډۍ خورم ؟او څرنګه به بې له هغه ژوند کوم ؟ درسونه مې هم سخت دي ؟ پلار هم ضعیف دی؟ بس په همدې فکرو نو کې د پلار خواته غځېدلی وم ، چې پلار راډیو بنده کړه او پورته شو.
- زویه کالي دې سم کړل ؟
زما ستونی غریو نیولی وو ، پلار ته مې وکتل او بیا مې وړا ندې دستکول ته وکتل.
- هو.
- بهبه نور نو اسدجان د مسافرۍ شو ، خدایه ! څومره لوی یې دا زما ارزو وه چې یوه ورځ وګورم زوی مې پخپله چېرته ځي پخپله ځان ته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر کوي او په خپله د خپل ژوند او راتلونکي فکر کوي. بچک دا ډیر لوی ویاړ دی ته نور غټ شوی یې.
- خو ماته سخته ښکاري.
- لیونکه ، تر قیامته به دې د پلار په خوا کې وې ؟ دا انسانان ټول همداسې دي ، دا قانون دی ، ته تر اوسه لدې قانونه بې خبره پاتې یې ؟ تر اوسه پدې نه پوهیږې چې هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه ؟
پلار موسک شو بیا یې په مخ وټپولم ، خو زما فکر خراب وو ، له یوې خوا به مې پدې چرت سم شو چې آمنه به ووینم لږ ترلږه یو ځل خو به یې ووینم څومره به راتـه خوشاله شي. زه بـه هـم ورتـه ډیـرې دګلوباغې شنې کړم هغه به هم راته غورې وکړي آخر هغه هم خپل مقصد ته ونه رسېده غوښتل یې ډاکټره شي خو خدای خبر چې اوس به نو څه کوي کور به کیني که به څه کوي ؟ زه دهغې په ځای ډاکټر کیږم خندا راغله او موسک شوم. پلار راته وروځې کش کړې او ویې خندل.
- چېرته رسیدلی یې ؟ ګوره پام کوه دا دځمکې خلکو ته هم لږلږ ګوره دومره هم تیز مه ځه ، دوهمه ګربته ، هغه یوه ورځ چرت نیولی وو چې ور ننوتلم نو را پورته شو راته غوسه شو ماویل چې څه خبره ده ویل یې چې نور یې نو د جرمني د الوتکې ټیکټ کړی وو او مخ په جرمني روانېده چې زه یې مزاحم شوم.
پلار ډیره شېبه تسکین را کړ ، په کابل خو زه بلد وم ، خوبیا یې هم ډیرې لارې ګودرې راته وښودې زه ډیر ورته شله وم چې هغه هم را سره لاړ شي خو هغه به ځان په بله کړ سر به یې ګراوه او راته موسک به شو.
- ډاریږې چې ورک به شې ؟
- نه څه ووړ خو نه یم.
پلار خندا واخیست.
- هو اوس خو نو غټ میړه یې.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماهم وخندل خو اوس نو هغه وختونه تیر وو چې په دې خبره به مې ورسره جنګونه کول.

- ګوره زویه چې په خپله لار شې دا ښه ده ، زه هم په یو دوه اونیو کې حتماً درباندې ګرځم او بل داچې ته به له خیره نور غټ سړی شوی وې ډاکټر صاحب به وې په ترکاڼ پلار به شرمیږې هسې دې ولې آبرو وړم.

ماته غوسه راغله خو بیا مې همداسې وخت له ځانه سره انځور کړ خو بیا مې له ځانه سره وویل چې یو ځل سړی له یو ځا پیدا کیږي هغه یې لویوي بیا یې په قواره وشرمیږي دا به هسې معنی لري لکه چې پخپل خلقت شرمیږي دا به نو څومره پست انسان وي ؟.

ټوله شپه مې رنګ رنګ خوبونه لیدل ، سبا مې دستکول راواخیسته ، پلار هم راسره را روان شو ، په لارې یې راته نور هم ډیر نصیحتونه وکړل ، دخدای زور پیسې یې هم په جیب کې راواچو لې بیا یې را ته وویل.

- زویه باور وکړه چې راباندې ګران یې ، خو ته هم زما لپاره په خپلو درسونو کې کوښښ وکړه چې هرڅومره پیسې دې په کار بدلې حال رااستوه زه یې درته استوم چې هیڅکله هم له ډاکټرخیلو پیسې ونه غواړې هرڅه درته زه اخلم.

رنګارنګ فکرونه راسره وو ، له یوې خوا خوښي ، له بلې خوا له پلاره خدای پاماني ډیر عجیب حالت وو ، پلار ته مې وکتل او موسک شوم پلار هم وروځې کش کړې په سر مې یې لاس راتیر کړ.

- وایه زویه هیڅ خبره په زړه کې مه ساته بیا ژوبلیږي.

ما وخندل عجبې خبرې به یې کولې هرډول حالت به یې له سړي په یو یادوه خبرو کې لیرې کاوه کله کله به مې له ځانه سره ویل چې زما پلار یواځې خدای د زوی د روزلو لپاره پیدا کړی دی ، آخر بیخي جادوګر پلار دی.

- پلاره خیر دی پوهیږم چې حوصله درسره نشته خو دا یوه غوښتنه یواځې یوه غوښتنه.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وايه بچک ته سراسر غوښتنه يې.
- يوه د ابراهيم...
- په دوارو سترګو بچک تياری نيسه چې دا يې يوڅه سخته ده بايد ټوله دې په ياد وي.
- سمه ده.
- غوږ شه.
- غوږ يم.
- وايي چې ابراهيم ادهم ناست وو يو کس ور ته راغی او ور ته ويې ويل چې اې شيخه ما په خپل ځان ډير زيات ظلم کړی دی ماته داسې يوه خبره وکړه چې لکه امام يې له ځانه سره ګرځوم. ابراهيم ادهم ورته وويل: که له مانه دا شپږ خويونه ياد کړې نو بيا به در ته هيڅ هم زيان ونه رسوي.
لومړی: داچې ګناه وکړې نو دخدای روزي مه خوره. هغه کس وويل چې دا نو څرنګه ممکنه ده څه شی چې په عالم کې دي ټول دهغه ښتن دي نو زه به داسې څه د خوراک لپاره له کومه کړم چې هغه نه وي پيدا کړي ؟ابراهيم ادهم ورته وويل چې پس دابه نو ښه وي چې هم يې رزق خورې او هم يې له قوانينو سرغړونه کوې اوګناه کوې ؟
دوهم: داچې ګناه وکړې نو دخدای له ملکه بهر شه. سړي وويل چې دا خو ډيره سخته ده شرق او غرب هرځای چې فکر کوې دهغه ملک دی نو چيرته لاړ شم ؟ابراهيم ادهم ورته وويل پس نو دابه ښه وي چې دهغه په ملک کې اوسې او ګناهکار اوسې ؟
دريم: داچې ګناه کوې نو داسې ځای يې وکړه چې خدای دې ونه ويني. هغه کس ورته وويل چې دا کله ممکنه ده چې يو کار وکړم او له خدايه پټ وي له هغه چا چې عالم غيب السموات ولارض دی. ابراهيم ادهم وويل نو ستا په نظر دا ښه خبره ده چې دهغه رزق خورې په ملک کې يې اوسې او له هغه ونه شرميږې او ګناه وکړې ؟
څلورم داچې کله درته ملک الملک ستاد روح اخيستو له راغی نو ورته ووايه چې ماته وخت راکړه ترڅو توبه وکړم. هغه سړي وويل چې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه به هيڅکله له مادا قبول نکړي. ا براهيم ادهم وويل چې پس ته چې نشې کولای چې مللک الملک ديوې شېبې لپاره له ځانه ليرې کړې نو پس وړاندې لدې چې راشي نو توبه وکړه.
پنځم داچې کله درته نکير او منکر راشي دواړه له ځانه ليرې کړه هغه سړي وويل چې هيڅکله به زه داسې کار ونه کړای شم ، ا براهيم ادهم وويل پس دهغوی ځوابونه ورته چمتو کړه.
شپږم داچې کله له قيامته ورسته فرمان راشي چې ګنهګاران بوځئ دوژخ ته ، ته ورسره مه ځه هغه سړي وويل چې آيا شونې به وي چې زه په پرښتو غالب شم ؟ ابراهيم وويل چې پس ته ولـه کيسه همداسې ده لکه دا ودې چې ويل. وايي چې هغه کس توبه وکړه او شپږکلونه په توبه کې وو ترڅو يې له دنيا سترګې پټې کړې.
پلار ماته وکتل ، په سترګو کې يې اوښکې راوګرځېدې ، لاس مې يې ورونيو او په لاس کې يې تخته کړ.
- زويه هر کار چې کوې نو معنويت له ياده مه باسه ، دين ته پوره پوره پام کوه ، له هرډول اضطرابه به خلاص وې په ځان به متکي وې او تل به ډاډه وې.
پلار بس چې ډېرې غړېده خبرې يې اغيزناکې کېدلې ، نور نو د موټرو اډې ته رارسېدلي وو ، په تندي يې ښکل کړم او نور رانه روان شو.
کله چې يې راته شا شوه په اهميت يې پوه شوم ، پلار پلار... پلار پلار. عجيبه کلمه ده ؟ څومره رازونه پکې نغښتي دي ؟ خو حيف چې په اهميت يې نه پوهېږم.
نور مې نو په موټر کې د پلار په کيسه فکر کاوه او آمنه مې جګه سترګو ته ولاړه وه فکر کولو ته يې نه پرېښودم له بلې خوا مې پوهنتون په نظر کې وو او کله کله خو به مې نورنور څيزونه هم ياد ته راتلل ، له ځانه سره مې وويل چې په څوکلونو کې مسئوليتونه څومره ډېر شول ، بايد فکر وکړم. بايد فکر وکړم ، په دې سږ کال کې مې مسئوليتونه څومره ډېر شوي دي ؟ خدای خبر که خدای موږ ته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې قوي ذهن نه وای راکړئ نو دوه کاله ورسته خو به مې سر
چاودېدلی وای.
لدې سره زموږ د یوې ښوونکې خبره رایاده شوه ، په ټولګي کې یې
سترګې ګرځولې ماته یې سترګې ونیوې.
- اسد جان د افغانستان د سلو ولسوالیو نومونه به یاد کړې.
ما وخندل.
- مګر د انسان ذهن څومره قوي دی ؟
- ډیر قوي دی ډیر قوی دی ، افلاطون د خپل ذهن په سلو کې له پنځه
ویشت برخو استفاده کړې وه پاتې یې همداسې بې کاره پروت وو.
اوس مې یې دا خبره سمه نه یادېده چې هغې افلا طون وښود که بل
څوک بس په همدې فکرونو کې وم له وړوکتو به نیو لې د ښوونځي ،
دکان او هر ځای یوه یوه صحنه مې له سترګو تېرېده ، له ځانه سره مې
وویل چې عجیب دی د دنیا قانون هم ، که پخوا نې نه وای اوس به
موږ څرنګه ژوند کولو ، ګوره دا د پخوانو تجربې دي چې نن موږ پرې
تر دغه ځایه راسېدلي یو . ښه کارونه یې تکراروو او نورې ښېګنې
پرې مومو او له بدو یې ځان ساتو ترڅو له ډیرو بدو ځان وساتو . نور
مې نو پلار سترګو ته ودرېده د هغه یوه یوه خبره مې له ذهنه تېرېده ،
بیا مې آمنه یاده شوه او همدسې مې ذهن سرګردانه ګرځېده او
دسترې ژوند په ګرم ښار یې وزرونه خلاص کړي وو ماهم ورسره
ددغه ښار ګرمې سندرې ته غوږ کیښود او کرار کرار مې سترګې سره
ورغلې وې چې یو سوالګر مې د فکر نړۍ سره وخوځوله ، سترګې
مې ورپورته کړې چې سوالګر ځیر ځیر راته وکتل سخت ترې
وویرېدم یو خو عجیب جامې هم وې بل یې بل رنګ کتل ډیر ترې
وډار شولم ، د پلار کیسه مې رایاده شوه هغې نور هم وویرولم.
پلار کیسه کوله وایي یو پاچا وو ډیره دبدبه یې درلوده ، ډیر ظالم او
بې رحمه پاچا هم وو ، یوه ورځ یې تصمیم ونیو چې په یوه میله له
ښاره بهر ووځي ، ښه تیاری یې ونیو ، د خدای زور اسونه او شان او
شوکت یې ورسره برابر کړل په ډیره خوښۍ له ښاره مخ په بهر روان

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو ، کله چې له ښاره وتلو نو په لاره کې يو سوالګر ورته ودرېده ، لاس يې ورته وخوځاوه او ورته ويل يې چې صبر وکړه پاچا په ډير کبر کې ورته ودرېده.
- څه دي ؟
- په غوږ کې يې درته وايم.
وايي پاچا ته ډيره غوسه ورغله بيا يې په ډير غرور غوږ ورنږدې کړ.
- وايه.
هغه سوالګر يې وايي کرار په غوږ کې وويل.
- زه عزاريل يم غواړم چې روح د واخلم.
وايي چې پاچا يوځل بيا ورته وکتل ، په چرت کې شو بيا يې ځير ځير ورته وکتل ، نور يې ورته په زاريو پيل وکړ.
- دومره مجال راکړه چې بيرته کور ته لاړ شم ، اولادونه مې ووينم او دوه رکعته لمونځ وکړم.
وايي سوالګر ورته وويل.
- نه ماته امر شوی دی.
پاچا چې ورته هرڅومره زاری وکړې خو هغه سرې ونه منله ، وايي ځای په ځای يې ترې روح واخيست او له اس څخه راوغورځېده او سوالګر له سترګو پنا شو.
په همدې چرتونو کې وم ، سوالګر ته مې نيغې سترګې نيولې وې ، خو هغه موسک شو له ما تير شو بل ته يې لاس ونيو. ما سترګې پټې کړې ، خولې رابانديې ماتې شوې وې ، عجيبه وورېدم بيا راته د ابراهيم ادهم قيصه ياده شوه چې بايد هيڅکله هم خدای سړی هير نه کړي ، ځکه نه ملک الملک له ځانه شړلی شو ، نه مو هم له نيکر او منکر سره زور رسي نه هم په قيامت کې د دوژخ له عذابه ځان ژغورلی شو ، څه ښه وخت دی د توبې لپاره څه ښه فرصت دی ، بس همدا سې مې په چرتونو کې سترګه پټه شوې وه.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولسم څپرکی

پوهنتون

بس چې ورځ تيرېده نو زړه مې تنګېده ، په کوټه کې راسره ملګري به خوشحاله وو ، ښايي هم نوی يې کابل ليدلی وو او چې مازې به له درسه راغلو بهر به ووتل ، د پوهنتون ليليه راته عجيبه ښکارېده ، د سپلو ډوډۍ بېګانۍ نخودي او لوبيايي ډوډۍ چې وردګ به پرې ماښام ټوقې شروع کړې مګر کتابونه به وغوړېدل ، ځان مې عجيب احساساوه يواځې خو په عين حال کې به مې داسې احساس کاوه لکه چې د ټول هيواد کورنۍ مې راسره دي خو يواځې پلار به مې چې ياد شو نو هر څه به مې له ياده ووتل ، چې کوټې ته به راغلم نو ديګو نه به مې چې پريمنځل ، کار به مې چې کاوه او بيا به چې ويده کېدم پلار به مې نيغ سترګو ته ودرېده ، دهغه ښکلې خبرې ښکلې کيسې او ښکلي نصيحتونه.

په تخت ناست وم کتاب مې په لاس کې وو ، چرت مې ګډوډ وو يو وردګ ملګری مې راننوت ، تل به يې خوله له خندا ډکه وه ، اوږده نرۍ لوړه قواره يې ډيره په زړه پورې وه ، موږ به ډا کټر زړګی با له او تل به مو پرې ټوقې کولې ، خو دهغه له ټوقو به مو ښنا غوښته چې يوځل به يې په ټوقو شروع وکړه بيا به نو د چا پلار هم ترې نشو خلاصېدی.

لوښي يې پريمنځلي وو ، په ميز يې کېښودل ، لاسونه يې په دستمال وچ کړل ، هينداره يې مخ ته ونيوه او په ږمنځ پسې يې هغه خوا دې خوا کتل بيا يې شوخي پيل کړه.

- وهلکه ، رنځوره ، ناروغه په زړه ويشتله غزني چيه راځه بهرلاړ شو لږ سترګې به خوږې کړو دا دکابل نجونې دې انتظار کوي وآيي چې په کوټه ننوتلی دی راودې وځي يادېږي مو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ډاکټر زړګی وروځي هغه يې بس دی.
- نه زړګی نو د څه شي دی، دغزني چي غوندې قوارې چې نجونې يې سلامي، ته کتار ولاړې وي نه راوځي او زړګی وروباسئ ظالمانو په دا ښو مغزونو.. پورته پورته غزني چيه نن به راباندې ځان ووهي.
- پرې مې ږده وروړک مې يې اعصاب مې ګډوډ دي درسونه خو دې خپله وليدل؟
- بلا پدې درسونو پسې کړې پورته وايم چې حوصله نوره نشته که نه وي ګوره بيا خو نو پوهيږې.
زړګی ډير مسلمان ځوان وو، تل به يې د قران تلاوت کاوه، يو لمونځ يې بې جمعې نه کاوه خو په عين حال کې د هغه خبره سخت د خو لې چړپند وو چې څه به يې وويل بس ويل يې. بهر به چې ووتلو نو يا به د کارته پروان تر جوماته لاړو يا به مو د سپلو په مخ کې منډې وکړې او بيرته به سترې سترې کوټې ته راتلو، هغه په سترګو هسې ښکاريده تا به ويل چې له سره به درسونه نه وايي خو په ټولګي کې يې بيا ښوک دهغه خبره بچو نه وو چې ترې کړت وو هي، په انګليسي يې رواني خبرې کولې، عربي خو يې په ټپکه اخيستې وه اردو يې هم کله کله ويله او روسي خو يې نو د سياست په اړخ کې تکيه ګاه وه ډير تکړه ځوان وو، هغه به ماته ويل
- ډير روی غزني چی يې.
د روي معنی چالاکه ده هغه به هر چاته ويل چې فلانی روی دی.
خلاصه په زور يې ورسره بهر وايستلم، خو زما چکر ته زړه نه کيده درې مياشتې مې پلار نه وو ليدلی وو، يوه مياشت وړاندې د خاله دوی کره لاړم آمنه مې وليدله، ريښتيا يې هم راته وژړل له ډيرې خوښۍ يې وژړل بيا پټه بلې کوټې ته لاړه، ډاکټر راته ويل چې پلار راته ليک استولی دی، پلار په ليک کې ډير ښيزونه راته ليکلي وو، ټولې يې ښکلې کلمې ليکلې وې، دهغه خط ډير رنګ بنګ خط وو، يوائې يې يوڅو ټکي ښه ذده وو، چوکاټ، ته درې، څنګ درې، پله، سردرې، کچالک او داسې نور چې هغه به يې د خپل کار لپاره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه زړه خیرې خیرې کتابچه کې نوټ کول.
مازیګر مې زړه تنګ وو ، راغلم کتابونه مې راواخیستل ، آمنې مې له هرڅه غیبره چاپیره کړې وه ، دشپې مې هم دهغې سترګې په خوب لېدلې دورځې مې هم دهغې خبرې ، کتل او حرکات له نظره تېرېدل.
په تخت اوږد غځېدلی وم چې ډاکټر زړګی راننوت ، له خوښۍ یې پورته پورته ټوپونه وهل.
- ښه بالاخره ماهم ولید ، یاخدایه ته یې ورته وساتې دواړه څو مره یو بل ته ورته دي څومره ښه دي وای وای.
- څه خبره ده وه وردګه ولې دې بیا اډونو بخار کړی دی ؟
- پرېږده دا خبرې ، زیری به مې څه شی وي ؟
- د څه شي زیری ؟
- ووایه زیری به مې څه شی وي ؟
- ښه خو چې څه دغوښتل کنه ووایه ؟
- د ابراهیم ادهم سیوری راغلی دی.
- هې ؟ ریښتیا وایې ؟
- ولا باالله.
بس راټوپ مې کړل ، یاخدایه ! دا څرنګه شېبه ده ؟ ډاکټر زړګي زما ټولې کیسې اورېدلې وې هغه به زما پلار د ابراهیم ادهم سیوری با له کله کله به یې ماته هم ویل چې د ابراهیم ادهم سیوری. بهر راووتلم که ګورم چې ډاکټر رحیمي د موټر په مخ کې ولاړ دی او په محصلینو کې ګوري.
- سلام.
- سلام سلام جوړ پخیر. بهبهب
ما شاوخوا کتل ، ډیر خپه شوم ، پلار چې نه وي تا په بلاوهم ، وخورې دا ستره خبټه او تنګه دریشي له ځانه سره غوسه راغله ، چې له شانه راباندې چالاس کېښود ور ومې کتل چې پلار وو ، له ډیرې خوښۍ مې ورته وژړل ، ډیره شېبه مې په غیږ کې نیولی وو ، او ورته ومې ژړل پلار هم ډیره شېبه خپله ژړا سره قابو کوله وروسته یې راته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل.
- ګوره لیوني ته څه په لندن کې خو نه اوسې درې میاشتې کیږي چې نه مې وې لیدلی.
خو زما په دې خبرو سر نه خلاصېده، ډیره شېبه مې مخامخ ورته وکتل، هغه پلار نه وو چې په ترکانۍ کې به یې لنډ کمیس او ستر پرتوګ اغوستی وو، هماغه د اختر جامې یې اغوستې وې او توره لنګی یې هم تړلې وه، ډیر ښکلی شوی وو، خو له قوارې یې مالومېده چې ډیر ضعیف شوی وو. ډاکټر راته مخامخ وکتل موسک شو.
- ګوره ورته واړه ته خوار؟ ورشه انډیوالانو ته وو ایه چې نن شپه بل ځای ځې، څه ورشه هله بچو.
بس له ډیرې خوښۍ مې داسې منډې راوکړې چې مه یې کوه پوښتنه، ډاکټر زړګی مې له ډیرې خوښۍ کلک مچې کړ او ورته و مې ویل چې زه نن شپه ځم د خاله دوی کور ته مې هغه هم موسک شو څه یې ونه ویل.
ماښام د خاله دوی په کور کې وو، زه ډیره شېبه د پلار خواته ناست وم، د پلار نصیحتونو ته مې غوږ نیولی وو، آمنه هم مخامخ ناسته وه، خولې ته یې ټیکری نیولی وو موسکه موسکه کېده، ډیره شېبه مې کله په هغې کې سترګې ګنډلې او کله به د پلار مخ ته ځیر وم، ډاکټر ته نور خوب ورغی هغه اجازه وغوښته او ووتلو، ما پلار ته کتل، ورته موسک شوم.
- پلاره د ابراهیم ادهم نوې کیسه دې راته لیکلې او که همداسې یې راته وایې؟
پلار په زوره وخندل، د آمنې خندا مې نور هغه دچا خبره د زړه د کوټې تیر مات کړ، خاله هم په خندا له بهره راننوته، یوځل یې ماته وکتل بیا یې پلار ته وکتل چې له خندا خوشېده او بیا یې آمنې ته وکتل، آمنې هم ټیکری په خوله ومنډلو او مور ته یې وکتل په خندا کې یې ورته وویل.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- آخې مورې کوچنې پلار پیدا کړی دی د ابراهیم ادهم کیسه ترې غواړي.
خاله هم له خندا شنه شوه ، ډیره شېبه ولاړه وه بیا یې چای جوشې ټولې کړې او مخ په بهر ووته ، ما آمنې ته وکتل ، هغې شاوخوا وکتل بیا یې په پلار کې سترګې وګنډلې چې پلار نسوار توف کاوه هغې سترګه ووهله او موسکه شوه له کوټې ووتله.
نور نو زه او پلار یوا ځې پاتې شو ، پلار را ته ډېرې غورې کړې ، د کور په اړه د دکان او ترکانۍ په اړه څه کارونه یې چې کړي وو ، کوم پورونه چې راختلي وو ، کوم پورونه یې چې اوس په خلکو باندې شوي وو ، ډیره شېبه راته وغږېده ، نور نو د خوب وخت وو ، خاله راغله او به یې راوړې نور نو هغه لاړه موږ یې په کوټه کې پرېښودلو ، بیا مې پلار ته وکتل او هغه هم راته موسک شو.
- ښه نورې څه غورې دي ، کابل درته څرنګه دی ؟
- بس بد ندی.
- سات دې تیر دی کنه ؟
- هو ښه یم بس له درسونو سره بوخت یم.
ډیر مې زړه غوښتل چې په خوا کې یې وغځېږم او د اوو ټګانو نکل راته وکړي یا هم د ابراهیم ادهم یوه نوې کیسه راته ولولي خو نور نو له ځانه شرمیدم ، غټ میړه یم ، غټ میړه یم.
سهار هم پلار ویل چې ځینې ځینې شیزونه اخلې نور نو کور ته روانیږې ، زما پرې زړه نه کېده چې ترې خدای پاماني وکړم ، سهار یې راته په جیب لاس وواهه بیا یې د خدای زور پیسې راته ونیوې ما پیسو ته وکتل خندا راغله.
- هغه پخوانۍ مې هم لاندې مصرف کړې.
- بد دې کول، کنجوسي مه کوه ، کله کله چې بازار ته ځې له همزولو ځان مه ټیټوه ، که د ترکانۍ زوی یې خپل شخصیت خو دې جلا دی.
- نه بابا کاشکې د نړۍ ټول انسانان تا غوندې وی.
- هو نور به نو عجب اتڼ جوړ وای.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې هم وخندولم او په خندا مې ترې خدای پاماني واخیسته ، نور نو پلار هم لاړ او زه هم لیلیې ته راغلم ، ډیر مې زړه غوښتل چې هیڅکله هم ترې جدا نشم ، خو بیا به مې د پلار هماغه خبره رایاده شوه چې دا د طبیعت قانون دی څومره چې پرمختګ کوې هومره به د مینې مزې هم سستیږي او هومره به سرګردانۍ ډیریږي.

دیارلسم څپرکی

آمنې ته لیک:

له یوې خوا ورځ په ورځ درسونه سختېدل له بلې خوا د پلار یاد وو ، دآمنې یاد وو ، هیڅ نه پوهېدم لکه لیونی کیږم چې داسې احساس مې کاوه چې ژوند پوچۍ په سر اخیستی ، کله به مې له ځانه سره ویل چې پوهنتون به هم ونه ویلی شم ، کله به مې ویل چې که آمنه زما نصیب نشوه نو په هغه ورځ به ځان وژنم کله به څه فکرونه وو کله څه ؟ خو بیا به مې د پلار خبره رایاده شوه چې ویل یې ته نن هغه څوک یې چې ته پرون هغه څوک وې چې نن ورځې درته انتظآر کاوه او نن ورځ هغه څوک یې چې سبا درته انتظار کوي او سبا به هم هغه څوک یې چې نن یې فکر کوې ، پس مثبت فکر کوه او هڅه کوه ، بیا مې خپلې کتابچې ته وکتل په وقایه مې یې لیکلي وو ، راتلونکی په هغه چا پورې اړه لري چې هیله یې لري او په هغه ټینګ ولاړ وي ، له ځانه مې سر وخوځاوه او نور مې ځان ته ډاډ ورکاوه ریښتیا هم پرون مې فکر کاوه چې پوهنتون ته به ځم دادي پوهنتون مې یو سمستر ختم کړ او باید وړاندې فکر وکړم زه کولای شم ریښتیا هم کولای شم.
یوه ورځ مې کتاب راسره واخیست ، په چمن کې ورسره پریوتم ، خو درس خوند نه راکاوه ، زړه مې غوښتل چې د آمنې په اړه فکر وکړم ، څرنګه به ورته خپله مینه ووایم ، آیا هغه هم راسره همداسې مینه لري

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

؟ خو چې د هغې حرکات به را یاد شول نو بیا به مې له ځانه سره وو یل چې هغه به هم لکه زه او س په ما کې فکر کوي. قلم او کاغذ مې راواخیست ، زړه مې غوښتل دومره اوږد لیک ور ته ولیکم چې دوه ورځې یې لولي.
مینې ، سلامونه ، درنښتونه او نېکې هیلې
وروسته:
ډېر وخت مې زړه غوښتل چې دومره اوږد لیک در ته ولیکم چې دوه ورځې یې لولې ، زړه مې غوښتل چې په زړه کې مې ستا د خندا او ستا د څېرې تصویر په کاغذ درته ولیکم او درته وایې ستوم ، زړه مې غوښتل چې خپلې ټولې ارزوګانې درته ولیکم او درته وایې ستوم ، زړه مې غوښتل چې داسې لیک درته ولیکم چې تر اوسه په نړۍ کې هیچا هم نه وي لیکلی ، او زړه مې غواړي چې ته هم داسې لیک راته ولیکې چې خپلې ټولې مینې دې پکې انځور کړې وي ټولې ارزوګانې ، خوښۍ او د زړه ټول حال.
میاشت وړاندې چې له پلار سره درغلی وم ، تا راپورې وخندل چې ماله پلاره د ابراهیم ادهم کیسه وغوښته ، زړه مې غواړي چې له پلار وروسته راته ته کیسه ولولې ستا په خوا کې ویده شم او ته راته نصیحت وکړې ، زما هره خبره واورې او بیا موسکه شې.
زه د ارزو څوک یم ، پلار ارزومن روزلی یم او تل مثبت فکر کوم ، زړه مې پخوا هم راته ویلي دي چې یوه ورځ به مې خدای نصیب کړي چې ستا خندا نوره زما محرم وي زما خندا تا ته محرم وي ، ته زما تکیه وې او زه ستا تکیه وم ، زړه مې غواړي چې هرڅومره مې زړه مات شي ته یې ورغوې او زړه مې غواړي چې هرڅو مره د زړه مات شي زه یې ورغوم ، زړه مې غواړي چې د ابراهیم اد هم غوندې ستا د مینې کعبې ته د شام دښتې درکچ کړم او زړه مې غواړي چې پښې یې بلې ، څیرې ګریوان او پاره پاره جامه دې تر دره ځان ورسوم او زړه ستا د مینې له چینې داسې سېرابه کړم لکه ابراهیم ادهم چې موړ وو ، زړه مې غواړي چې ستا مینه مې په زړه کې د هر پیل او پای وا کداره وي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زړه مې غواړي چې هر اول او آخر ستا په نوم کړم ، زړه مې غواړي چې یو اځې ستا ناز او کرشمې مې په زړه کې د خوښۍ اتڼ و کړي او یو اځې ته مې د مرګ سلګۍ وګورې ، زړه مې غواړي چې یو اځې ته مې د ژوند د خطیر سفر ملګرې وې او ستا مینه مې په زړه کې انرژي او توان وزیږوي زړه مې غواړي چې...
چې کاغذ ته مې وکتل ریښتیا دوهمه پاڼه مې هم ډکه کړې وه نور مې نو خبره راټوله کړه خو زړه مې غوښتل چې ډیر څه ورته ولیکم.
ګوره دا لیک چې دې ولوست په همد غه کتاب کې بېر ته لیک راته ولیکه ، زړه مې غواړي چې یو اځې هماغه لیک مې نور د هرڅه ځواب وي ، ګوره د ځواب په تمه یم ، د جمعې په ورځ درځم لیک به دې حتماً لیکلی وي او د همد غه کتاب په منځ کې به دې ایښی وي.
کاغذ مې قات کړ په کتاب کې مې کیښود ، نور درس هم مزه نه راکوله له هغه ځایه راپورته شوم ، په چرت کې وم که کاغذ یې پلار وګوري ، مور یا یې هم خور وګوري څه به وایي ؟ نه بې له هغې به یې بل هیچا ته هم نه ورکوم.
جامې مې واغوستې د آمنې دوی د کور لور ته روان شوم ، عجیب احساس مې کاوه ، زړه مې غوښتل چې ژر یې راته ځواب لیکلی وای ژر یې لوستلی وای او ژر یې بېرته کاغذ په لاس را کړی وی ، کور ته یې ورغلم ، زنګ مې وواهه ، خپله آمنه وه ، له خوښۍ الوتلم.
- بلې ؟
- آمنې زه یم اسد ،ګوره یو ځل خپله راووځه کار مې دی درسره.
- په دواړو سترګو درغلم ، ریښتیا راځه کور ته کنه.
- نه ته راشه لو مړی تاسره کار لرم.
زړه مې درېږده ، څو راوتله ، څوځله مې په ځان آیت کرسي چوپ کړه ، یا خدایه اوس خبرې رانه هیرې نشي ، څه ورته ووایم ، په همدې سوچونو کې ولاړ وم چې آمنې دروازه خلاصه کړه ، موسکه او جادوګره قواره یې را ښکاره شوه ، سترګې مې یې خونې سرو غټو غټو سترګو ته ونیوې او داسې مې ورته وکتل لکه له موسکې قوارې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې چې په زړه کې تصويرونه اخلم.
- به به سترګې مو روښانه ، د پلار ماشوم وګوره ، سترې مشې راځه کور ته.
- نه نه ځم ، بس ببرته ځم يواځې دا کتاب مې راوړی دی.
- د چا دی ؟
- ستا لپاره.
- زما لپاره ؟
تندی يې ګونځې کړ کتاب يې ور واخيست بيا يې واړاوه ، په منځ کې يې کاغذ ته پام شو راوايې خيست ، زه وچ حيران شوم اوس څرنګه کوې.
- نه نه ګوره دا دلته مه ګوره ، يواځې ستا لپاره دی چې بل څوک يې ونه ګوري کور به يې وګورې.
- څه دي پکې ؟
- ته يې وګوره ته هم همدومره وليکه لا زيات.
- څه شی وليکم ؟
- ته دا ولوله بيا به پوه شې زه اوس ځم.
- پاتې شه خاله هم کور ده چای وڅښه بيا به لاړ شې.
- نه مننه درسونه لرم ، خدای پامان.
- مخې ته مو ښادی.
ورته مې کتل سترګې يې تتې کړې ويې خندل لاس يې وخوځاوه او دروازه يې بنده کړه ، نور نو مخ په پوهنتون روان شوم عجيبه احساس مې کاوه لکه چې اډونه مې سپک شوي وي خو انديښنې مې کرارې کرارې زياتېدې دهغې يوه يوه خبره را يادېده.
- څه دي پکې ؟
- څه شی وليکم.
- پاتې شه خاله هم کور ده چای وڅښه بيا به لاړ شې.
- مخې ته مو ښادی.
په چرتونو کې پوهنتون ته لاړم ، ټوله شپه مې هغه په خوب لېده ، کله

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

به مې يې ليک په خوب ليده چې اوږد ليک يې را ته ليکلی وي. سبا ته پنج شنبه وه ، په درس له سره ونه پوهېدم ، يواځې هغه مې سترګو ته ولاړه وه ، دهغې خندا ، شوخي او ښکلې سترګې ، که به مې استاد ته کتل ، ذده کوونکو تختې او هر څه ته دهغې تصوير مې ليده ، نه مې ځان غړولی شو او نه مې هم يواځې په هغې فکر کولای شو.
بېګا مې هم همدا سې چرت خراب وو ، سبا تـه د جمعې ورځ وه ، سبا ته ورتللم له ځانه سره مې بس همدا ويل چې څه به يې راتـه ليکلي وي ؟ مينه ناک ليک به وي ، غمجنوونکی ښکلی او که به يې څه ليکلي وي ؟.
سبا مې زړه ټوپونه وهل بس ځان مې تيار کړ او د خالـه دوی د کور پـه لوري مې مخه واخيستـه ، زنګ مې وواهه ، زړه مې ډېبېده اوس به هم آمنه وي وايي به چې څوک يې ؟ په همدې چرتونو کې ولاړ وم چې خاله غږ کړل.
- څوک يې ؟
- زه يم اسد .
- به به راځه راځه.
چې ورننوتم ، خاله په سرای کې لمر ته پښې غځولې وې ، زرلښت او نورزيـه يې هم خواتـه ناستې وې چای يې څښلو ، چې ور ورسېدم کامران له کوټې وليدم رامنډه يې کړه.
- نامرده.
سخت وډار شولم ، له ځانه سره مې وويل چې لکه چې هغـه ليک يې ليدلی دی که څه بلا خو بيا مې زړه ولګېده.
- هغـه بلـه ورځ راغلی وې پـټ تللی وې تاويـل چې خپـل نوټونـه بـه درکړم ، راوړي دې دي.
- نه قران له ياده مې ووتل.
- ځه ته هم که خير وو څوک ډاکټر کېږې ليونی به شې.
دخاله خواته کېناستم ، چای يې را ته واچاوه ، خو مـا پـه آمنـه پسې سترګې غړولې ، چې لږ وروستـه له کوټې راووتـه پـه برنډه روانـه وه

Downloaded from: www.ketabton.com

راته ويې کتل هيڅ غږ يې هم ونه کړ لکه خپه چې وي په بله کوټه ننوته ، ما له ځانه سره فکر وکړ چې لکه چې لاړم تباه برباد شوم ، خاله راته خبرې کولې خو په يوه خبره يې هم پوه نشوم.
- څنګه زويه وايم درسونه دې ښه دي ؟
- هه ښه دي بد ندي.
- څنګه داسې سره اوتر يې لکه چې درسونه درباندې ډير دي ؟
- هو ولا له پلاره هم نه يم خبر تاسې ته يې څه حال ندی را استولی ؟
- نه جوړ او روغ دی.
- رخصتۍ مو کله دي ؟
- نور نو نږدې دي.
- ښه له خيره بيا نو زه هم درسره ځم يو چکر ځم د غزني زيارتونو ته ډيره موده نه يم تللې.
ډيره شيبه يې خبرې وکړې ، زه حيران وم اوس څه وکړم ، نور مې نو تصميم ونيو چې پورته شم ، کتاب يې هسې هم رانه کړ ، له ځانه سره خجالت هم وم او له ځانه مې نور بد هم راتلل آمنې ته مې هم غوسه راتلله.
راپورته شوم خاله ډيره ټينګه شوه ، خو زه راپورته شوم خدای پاماني مې ترې راواخيسته او مخ په بهر راووتلم ، په فکر کې وم چې ولې يې ليک رانه کړ ؟ولې يې روغبړ و نه کړ ؟ولې مروره وه ولې ؟بس په همدې فکرونو کې روان وم چې له شا چا غږ راپسې وکړ.
- صبر دا کتاب دې له ياده وتی.
ور ومې کتل ، آمنه وه پخپله ، له خوښۍ الوتلم په منډه ور وګرځېدم له ليرې مې سترګې پکې خښې کړې ، خو هغې تندی ګونځې نيولی وو او په غوسه کې يې کتاب راته ونيوه.
- واخله دا کتاب دې او بله ورځ دې که کتاب درسره راووړ خبر دې وي ؟
- ولې ؟
- همداسې ، چې ومې ويل.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه يې روغبړ وکړ او نه يې هم خداى پاماني بدبديې راته وکتل او دروازه يې ورونيوه.
- نور نو مخې ته ښه.
نه يې هغه د مينې ډک سلام وو ، نه يې هم هغه خوږه او په يا پاتېدونې خداى پاماني ، زه وچ حيران شوم له ځانه سره مې وويل چې نو په ليک کې مې څه ليکلي وو چې دومره غوسه ده ؟ ډير مې زړه غوښتل چې ليک همدلته ولولم خو په ډيرو تکليفو نو مې ځان ورسره تر پوهنتو نه را ورساوه ، د پوهنتون دروازې ته چې رسېدلم پام مې شو که يې ليک نه وي ايښى. زړه مې وډ ببېده او ژر ژر مې کتاب واړاوه چې ومې ليدل ليک په کې وو. نور مې زړه ښه شو له ځانه سره مې وويل چې بس هغه يې حتماً راسره شوخي کوله چې ځان يې غوسه نيولى وو. هان په وړوکتوب کې دهغې عادت وو ډيره شوخه وه ، داسې شوخي به يې وکړه چې درې ورځې وروسته به پوه شوې چې هه دا يې شوخي کوله.
لاړم د اوبو يو ګيلاس مې راډک کړ او د تخت په سر ور ته کينا ستم ، نور ملګري څوک ويده وو او څوک بهر وتلي وو ، ځان مې ښه ورته سم کړ او کاغذ مې را وايست ، د هماغه ليک په څټ يې ټول څه ليکلي وو او د واړو پاڼو څټونه يې ډک کړي وو ، له ليرې مې يې چې په ليک سترګې ولګېدې نو په زړه کې مې وغوړ بده ، څو مره ښکلى ليک يې دى.
د ليک په تندي يې ليکلي وو:
کرکه او نه هيلي مې ومنه.
ماهيڅ فکر نه کاوه چې ته به دومره سپين سترګى وې ، د لو مړي ځل لپاره څوک راته دميني ليک ليکي خو سخت تير وتلى دى ، خداى دې وکړي چې دا ليک د زړه مات نه کړي مګر مجبوره يم چې داسې څيزونه درته وليکم ، زړه مې غواړي چې نور مې له ياده وباسې خپل درسونه دې ولولې او دا نصيحت مې په غوږ کې وساتې چې هيڅکله هم په دغه لاره پل کېنږدې. ما دومره فکر نه کاوه چې دومره له لارې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتلی وي ، ښه فکر وکړه ، له دې ځيزونو لاس واخله ، يو اځې پلار دې کولی شي د ابراهيم ادهم کيسې درته ولولي او زه هم يو اځې د هغه په سترګو درته احترام کوم ، نور هيڅکله هم ماته ليک ونه ليکې هيڅکله هم زما په اړه قلم په کاغذ کښېږدې او که دې بيا ليک راغی نو خپل پلار ته به يې په لاس ورکړم چې هغه درته ځواب وليکي او په خپله يې پوهنتون ته دروړي.
ما پخواهم په دې اړه فکر نه وو کړی او اوس هم پدې اړه فکر نه کوم ، تا زما په اړه بل فکر کړی دی نو لطفاً بيا راته ليک مه ليکه او نوره مې له ياده وباسه خپل درس ووايه او خپل کار پر مخ بوځه.
خدای دلره.
آمنه رحيمي.
له ډيرې غوسې ځای رابانديې تنګ شو ليک مې شيرې کړ او د کثافاتو سطل ته مې غوځار کړ چې څه ښيرواې او ښکنځلې په خوله راغلې ورته ومې کړې ، له ځانه سره مې وويل چې څومره هيلې مې درته درلودې او څرنګه مې دې زړه مات کړ خدای د زړه مات کړه. بيا په فکر کې شوم چې دا ښکلې ټول داسې بد زړي او سخت زړي دي ، فکر کوي چې د نړۍ ټولې ښګينې په هغوی کې نغښتې دي او د ټولې دنيا نيکمرغۍ د هغوی انتظار کوي مګر سختې تيروتلې دي يوه يوه متوجه کيږي ، ياره په نړۍ کې به هيڅ ښکلی هم نه وي چې ښه ، آبرومندانه او هوسا ژوند ولري دا ددې له کبله چې ژر تير وځي ژر ځان ته غره شي او ژر ځان ترې ورک شي ، بس ژر بې لارې هم شي... بس په همدې فکرونو کې وم ، که به بهر ووتلم او که به کوټې ته راغلم هيڅ ځای مې هم طاقت نه کېده ، کله به مې ځان په کتاب بوخت کړ هم نه کېده ، آخر نه کيږي څرنګه به يې له ياده وباسم.
شپې ورځې تيرېدې ، د آمنې د مينې په ځای مې په زړه کې کرکه راټوکېده ، چې څومره به وخت تيريده نو کرکه مې يې په زړه کې غوړېده ، بس په دې مې فکر کاوه چې په چا به مينه وي او له چا سره به مينه کوي ؟ دا فکر به مې چې سر ته راغی نور به نو له غوسې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاودېدلم.
د اسمستر هم خلاص شو کور ته لاړم ، رخصتي مې تيره کړه خو په هيڅ پوه نه شوم ، نور مې يې له کوره هم بد راتلل ، او زړه مې بل قسم ډک وو ، پلار هم ډيره تسلي راکړه هغه ويل چې دا جينۍ زه پيژنم هغه ستا خوشبختي غواړي زه پوهيږم چې هغې په کومه موخه دا کار کړی خو زه پوهيدم چې هغې په ليک کې ما ته څه ليکلي وو پلار خو هغه ليک نه وو لوستلی.

بل سمستر هم داسې تيربده ، ډاکټر خوځله پوهنتون ته راغی ، پوښتنه مې يې وکړه سخت به راته ټينګ شو چې ورسره لاړ شم خو ورسره لاړم نه ، زړه مې بل رقم ډک وو ، نور مې له ډاکټر ، خاله او له ټوله کوره مې يې بد راتلل.

خو هيڅ قسم مې له زړه نه وتله او زړه ته به مې هره ورځ تسکين ورکاوه ، په درسونو به مې ځان بوختاوه او د ډاکټر زړګي ټوقو ته مې ډير غوږ نيولو ، د دغه سمستر نيمايي وو چې د ازموينو په پيلېدو سره مې نور د هغې له يادونو سره مخه ښه وکړه نور مې غوښتل چې د هغې مينې ته د پای ټکی کېږدم.

خوارلسم څپرکی

د پلار مرګ

څومره چې درسونه سختېدل هومره مې زړه ماتېده ، ورځ په ورځ مې له دنيا بد راتلل ، د پوهنتون حا او هوا مې په زړه مې منګولې خښولې او عادت کولم يې ، وخت سخت تېرېده نه مې په درس بساينه کېده او نه مې هم پوچو او خوشو خيالونو تنده ماتولی شوه ، سهار به تر بيګا ناست وم کتاب ته مې هسې سترګې نيولې خو فکر

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

به مې بل خوا وو ، بل بل رقم فکرونه مې کول.
یوه شپه مې کتاب په سینه ایښی وو ، پلار مې نیغ سترګو ته ودرېده ، یوه یوه کیسه مې یې سترګو ته ودربېده ، داځل چې په رخصتۍ تللی وم یوه کیسه یې راته وکړه ډېره خوږه وه.
- زویه کله چې ابراهیم ادهم تخت پرېښود او له ښارهلاړ نو ټول ملت یې پسې سرګردانه شو یوه ورځ یوکس ښار ته راغی زیری یې وکړ چې ابراهیم ادهم یې په خپلو سترګو لیدلی دی چې د یوه سیند په غاړه په یوه ګټه ناست وو ، ټول رعیت یې ، ښځه یې او زوی یې پسې ووتل ، کله چې ورغلل نو ابراهیم ادهم یې ولید چې د سیند په غاړه په یوه ګټه ناست دی او خپل پوستین ګنډي ، رعیت او ښځې یې ټولو په یو غږ ترې پوښتنه وکړه.
- اې عادله پاچا !ولې دې تخت پرېښود او داسې ژوند دې غوره کړ ، راځه بېرته راسره لاړ شه ټول خلک درته انتظار کوي.
وایي چې ابراهیم ادهم ورته د نه تللو ځواب ورکړ ، ټول ورته سخت ټینګ شول ، ډېرې زارۍ یې ورته وکړې ، وایي چې ابراهیم ادهم پداسې حال کې چې خپل په خپل پوستین بوخت وو وویل.
- درسره ځم خو په یو شرط.
وایي چې ټولو په یوه خوله وویل.
- په دواړو سترګو شرط وایه.
وایي ابراهیم ادهم له خپلې ستنې تار وویسته او اوبو ته یې غوځاره کړه او بیا یې خلکو ته مخ ور وګرځاوه.
- که مو له سینده زما ستنه راوکښله.
وایي چې خلکو ورته وویل چې یا عادل پاچا دا به ډېره سخته خبره وي موږ به کله وکولای شو دا دومره ستر سیند او تاسې یې دا سې منځ ته ورغوځار کړه وبه یې نه موندلای شو. وایي چې ا براهیم ادهم موسک شو او سیند ته یې مخ ور وګرځاوه.
- ماهیه !زما ستن راپیدا کړه.
وایي خلکو یو بل ته وکتل چې ژرنګه شونې ده چې ماهی ستنه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپیدا کړي. وایي یو ماهي له اوبو سر راپورته کړ او په خوله کې یې ستنه وه ، ابراهیم ادهم وویل چې دا زما ستنه نده ، ډیره شېبه بیا ماهی په اوبو کې ورک وو وروسته یې سر رابنکاره کړ او په خوله کې یې ستنه وه ابراهیم ور پورته شو او ستنه یې ترې راواخیسته ، ما هي ته یې شاباسی ووېل او خلکو ته یې مخ راوګرځاوه.
- دا پاچاهي مې ښه ده او که هغه ؟
وایي چې ټولو خلکو په یوه خوله ځواب ورکړ.
- نه دا پاچایي مو څو ځله ښه ده.
وایي چې ابراهیم ادهم وویل چې پس داسې ده نو ما پخپل حال پرېږدئ او تاسې لاړشئ ځانته بل عادل پاچا غوره کړئ ، په ما کار مه لرئ.
پلار به سره وخوځېده راته موسک به شو.
- نو داسې غورې دي ،زویه له معنو یت سره چې ژوند کوي په ډیرو رازونو به پوه شې او ډیرې غوټې به در ته خلاصې شي ، دا زړګو نه کیسې او حکایات ټول هم دروغ ندي.
ټوله شپه مې پلار عجیب عجیب په خوب لیده ، تر سهاره ویده نه شوم ، کله به بهر ووتم او کله به هم راغلم په تخت کې به ویښ نا ست وم ، هیڅ آرام نه راتللو ، فکر مې بل ډول ګډوډ وو سر مې درد کاوه او یوقسم خولې شوی وم. سهار مې زړه نه کېده چې درس ته لاړ شم ، په انګړ کې ګرځېدم یو چا غږ راباندې وکړ.
- ډاکټر اسد بهر غواړي.
زه حیران شوم ، څوک به وي ؟ چې ما غواړي ؟ ور ووتلم ، ډا کټر بهر ولاړ وو ، کورنۍ جامې یې په تن وې او یوډول وارخطا ښکارېده ، زما زړه وډبېده له ځانه سره مې وویل چې خدای د خیر کړي. په موټر کې ورسره سپور شوم خاله او آمنه هم ناستې وې ډاکټر هیڅ نه ویل خاله ته مې وکتل.
- چېرته ځو ؟
- ځو غزني ته پلار د حال راا ستولی دی چې لږ څه ناروغ دی ماویل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې ته به يې ورشو دا موښه وبلله چې ته هم راسره ولاړ شې.
دا خبره يې بل ډول راته ښکاره شوه ، زړه مې په زوره زوره وډبېدلو ، د آمنې سترګو ته مې وکتل هغې د ښيښې لور ته وکتل او لکه چې په سترګو کې يې اوښکې وې ځان يې سره هغې او دې خواته کړ ما له ځانه سره وويل چې ولا کومه خبره شته.
- ژر کړئ وو ايئ په پلار څه شوي دي ؟
- هيڅ ندي شوي کراره کراري ده ليونی مه کيږه.
خو زړه مې نه کرارېدلو ، ستونی مې وپړسېده له ځانه سره مې وويل.
- زه په دنيا کې همدا يو پلار لرم ، هغه هم داسې پلار ، د ځمکې په سر د خدای ښېګه د مينې ، وفا ، عزت او و قار ځلی ، خدای خو يې دې راته سل کاله نور هم ژوندی لري ، ياخدايه ! مخکې له مايې روح مه اخله ، مايې له غيږې ژر مه بې برخې کوه ، هغه ما ته لا ډيرې نورې کيسې هم لري ، دهغه کيسې لاندي ختمې شوې ، د هغه مينه تراو سه په شور کې ده او زړه يې لا ډير څه لري.
بس همداسې له ځانه سره غږېدم چې خاله مې په سر لاس کېښود.
- زويه ليونی ليونی مه کيږه ، جوړ او روغ دی ته خو زموږ زړونه غورځوې ، شکر ځوان يې دا خبرې څه شی دي چې کوې يې.
په لارې هرڅه راته عجيب برېښېدل ، زړه مې ډک ډک کېده ، زړه مې غوښتل چې ښه وژاړم دومره وژاړم چې ځومې پلار ندی ليدلی ، بس نور نو نه شوه ژړا مې نه شوای تم کولای په سترګو کې مې اوښکې وګرځېدې.
- هغه زما يوائينی تکيه ګاه ده بې له هغه ما ته ژوند معنی نه لري همداسې چې بې له ما هغه ته ژوند معنی نه لري.
آمنې سلګی وکړه ، ورته ومې کتل سترګې يې له ژړا سرې او ښتې وې ماته يې وکتل او نور يې نو په خاله سر کېښود ، ډاکټر هم سترګې وموښلې او خاله هم مخ ته ټيکر ونيو. نور نو پوه شوم چې په پلار څه شوي دي ، تر غزني پورې مې نور په ژړا سر وخوږاوه ، هيڅ ډول لاره نه لنډېده له لارې له کورونو له موټرونو له هرڅه مې بد راتلل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

، زړه مې لکه تيره هسې کلک شوی وو ، زړه مې غوښتل چې په چيغو چيغو وژاړم ، خاله او آمنې ته مې وکتل.
- هغه ويل چې زموږ ژوند لکه د شمې هسې مثال لري ، يوه ورځ مو شمه بله شوې ده يو ورځ به ختمېږي او مرو به ، څه موده وروسته به له ذهنونو پاکيږو لکه د شمې چې غوړ پاتې شي خو څه موده وروسته هغه هم پاک شي ، هغه ويل چې دا شمه يوه نده ډيرې شمې زموږ په شاوخوا کې بلې دي له موږه وړاندې او خدای خبر له موږه وروسته ، خو خدايه زما شمه هم له هغه سره يوځايي مړه کړې زه به د هغه دوري هيڅکله هم ونه زغملای شم.
بس په همدې چيغو او ژړا کې مې تر کوره ځان راورساوه ، له موټره چې ښکته شولو ، مامخ په کور ورمنډه کړې ، دکور په انګړ کې ډير خلک ولاړ وو ډير بيرو بار وو ، نور مې نو له اډو د مه وتښتېده سر راباندې ګرځېده د اسلان پلار ته مې وکتل.
- پلار مې چېرې ؟
هغه شاوخوا وکتل ، بيارانږدې شو خو ما پورې واهه.
- پلار مې چيرې ؟
صبر وکړه ولې وارخطا يې راځه ، پسې روان شوم ، په کوټه يې ور ننه ايستلم په هغه کوټه چې تل به يې راته پکې کيسې لوستې تل به يې راته خندل او خواته به يې ويده کيدم ، په کوټه کې چپرکټ ايښی وو ، دومره چېغه مې له خولې ووته چې څو مې په کومې کې ځايېده ، نور مې نو يقين راغی چې پلار نورې سترګې پټې کړې دي نور يې نو شمه مړه شوې ده او نور يې نو يواځې پرې ايښی يم خو په ليوالتيا سره ورغلم او له مخه مې يې پرده پورته کړه ، پلار خندانه څيره لکه چې د تل په څير به موسک وو ، سترګې يې پټې کړې وې ، خوله يې پټه نيولې وه ، د نکل په وخت به يې چې له خولې تاوده تاوده اسويلې راوتل هغه راپه ياد شول ور ټيټ شوم او غوږ مې پرې ور ونيوه ، خو هيڅ هم نه وو يواځې يو ډول پروت وو نور مې نو طاقت نه کېده پرې ور وغورځېدم لاس مې ترې چاپير کړل او په زوره زوره مې ور ته په

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوکو پيل وکړ.

- پلار پورته ، پورته ، ولې دې يواځې پرېښودم ، پورته شه لا د ببلېدو نه يم پورته شه ، تر اوسه مې دې تاوده تاوده اسويلي خوږه موسکا او خبرې په زړه کې ژبغړاندې دي پورته شه ته او خدای پورته شه. های.

زړه مې له غمه چاودېده په مخ يې وپر بوتم دهغه مچې رايادې شوې چې ښه خبره به مې وکړه نرم به يې ځان ته ورنږدې کړم او په په تندي به يې ښکل کړم د مچې ځای به مې يې تر ډېره په تندي کې پاتې وو بيا به مې يې مخ ته وکتل او موسک به شو ، اوس يې په تندي ور پريوتم ښکل مې کړ.

- ته او خدای پورته شه ، يوځل مې بيا په تندي ښکل کړه ، يو بل نصيحت راته کړه او يوه کيسه راته ولوله ، پورته شه. مه ځه.

چا شاته کش کړم سوک مې ور خلاص کړ او له ځانه مې پورې واهه.

- ليرې شه ، ستا يې څه ، دا زما پلار وو ، ما يې مينه کتلې وه ، په ژوند يې چېرته وې ، چې دهغه مات زړګی به قلم قلم وو ، چې له خپګانه به يې ستونی پړسېدلی وو چې له زاريو به يې خوله وچه شوې وه ، چې له ستړيا به يې حلق وچ وو ، چې له ظلمه به يې زړه زره زره وو اوس درته په ياد شو ، هغه وخت چېرته وئ چې د زړه وينې يې خوراک وې ، له يوه زوی سره يې هم چا مينې ته نه پرېښود ، په دنيا يې ځای ورک وو ، له هره دره به ورټل شو په هره دروازه کې به سپک شو.

بيا مې ترې غېږه چاپيره کړه او په تندي مې ښکل کړ.

- پورته باباجانه ! ته وخدای پورته شه ، زه دې زړه وينم چې څو ځايه سوری سوری دی ، پورته شه اوس دنيا بدله شوې ده ، ټول خلک زما او ستا کور ته راغلي دي ، پورته شه نن يې ياد شوي يو ، پورته شه وګوره ، نن يې راباندې زړه سوځېدلی دی ، نن ورپه ياد شوي يو ، پورته شه باباجانه لږ څه ورته ووايه ، دوه کلمې ځواب ورکړه ، هغه ځواب ورکړه چې هره ورځ به دې يادا وه ، موږ هيچا ته اړ نه يو له

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدايه پرته له هيچا مرسته نه غواړو ، پورته باباجانه دا خبره چا نده اورېدلې نن يې ورته واوروه نن ورته ووايه چې تل مور په دغه کوټه کې يوائې وو نن موهم يوا ځې پر ېږدئ ، باباجا نه پور ته ، پورته بيا راسره دکان ته لاړ شه قلم په غوږ کې کېږده او ترښځ او مشترنګ راواخله ، پورته باباجانه باباجانه...

بيا چا له لاس ور ونيولم او له پلاره يې پورته کړم ، خلکو په غيږه کې ونيولم او له چېرکټه يې را دېخوا کړم ما بيا چيغه کړه.

- باباجانه وګوره ورته ، اوس مې در نه ېېلوي ، باباجانه وګوره ، په ټول ژوند کې چا درنه نه وم بېل کړی نن مې بېلوي ، باباجانه پور ته شه په خوا مې شه زور يې راباندې تير دی پورته باباجا نه ، يوا ځې يم ، يوائې مې مه پرېږده ، پورته باباجانه زړه مې چوي اوښکې مې له سترګو راروانې دي هيڅوک نشته چې پاکې يې کړي. پورته باباجانه سترګې مې سرې شوې باباجانه ته وخدای پور ته شه نور مې څوک نشته چې تسلي راکړي پورته شه زړه مې مات مات دی دا خلک يې نور هم ماتوي ، په زړه کې مې اور بل دی ، يوا ځې تادرک کولای شو پورته شه. پورته شه باباجانه زړه مې چوي ، داظالمان مو د کلو کلو مينه ماتوي ته ورته پروت يې يوځل لاس پرانيزه او سينې ته مې درنږدې کړه ، پورته باباجانه باباجانه.

نور نو په ځان نه وم خبر چې سترګې مې پورته کړې آمنې مې سر په غيږ کې نيولی وو ، سترګو ته مې يې وکتل اوښکو يې ګريوان لومد کړی وو او ښکته په ما راتوېيدلې.

- پلار څه شو ؟

آمنه ژړا واخيسته او سريې راباندې راکيښود په ژړا کې يې وويل.

- نور نو آرام شه ، ته او خدای نور آرام شه.

خو زه راپورته شوم ، په کوټه کې مې وکتل هيڅوک نه وو ، بهر مې وکتل په سرای کې خلک ښکارېدل رامنډه مې کړه.

- صبر صبر ، څه مو کړ ؟

له برنډې ښکته لويدلی وم نور نو په ځان نه وم خبر چې بيا مې سترګې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرانستلې ، په روغتون کې پروت وم ، آمنه مې سرته ولاړه وه او له ژړا يې سترګې سرې سرې کړې وې ، چې ما سترګې وغړولې له خوښۍ پورته شوه ، شاوخوا يې وکتل او راټيټه شوه په تندي يې ښکل کړم.

پنځلسم څپرکی

غم او هیله ، وروستۍ برخه:

د پلار غم مې زړه قلم قلم کړی وو ، په ناسته پاسته ، خوب او خوراک کې مې هغه سترګو ته نیغ ولاړ وو ، څو ورځې خو دکان ته پرله پسې ورتللم او سهار به مې په ژړا پیل وکړ تر ماښامه ، په کومو ځایونو چې هغه ګرځېدلی وو ، چېرته چې هغه کار کړی وو ، چېرته چې ویده شوی وو ، ټول ځایونه به مې هره ورځ له نظره تیرول ، دهغه جامې ، اسباب د نسوارو قوطی هر څه به مې چې کتل له ژړا به مې ورته کو که وکړه سر به راباندې وڅرخېده او بې هوښه به شوم.
پوهنتون ته راغلم او د زړه په وينو مې درس ته دوام ورکړ ، خو پلار مې داسې د ژوند په اړ اړ کې غځونې کړې وې چې هیڅ مې ترې ځان نه شو خلاصولای. کله به يې موسکنده قواره راته یاد شوه او کله به يې له نسوارو ډکه خوله ، خندا يې خوب يې ، هغه وختونه به مې يو يو له نظره تیر شو چې هر بېګا به خوا په خوا پراته وو او هغه به راډیو لګولې وه او چې خبرونه به ختم شول ماته به موسک شو.
درسونه هم سختېدل ، ډاکټر او خاله به هم په څو ورځې کې يو ځل حتماً راباندې ګرځېدل ، آمنه مې هم راپه یادېده چې د پلار د مرګ په ورځ يې راسره ژړلي وو ، سر مې يې په غېږ کې ایښی وو او اوښکې يې راسره تویولې ، په روغتون کې يې په داسې حال کې په تندي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکل کړم چې د پلار ښکولولو ته تږی وو ، نوره مې آرام آرام په زړه را ننوته او زړه ته مې يې لاره ميندله.
يوه ورځ ورغلم کورته يې ، ماخوستن تول سره ناست وو خو هغه نه وه ، ماته نه ډوډۍ خوند راکاوه او نه هم ناستي سبا ته يې پلار ، کامران او زرلښت وو تل يوا ځې زه ، خاله او هغه پاتې شو زه له خاله سره په کوټه کې ناست وم چې راننوته ، خاله يو ځل ماته وکتل بيا يې هغې ته وکتل هغې چای کيښود ماته يې وکتل او نور نو په پيالو اخته شوه ، ماتر نن ورځې پورې نه وو موسلي نه مې موسکا خولې ته راتله خو چې هغې ته مې وکتل په شونډو مې موسکا خپره شوه ،بيا مې پلار ياد شو او له ځانه مې بد راغلل.
آمنې خاله ته چای کيښود بيا يې ماته وکتل ، ډيره شېبه چوپ وه ، ما خاله ته وکتل ، پلار مې بيا سترګو ته نيغ دربدلی وو.
- خاله د پلار غم مې ژوند داسې نيم نيمګړی کړ.
خاله څه ونه ويل ، ډيره شېبه چوپ وه بيا د سترګو له کنجونو آمنې ته وکتل د هغې په سترګو کې اوښکې ښکارېدې ، زه حيران شوم داولې ؟ څه مې ونه ويل آمنې ته مې وويل.
- ولا مننه هغه ورځ مې دې ډيره مرسته وکړه.
آمنې سر پورته کړ ، سترګې يې له اوښکو ډکې وې ، خاله ته يې وکتل بيا يې ماته وکتل او په ژړغونې لهجه يې وويل.
- ستا له لاسه يې زما هم ملا ماته کړه.
زما وينښتان ځيږه شول ، زړه مې ودېږده ، خاله ته مې وکتل ، دهغې هم په سترګو کې اوښکې ګرځېدې بيا موسکه شوه ماته يې وکتل.
- چای وڅښه ، داز موږ آمنه هم ډيره د نرې زړه خاونده ده ، له غزني چې راغلو دوه مياشتې خو پرله پسې د شپې ټوله شپه زه ورته وينښه وم بس ژړل به يې.
- ولې ؟
امنې ته مې سترګې ونيوې ، ګوندې هغه ځواب راکړي. خو مور يې اسويلی وکړ او ويې ويل.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نه پوهيږم ، بس د شپې به په خوب كې راپورته شوه اپلتې به يې ويلې كله به يې ويل مايې زړه مات كړ خداى دې زما زړه مات كړي او كله به يې څه ويل كله څه ؟

زما زړه ودربېده ، ژړا راغله ، آمنې ته مې وكتل د هغې له سترګو نورې اوښكې راتويې شوې خاله ته يې وكتل بيا يې ماته وكتل.

- ته وخداى ما معاف كړه ، ما ستا په ګټه ليكلي وو ، ډيره پښېمانه يم ، ډيره.

ماته هم ژړا راغله ، خاله ماته وكتل. بيا آمنې ته ځير شوه.

- څه اپلتې وايې لوركې !د څه شي ليكلي ؟

ما خاله ته وكتل ، ډيره شېبه مې چرت ونيو بيا مې ورته ټوله كيسه وكړه ، آمنې هم خاله ته كتل او اوښكې يې تويولې ، ماهم خپله ژړا نشوه قابو كولاى ، خاله هم راسره وژړل.

عجيبه ژوند دى ؟ پلار به هم ماغوندې ماشوم وو ، ماغوندې به لوى شوى وي ، ماغوندې به يې ژوند كاوه ، هيلې به يې درلودې او ماغوندې به پرې سختۍ ، غمونه او خوښۍ ورغلې وي خو يوه ورځ يې سترګې پټې كړې ، نه يې اوس كومه نښانه شته او نه يې هم د ژوند تاوده او خواږه اسويلي بس په همدې فكرونو كې وم چې خاله وويل.

- خداى د خير كړي ، اسد جانه خپلو درسونو ته دې پام كوه ، آمنه هم لا وړه ده خداى مهربانه دى چې يوه ورځ به راشي چې تاسې دواړه د خوښۍ په جامو كې ووينم.

د خاله دا خبره عجيبه راته وبريښېده ، آمنې ته مې وكتل هغه موسكه شوه او د تل په څير يې سترګې تتې كړې ، پزه يې منجه كړه او خو له يې راته كږه كړه نوره نو پورته شوه او له كوټې ووته.

زما هم نور په زړه غنې ګډې شوې ، په اونۍ كې يو ځل حتماً د آمنې ليدلو ته ورتلم ، تر څو چې يوه ورځ و ټاكل شوه چې د ډاكټر په خپلو پيسو ماته د كوژدنې مراسم ونيسي ، دامې د ژوند يوه ترټولو خوښوونكې ورځ وه ، په جامو كې نه ځايېدم ، خود پلار ځاى خالي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ، نه په دسترخوان کې راسره وو نه هم په نورو خنداګانو او خوښیو کې.
هغه وخت هم تیر شو ، پوهنتون لا ډیر پاتې وو ، یوه ورځ ډاکټر را ته وویل چې د غزني کور خرڅ کړم د پلار دکان هم خرڅ کړم په کابل کې کور واخلم ما هم داسې وکړل ، خو له زړه مې یو خدای خبر وو چې په زړه کې مې څه تیربدل ؟
وختونه تیربدل تردې چې د پنځم سمستر په رخصتیو کې خاله او ډاکټر را ته وویل چې باید ستا سو واده وکړو ، زه وچ حیران شوم ، کور هم راته ډاکټر واخیست ، خو پیسې یې رابانديې شوې هغه د غزني د ستر کور پیسې ددغه کور د نیمایي قیمت هم نه شو ، څه سامانونه هم راته هغه واخیستل بله ورځ مو د واده تیاری ونیو ، ما درې میاشتې کېدې چې آمنه نه وه لېدلې ، لیدلو ته یې سخت تږی وم ، له ځانه سره مې ویل چې څومره فرق به یې کړی وي ؟
بله ورځ مو واده وکړ او بس نوی ژوند مو شروع کړ ، له هغې وروسته راته هره شپه آمنه یوه یوه کیسه لولي ، زما هم پوهنتون ختم شو ، او لوی بدلون خو بل دا وو چې سارا نړۍ ته سترګې رڼې کړې دي هغه زما او آمنې یوآځینۍ اولاد دی په ما هم ډیره ګرانه ده خو په هغې له مازیاته منلې ده اوس اوس پوهیږم چې زه چې په پلار دومره ګران وم چې مور به راسره څه کول ؟
بس نور نو خپل داستان همدلته ختموم ناوخته دی ، دخوب وخت دی آمنې نن راسره شخړه کړې وه څوشیبې وړاندې په خلا شوي یو او پرته له ما خوب هم نه ورځي.

ښاد او آباد اوسئ زړونه مو دخدای په مینه لبریز اوسه د مور او پلار له دعا او دهغوی له سپیڅلي خدمته مو خدای مه بې برخې کوه
پای
شهید مفتح ، هفت تیر د صدا او سیما میلمستون د شپږمې روژې د شپې یوه بجه او پنځه څلویښت دقیقې.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژباړن لنډه پیژندنه



نوم: عبدالله (الهام) جمالزی

دپلار نوم: الحاج مولوي عبدالسليم جمالزی

دزیږیدونیټه: ۱۳۶۶/۵/۲۵ یاد ۱۹۸۷ داګست ۱۷

دنده: ژورنالیستږاو ویاند

آثار:

1. هندي خالونه (لنډې کيسې )
2. انځورونه ( لنډې کيسې)
3. ګناه کبيره (پوليسي کيسې)
4. دويندويي فن ( څېړنه )
5. د ابراهيم ادهم په پلونو ( همدا اثر)
6. ريښتيا هم خلک خدمت ته اړتيا لري (يونليک )
7. ناچاپ: دوه ناولونه ، دوه د لنډو کيسې ټولګې
8. بيلابيلې ژباړې.

ويب پاڼه:

www.taand.com

د اړيکو پتې:

aalhamj@gmail.com
a.alhamj@yahoo.com
elham.jamalzai@hotmail.com

Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**